لیکوال: شیو کهرا
ژباړن: عبدالله عابد



# ویاړلی ژوند

ویاړمن اوسېدل تر ویاړل کېدو غوره دي

# ویاړلی ژوند

ویاړمن اوسېدل تر ویاړل کېدو غوره دي

لیکوال: **شیو کهرا**

ژباړن: **عبدالله عابد**

بسم الله الرحمن الرحیم

# ویاړلی ژوند

## ویاړمن اوسېدل تر ویاړل کېدو غوره دي


لیکوال: **شیو کهرا**

ژباړن: **عبدالله عابد**

تصحیح: **استاد شېر خان حساس**

ډیزاین چارې: **حسیب الرحمن ساحل**

خپرندوی: **اکسوس کتابپلورنځی**

چاپځی: **وایگل چاپ**

چاپ کال: **۱۳۹۷ / ۲۰۱۸**

ISBN: 978-9936-626-69-0

Aksos

**اکسوس کتابپلورنځی**

**کابل، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ**

0202 504 652, 0798 98 96 96

aksosbookstore@gmail.com

aksosbookstore.af

aksos book store

aksosbookstore



**ددې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

Scanned by CamScanner

# ډالۍ

پلار ته مې! چې د چارو تر سره کولو کې يې زړورتيا راښودلې.
ګرانې مور تـه مـې! چـې هـر کلـه پـه ژونـد کـې لوېـدلی يـم بېرتـه يې پورته کړی یم.

# لیکلړ

د ژباړن خبرې.......... ٦
سریزه.......... ٩
اعترافات.......... ١١
راځئ چې پیل یې کړو.......... ١٢
لومړی څپرکی
د ویاړ اصول.......... ١٥
اندونه او خیالونه.......... ١٥
دویم څپرکی
د بریاوو اساس.......... ٣٢
درېیم څپرکی
پیاوړې روحیه.......... ٤٧
زړورتیا او جرئت خپله لار پیدا کوي.......... ٤٧
څلور څپرکی
کرکتر او شهرت.......... ٦٧
پنځم څپرکی
سم او ناسم رهبران.......... ٨٣
شپږم څپرکی
رهبران تلپاتې وي.......... ١٠٣
اووم څپرکی
فساد.......... ١١٩
فساد په سیستم کې د پرازیت په څېر وي.......... ١١٩
اتم څپرکی
د ویاړ درس ورکول.......... ١٣٤

## نهم څپرکی

آزادي وړيا نه ترلاسه کېږي ........................ ۱۵۷
آزادي په قېمت ارزي ........................ ۱۵۷

## لسم څپرکی

عدالت ........................ ۱۷۱
په چارو کې رښتينولي ........................ ۱۷۱
يوولسم څپرکی ........................ ۱۸۶
د وياړ له پاسه وياړ ........................ ۱۸۶

# د ژباړن خبرې

ژوند یوه موضوع ده خو په ژوند کې ژوندي اوسېدل جلا خبره ده، هر انسان د یوه غوره او ویاړلي ژوند په لټه کې دی، خو هغه څه چې د همداسې یوه ژوند لامل کېږي د نړۍ ټولو انسانانو ترمنځ یو لړ عام او ګډ ارزښتونه دي چې پلي کېدو سره یې انسان پرې ویاړلی شي. دغه ارزښتونه په هر وخت او د نړۍ په هر ګوټ کې ثابت دي، ډېر داسې خلک شته چې دغو ارزښتونو ته ژمن دي او خپل ژوند کې یې عملي کوي او ځینې نور بیا ورته ژمن نه دي. په هر صورت، هغه څه چې زه غواړم دلته پرې رڼا واچوم هغه د کتاب منځ پانګه ده چې په ټوله کې د انسان په ژوند کې شته ارزښتونو باندې څرخي. خو وړاندې له دې چې په دې اړه خبره اوږده کړم اړینه ګڼم تر څو د کتاب لیکوال په اړه هم څو خبرې له لوستونکو سره شریکې کړم:

شیو کهړا د هندوستان هېواد وتلی لیکوال، روزونکی او د کاروبار یا سوداګرۍ د ودې په برخه کې د ځانګړي نظر خاوند دی. کهړا خلکو یا خپلو مخاطبانو ته خورا ژوندۍ خبرې او ژوندي پیغامونه لري. د نوموړي د کار بنه او منځپانګه په دې راټوله ده چې څرنګه خلکو او یا یو فرد ته د هغه په وجود کې شته وړتیاوې ورپه ګوته کړي او د کار او عمل ډګر دننه کېدو ته یې وهڅوي. د شیو کهړا مشورو او کړنو له برکته ډېر شمېر کمپنۍ په پښو درېدلې او کاروبارونو یې وده کړې ده. شیو کهړا ۱۴ کتابونه لیکلي دي چې پښتو ژبې ته تر اوسه دا د نوموړي دویم کتاب دی چې له انګلیسي- ژبې ژباړل کېږي، تر دې وړاندې

یا تـه گټـونکی یـې کتـاب د پښـتو پـه گـډون د نـړۍ تـر ۲۰ زیـاتو ژبـو تـه ژباړل "You Can Win" د کهرا
شوی او تر درې نیم میلیونه ټوکو څخه زیات پلورل شوی دی.

لفتانسـا، اچ پـي، مارسـیدیس، نسـلې، فلیـپ او ډېـرو نـورو لویـو کمپنیـو پـه نـړۍ کـې د کهـرا مشـورو تـه غـوږ ایښـی او د خپـل کاروبـار لا غوړولـو کـې یې ترې گټه پورته کړې ده.

د کهـرا هڅوونکـو او عمـلي وینـاوو څخـه د نـړۍ تـر ۲۰ زیـاتو هېوادونـو کـې د سـیمینارونو لـه لارې زرگونـه خلـک مسـتفید شـوي دي. گڼشـمېر ټلویزیـوني او راډیـویي خپرونـو کـې یـې برخـه اخیسـتې او خلکـو تـه یـې مشورې ورکړي دي.

د کهـرا شـعار یـا مشـهوره خـبره دا ده چـې وایـي: "**بریـالي کسـان یـا گټونکي متفـاوتې چـارې نـه تـرسره کـوي بلکـې چـارې پـه متفاوتـه بڼـه ترسره کوي!**"

په هـر صـورت، هغـه څـه چې پـه دې کتـاب کـې شیو کهـرا وربانـدې بحث کـړی کېـدلای شي پـه څـو برخـو ووېشـل شي. کتـاب لمړۍ برخـه کـې پـه ژونـد کـې رښـتینولۍ او د چـارو تـرسره کولـو کـې پـه زړورتیـا بحـث شـوی او دا موضـوع روښـانه شـوې چـې هغـه کسـان بـه مـوخې تـه رسـېږي چـې موخې تـه د رسېدو لپـاره پـر ځـان یـو څـه خطـر او زیـار مني. انسـاني غـوره کرکټر بله موضوع ده چې وربانډې رڼا اچول شوې ده.

کتـاب کـې رهـبرۍ پـه اړه هـم کـافي بحث شـوی، د رښـتیني یـا غـوره رهـبر او همدارنگـه د دروغجنـو یـا تـش پـه نامـه رهبرانـو ځانگړتیـاوې واضـح شـوې دي. د کتـاب وروسـتۍ برخـه بیـا داسـې ټـولنې پـه اړه خـبرو تـه ځانگړې شوې چې پـه کـې فسـاد شـته وي، لیکـوال پـه دې برخـه کـې پـه ټولنه کـې د شته فسـاد لاملونـه راسپړلي او لـه دې اړخـه ټـولنې پـه وړانـدې

شـته گوابښـونو بانـدې يـې ړڼـا اچـولې ده. د کتـاب بلـه ښـېگڼه دا ده چـې خینـې واقعیتونـه د خـوړو او پـه زړه پـورو حکـایتونو پـه ړڼا کـې تشر-يح شـوي دي. نـو پـه پـای کـې ځوانـانو پـه ځـانگړي توگـه د پوهنتـون زده کړيـالانو څخه هیله لـرم چې دا کتـاب پـه دقـت سره ولـولي، ډېـر داسـې څه پـه کـې شته چې کولای شي د دوی پر ژوند خورا مثبتې اغېزې پرې باسي.

عبدالله عابد

۱٤-۰۲-۲۰۱۸

## سریزه

که ټوله نړۍ ستاسو شي، چې پت او عزت ونه لرئ څه به یې کوئ؟
لکه څرنګه چې له نوم څخه یې ښکاري، دغه کتاب د ویاړلي او پتمن ژوند په اړه دی.

څرنګه چې د یو څه لیدل آسانه وي هماغسې یې له لاسه ورکول هم آسانه دي. مونږ باید دا خبره یقیني کړو، کومې پوښتنې چې مطرح کوو سمې دي. تر ټولو لویه بې خبري د بل له ناپوهۍ څخه بې خبري ده. دغه ډول بې خبري عذر نه شي ګڼل کېدای. ښایي ډېر خلک له لټۍ څخه وکړېږي. مسئولیت او اقدام کولو ته په لېوالتیا سره یو دي. له زړورتیا څخه د برخمن دریغ نیولو هدف د شک او زړه نا زړه توب د زیاتېدو پر ځای د ننګونو او ستونزو حل کول دي.

**دا څه ډول کتاب دی:**

دغه کتاب په حقیقت کې د لارې یوه نقشه ده. هغه لارې چارې تشریح کوي کوم چې د یوه ویاړلي ژوند لپاره تاسو ورته اړتیا لرئ، همدارنګه د ویاړلي ژوند په لور مو بیایي. دغه کتاب په یو مهذب او غوره چاپېریال کې تاسو ته غوره او سم لورى درپه ګوته کوي.

**د کتاب لوستلو په اړه:**

دغه کتاب د ټولو هغو مسایلو په اړه رڼا اچوي کوم چې په ورځني ژوند کې ورسره مخامخ یو. کتاب نه یوازې هغه ارزښتونه تشریح کوي کوم چې پرېکړه کول آسانه کوي، بلکې په هغو پرېکړو باندې رڼا اچوي کوم چې کولای شي راتلونکو نسلونو ته لوری ورکړي.
دغه کتاب ډېر په چټکۍ سره مه لولئ. په کراره یې ولولئ، د کتاب هره پاڼه چې لولئ څو ځله پرې فکر وکړئ. د خپل تېر وخت په اړه فکر وکړئ، که چېرې شونې وای چې خپل تېر وخت ته ستانه شئ آیا

هغه تصاميم به مو بيا تکرار کړي وای کوم چې پخوا مو نيولي دي؟ د کتاب لوستلو پر مهال مهم ټکي درسره نوټ کړئ او يا هغه ټکي چې ستاسو په ژوند کې ډېر مهم دي په نښه يې کړئ او له خپلو نږدې کسانو سره بحث پرې وکړئ.

**کاري پلان جوړ کړئ:**

په هره مفکوره باندې چې عمل ونه شي، مري. همدارنګه هغه پوهه چې کار ترې وانخيستل شي له لاسه وځي. ددغه کتاب هدف دا هم دی ځو وياړلي ژوند ته د رسېدو لپاره د کاري پلان په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

په کتاب کې ټول ياد شوي اصول په هېڅ يو ځانګړي هېواد، مذهب او يا کلتور پورې تړلي نه دي. په دغه کتاب کې ټول بيان شوي اصول عام او جهاني دي.

## اعترافات

د هرې چارې ترسره کېدل د يو شمېر کسانو په هڅو پورې اړه لري او ددغه کتاب بشپړېدل هم له دغې قاعدې څخه مستثنی نه دي. زه له خپلو لوړو او په ځانګړې توګه له خپلې مېرمنې څخه مننه کوم چې زغم او ملاتړ يې له ما سره مرسته وکړه څو دغه دنده سرته ورسوم. له خپلو کار کوونکو څخه مننه کوم چې په خپلو پرله پسې هڅو سره يې ددغه کتاب خپرېدل شوني کړل.

ټول هغه مثالونه او کيسې چې په دغه کتاب کې بيان شوي دي د ورځپاڼو، مجلو، نورو ويناوالو، د سيميناروڼو د ګډونوالو په څېر بېلابېلو مأخذونو څخه د تېرو ۲۵ کلونو په ترځ کې را اخيستل شوي دي. له بده مرغه تر ډېره حده د کيسو او مثالونو منابع او مأخذونه نه مشخص کېږي، چې په ځانګړې توګه ترې مننه وشي. ځکه زه له ټولو هغو کسانو څخه مننه کوم، چې نومونه يې را سره نشته، خو په دې برخه کې يې مرسته کړې ده. هره هڅه ددې لپاره شوې ده چې د کتاب محتوا لا ډېره بډايه شي او که په کومه برخه کې له موږ څخه په تېروتنې سره له کوم څه پاتې وي نو د کتاب په راتلونکو چاپونو کې به ورته ځای ورکړل شي خو دا به د هغو کسانو لطف وي کوم چې د ليکوال پام ور اړوي.

## راځئ چې پیل یې کړو

یو څوک چې د کومې کمپنۍ اجرائیه مدیر و کور ته راغی. بکس یې له ورقو او اسنادو ډک و او باید په کور کې یې هم د دفتر کارونه کړي وای. خو د هغه پنځه کلن زوی غوښتل چې لوبې ورسره وکړي. سړي خپل زوی ته وویل: "بچیه! د دفتر کارونه مې ډېر دي او له نورو شا ته پاتې یم. زه باید هغه خلاص کړم." زوی ورته وویل:"پلاره! کله چې زه په ښوونځي کې له نورو شا ته پاتې کېږم، نو له یو پخ ګروپ سره مې یوځای کوي، نو ستا دفتر دې هم تاسې په همداسې یو پخ ګروپ کې شامل کړي." پلار یې ځواب ورکړ: "نه زویه په کمپنیو او ادارو کې داسې څه شوني نه دي."خو سره له دې هم زوی په خپله خبره ولاړ و او له پلار څخه یې غوښتل چې لوبې ورسره وکړي. بالآخره پلار یې هوډ وکړ چې باید هلک په کوم څه بوخت کړي او دی خپل کار وکړي. د خپلو اسنادو او ورقو له بکس څخه یې یوه مجله راوایسته چې په یوه پاڼه کې یې د نړۍ انځور و، سړي دغه پاڼه څېرې څېرې کړه او له زوی څخه یې وغوښتل چې دغه ټوټې دې بېرته له یو بل سره سمې کړي او هر کله چې بېرته د نړۍ عکس ترې جوړ شو، هغه ته دې غبر کړي چې لوبې ورسره وکړي. سړی ډاډه و چې دغه کار څو ساعته وخت نیسي.. خو هلک پنځه دقیقې وروسته خپل پلار ته راغی او ویې ویل چې خپل کار یې خلاص کړ. پلار حیران شو ورغی چې وګوري هلک رښتیا خپل کار کړی؟ چې ګوري هلک څېرې شوې ټوټې ټولې په سمه توګه ترتیب کړي دي او د نړۍ انځور ترې جوړ شوی دی. پوښتنه یې ترې وکړه. زویه! دا دې څرنګه جوړ کړ؟ ما ته یې هم راوښیه. هلک ځواب ورکړ. پلار جانه ډېر په آسانه، ددغې پاڼې تر شا

چې تا ټوټې ټوټې کړه د یوه سړي عکس و. ما د هغه سړي عکس سم کړ، کله چې مې پاڼه په بل مخ کړه نړۍ خپله سمه شوې وه.

***همدا ډول د هر کار تر شا شته کس چې سم شي هغه کار په خپله سمېږي.***

«ویاړلی ژوند» یوازې په چارو کې د بریا ترلاسه کولو په مانا نه دی، بلکې په بریالیتوب سره د چارو پای ته رسول دي. ویاړ او ویاړلی ژوند څو اړخونه یا بعدونه لري او دغه ټول بعدونه له یو بل سره تړلي دي او همدارنګه له یو بل سره اړیکې لري. په یوه برخه کې کمزورتیا هم کولای شي چې ویاړلی ژوند مختل کړي. یوه ټولنه بل څه نه ده، بلکې یوازې د افرادو جوړښت یا ترکیب دی. هغه څه چې په ټولنه کې په عامه توګه ترسره کېږي هغه ته کلتور ویل کېږي. ځینې کلتورونه بیا شته چې د ویاړلي ژوند د رامنځته کولو په برخه کې تر نورو ډېر مؤثر دي. په دغه ډول کلتور لرونکو ټولنو کې باور او روښتیا د ټولنې د هوساینې او ښه والي لامل کېږي.

په عامه توګه کلتور د وګړو پر کړو وړو اغېزه کوي. ځینې وخت یو پیاوړی انسان له ورته کلتور څخه سر راپورته کوي او همدغه انسان دغه غوره کلتور په ټولنه کې تلپاتې کوي.

ددې لپاره چې مونږ ویاړلی ژوند ولرو باید لاندې دوه ټکي روښانه کړو:

- ویاړ- له عزت څخه برخمن ژوند کول دي.
- ویاړمن اوسېدل- د درناوي وړ اوسېدو په مانا دي.

ویاړلی ژوند د انساني احساس مستلزم دی. نو ددې لپاره چې مونږ ویاړلی ژوند ولرو باید موږ په لاندې ډول احساس ولرو:

۱- انصاف- چې د عدالت لامل کېږي.

۲- خواخوږي- چې د شفقت او مهربانۍ لامل کېږي.

۳ـ ربښتینولي- چې د باور او اعتماد رامنځته کېدو لامل کېږي.

پـورتني دربیـواړه تکـي هغـه مهـال پـلي کېـدای شي کلـه چـې پـه ټولنـه کـې یـو لیـدلوری شـته وي. یـو لیـدلوری لرونکـی کـس بایـد د ټـولنې لـه منځـه سر راپورته کړي څو ټولنه په سمه لار روانه وساتي.

د ویـاړلي ژونـد تـر ټولـو لویـه ګټـه داده چـې ژونـد تـه مانـا او مفهـوم وربښـي او پــه دې سره انســان د نېکمرغــی، خوشــالی او پــه ســمه توګــه د چــارو سرته رسولو احساس کوي چې همدا د ویاړلي ژوند وروستی هدف ده.

***راځئ چې د ویاړلي ژوند په لور په ګډه ګامونه اوچت کړو.***

# لومړی څپرکی

# د وياړ اصول

## اندونه او خيالونه

يو وخت يوه محاسب ته د يوې ښې دندې چې ښه تنخوا يې لرله، وړانديز وشو. ياده دنده کومه ناقانونه دنده نه وه، خو دغه سړی چندان ښه نه و. په فکر کې ډوب و چې څه وکړي ويې مني او که نه. د کمپنۍ مدير ته يې ووېل چې يوه ورځ وخت ورکړي چې خپل تصميم ونيسي-. کله چې په هغې شپه کور ته لاړ خپلې مور ته يې د دندې د شرايطو او په هغې کې يې د ډېرو پيسو د شتون په اړه ووېل. مور يې نالوستې وه. له دوو ساعتونو خبرو وروسته مور يې ورته ووېل: "زه هېڅ پوه نه شوم چې څه دې ووېل، خو يو څه چې زه درته وايم- هغه دا چې هر سهار چې ستا خونې ته درځم چې راويښ دې کړم گورم چې کلک ويده وې. ستا راويښول راته خورا ستونزمن وي. زه غواړم چې يوه ورځ ستا خونې ته درشم او ته دې ويښ يې. نو خپله تصميم ونيسه "په همدې خبرې سره مور له خونې ووتله. ځوان محاسب له ځان سره ووېل: "ځواب مې ترلاسه کړ."

ارزښتونه زمونږ په ژوند کې ذاتي دي. زمونږ د شخصيت وړتياوې او د باورونو رښتينوالی پياوړی کوي. مونږ ټول د ارزښتونو ساتلو او ودې ورکولو ته گومارل شوي يو.

## ارزښتونه عام او تلپاتې دي

واقعیتونـه د وخـت او کلنـی پـه بدلېـدو سره نـه بـدلېږي، ځینـې ارزښـتونه پـه عـام او تلپـاتې ډول حـک شـوي دي او دا راښـیي چـې څـه وکـړو او څـه ونـه کـړو. د نسـبي ارزښـتونو پـه اړه اوسـمهال انګېرنـه داده چـې: "هـر څـه سـم دي. هغه څه چې زمـا لـه انـده سـم دي ښـایي سـتا پـه انـد سـم نـه وي." کـه چېرې ارزښـتونه لـه یـو شـخص څخـه بـل شـخص تـه او یـا لـه یـوه وضـعیت څخـه بـل وضـعیت تـه بـدلون مـومي پـه حقیقـت کـې دغـه ارزښـتونه نـه دي. پـه سـاینس کـې مـونږ تیوریـو او قـوانین تـه ګـورو. پـه سـوداګریزه نـړۍ کـې بیا مـونږ لارښـودو اصـولو تـه ګـورو. نـو ولـې بیـا مـونږ عـامو او ګـډو ارزښـتونو ته ونه ګورو؟

پـه هـر مسـلک او برخـه کـې مـونږ د کیفیـت واضـح معیارونـه لـرو، خـو څرنګـه پـرې بریـالي کېـدای شـو؟ همدارنګـه کـه چېـرې مـونږ ګـډ او عـام ارزښـتونه ونـه لـرو څرنګـه هغـه ترلاسـه کـولای شـو؟ پوښـتنه داده چـې مـونږ څرنګـه کـولای شـو دغـه عـام معیارونـه او نښـې وټـاکو؟ پـه لانـدې کیسـه کې دغه موضوع روښانه شوې ده.

یـوه سـپین سرې ښـځه چـې د سـودا دوه کڅـوړې هـم ورسره وې، د سـړک پـر غـاړه بـس ګـاډي تـه پـه تمـه وه. لـه دغـې مېرمنـې څخـه څـو ګامـه وروسـته یـو پیـاوړی ځـوان ولاړ و. کلـه چـې بـس ګـاډی راغـی ښـځه ور پورتـه شـوه، هلـک هـم د ښـځې تـر شـا و. د مـوټر تـولې څـوکۍ ډکـې وې یـوازې د ګـاډي پـه آخـر سر کـې یـوه څـوکۍ تشـه وه، یـاده سـپین سرې هغـې خـوا ور روانـه شـوه، خـو ځـوان هلـک ټـوپ کـړ مېـرمن یـې پـه اوږه ووهلـه. د ښـځې کڅـوړې یـو خـوا وغورځېـدې او خپلـه هـم پـه خلکـو کـې ولوېـده. پـه بـس کـې ډېـر خلـک وو، د دوی پـه منځ کـې یـوه پوهـه او روڼ انـدې پېغلـه وه، هغـه د ځـوان هلـک اخلاقـو او چلنـد تـه حیرانـه وه. یـو بـل

حقوقپوه و، هغـه د يـادې پېښـې پـه ليـدو سره پـه دې فكـر كـې ډوب و چې بايـد ددې ډول چلنـد پـر وړانـدې يـو قـانون شـته وي. پـه دې مانـا چې دغـه سرې د قضيې قـانوني اړخ پـه پـام كې نيـوه. پـه بـس كـې د جراحـۍ ډاكټـر هـم حـاضر و، هغـه پـه دې فكـر كـې و چـې ښـايي د يـادې ښـځې د پښـتۍ درې هـډوكي مـات شـوي وي، يعنـې هغـه د خپـل مسـلك لـه اړخـه پېښې ته كتل. يـو ارواپـوه هـم پـه بـس كـې و. هغـه د خپـل مسلک او نظـر لـه مخـې پېښـه ارزولـه او پـه دې فكـر كـې و چـې ښـايي يـاد ځـوان رواني ستونزه لرلـه او پـه دې برخـه كـې بـه مرسـتې تـه اړتيـا لـري. دا پـه دې مانـا چې ځلـور واړو كسـانو د يـوې پېښـې پـه اړه ځلـور ډولـه ارزونـې او نظرونـه لرل. يوه يې لـه اخلاقـي نظـره پېښـې تـه كتـل، بلـې يـې د طبابـت لـه اړخـه، بـل لـه حقـوقي اړخـه او بـالآخره بـل لـه رواني اړخـه پېښـې تـه كتـل. خـو هېڅ يوه هـم دغـه پوښـتنه راپورتـه نـه كـړه چې آيا د هلـک دغـه كـار سـم و كـه ناسـم؟ ولـې مـونږ لـه ځـان څخـه دغـه پوښـتنه نـه كـوو؟ كلـه چـې مـونږ دغـه پوښـتنه رابرسـېره كـړو پـه حقيقـت كـې مـونږ قضـاوت كـوو. ولـې مـونږ لـه قضـاوت څخـه ځـان باسـو؟ كـه چېـرې زمـونږ د ارزښـتونو كـړۍ او سيستم روښانه وي قضاوت كوونكي پاتې كېدل څه ستونزه لري؟

ددې لپـاره چـې مـونږ د ارزښـتونو لپـاره عـامې قاعـدې رامنځتـه كـړو بايـد پـه لاندې پوښتنو باندې غور وكړو:

۱ــ آيـا يـاد هلـک بايـد لـه هغـې سـپين سرې ښـځې سره هغسـې چلنـد كـړى واى؟

۲ـ آيا يو بل څوک دې هم له نورو سره همداسې چلند وكړي؟

كـه دواړو پوښـتنو تـه ستاسـو ځـواب نـه، وي تاسـې د ارزښـتونو لپـاره عـامې قاعـدې پيـدا كـړې دي. همدغـه اصـول زمـونږ د ژونـد پـه ټولـو برخـو كـې صدق كوي.

ددې لپاره چې مونږ خپل ژوند ارزښتمن کړو بايد د سمو او ناسمو کړنو ترمنځ توپير وکړو. دا هغه پوهه نه ده چې زمونږ له پيدايښت سره دې يوځای زمونږ په وجود کې شته وي. دا هغه څه دي چې مونږ يې د وخت په تېرېدو او مخ تـه تللو سره زده کوو. د کورنۍ، ښوونځي او ټولنې په څېر بنسټونه په دې برخه کې له مونږ سره مرسته کوي. ياد بنسټونه مرسته کوي څو يو ماشوم ښه او غوره مشر۔ شي، يو ښه خاوند او يا يوه ښه مېرمن شي او يو ښه او غوره پلار يا مور شي. پياوړي او اوچت ارزښتونه پياوړې کورنۍ رامنځته کوي چې همدغه کورنۍ بيا د ټولنې شتمني ګڼل کېږي.

د بوسټون کالج استاد پيټر کريفټ په خپل کتاب Making Choices کې ليکلي، چې يو وخت يې په خپل ټولګي کې د ښځو په اړه يوه خبره وکړه او هغه داسې چې: "ښځې د ماتې لامل دي" نو ټولو اعتراض وکړ چې دا منصفانه خبره نه ده. نو کريفټ پوښتنه وکړه چې انصاف څوک تعريفوي؟ که چېرې انصاف د هر سړي له نظره يو جلا څيز وي په دې سره ګډ او عام ارزښتونه شتون نشي۔ لرلی. زده کوونکي به نشي۔ کولای چې خپل نظر يا ليد پر ښوونکي تحميل کړي او همدارنګه ښوونکی به نشي۔ کولای چې خپل ليد او نظر پر زده کوونکو تحميل کړي او که چېرې انصاف او عدالت ګډ او عام ارزښتونه وي په دې صورت کې به هغه غلط او تېروتنې وګڼل شي. له دې پرته ټول هغه څه چې زده کوونکو کولای شول دا وو چې د استاد د نظر پر وړاندې مخالفت او د هغه له خبرې او قانون څخه سرغړونه وکړي دا ځکه چې د هغوی شخصي ليد او نظر د هغه مخالف و.

په دې مثال کې خبره د چا د رول خوښول يا نه خوښول نه دي، بلکې خبره د انصاف او د هغه د منلو ده. هغه څه دي چې د قتل، ربړونې او

ظلـم پـه خبـر جرمونـو لامـل کېـږي؟ حقيقـت دادی چـې د ګـډو او عـامو ارزښتونو پـه توګـه د عـدل او انصاف پـه درک کولـو کـې پـاتې راتلـل د يـادو کړنـو لامـل کېـږي. کلـه چـې مـونږ د ارزښـتونو پـه اړه فکـر کـوو نـو بايـد لـه ځان څخـه پوښـتنه وکـړو چـې مـونږ د چـا د ارزښـتونو پـه اړه خـبرې کـوو؟ او مونږ څوک يـو چـې پـه دې اړه قضاوت کـوو؟ مـونږ د ګـډو، عـامو او تلپـاتې ارزښـتونو پـه اړه خـبرې کـوو چـې پـه بېلابېلـو هېوادونـو، ټولنـو او فرهنګونـو کـې يـو شـان دي. لکـه څرنګـه چـې مـونږ بايـد د عـامو او ګـډو قواعـدو لـه مخـې ژونـد وکـړو نـو بايـد قضـاوت مـو هـم عـام وي. لکـه څرنګـه چـې د موسـم پـه بدلېـدو سره حقيقـت نشي- بدلېـدای، پـه يـو حقيقـت بانـدې سـترګې پټـول هـم هغـه نشي- پټـولای. بريـاوې ژر تېرېـدونکې دي خـو ارزښتونه بيا برعکس تلپاتې دي.

**ژر تېرېدونکي ارزښتونه**

مونږ ډېری وخت اورو چـې خلـک پـه ټولنـه کـې د ارزښـتونو د پرېوتـو پـه اړه خـبرې او تبصرې کـوي. څرنګـه کېـدای شي چـې ارزښـتونه پـه ټولنـه کـې پرېـوځي مګـر داچـې مـونږ د ارزښـتونو يـوه درجـه ولـرو؟ کلـه چـې مـونږ معيارونـه پـوره کـولای نشـو دوه انتخابـه لـرو يـا بـه خپلـې هڅـې زيـاتوو څـو وکولای شـو معيارونـه پـوره کـړو او يـا بـه قواعـد راټيټـوو. خـو اوس پوښـتنه داده چـې ولـې يـو څـوک دې تـه حـاضر شي چـې د معيـارنو پـه راټيټولـو معامله وکړي؟ دا ځکـه چـې هغـوی راټيټېـدل د ژونـد يـوه بڼـه ګڼـي او فکـر کوي چې کـوم کـړاو چـې بايـد د معيـارونو د پـوره کولـو پـه برخـه کـې وزغمـي د هغـې بريـا ارزښـت نـه لـري چـې کـولای شي ترلاسـه يـې کـړي. هـر څومره چـې مـونږ پـر ارزښـتونو معاملـه کـوو نـو پـه هماغـومره خپلـه ټولنـه لـه ويجاړۍ او پرېوتـو سره مخـامخ کـوو. بيـا نـو د وخـت پـه تېرېـدو سره زمـونږ

لپاره زمونږ د کورنۍ راپرېوتل او زمونږ د سياسي او ټولنيز سيستم د راپرېوتلو موضوع هم مونږ ته د منلو وړ ګرځي.

**کله چې خلک غوره او سم ارزښتونه ونه لري، دوی څه کوي؟**

- خپلو کارکوونکو او مامورينو ته دروغ وايي.
- خپلو مشتريانو او همکارانو ته دروغ وايي.
- خپلو ماشومانو، مېرمن/خاوند ته دروغ وايي.

کله چې دوی کار ته راځي دوی ستاسو قلم او پنسل کور ته وړي. په کاري او رسمي وخت کې په شخصي- خبرو مصروف وي او خپلې شخصي- اړيکې پالي. آيا د همدې لپاره ورته تنخوا ورکول کېږي؟ که چېرې يو څوک ستاسو د پيسو بټوه درڅخه ووهي څه ورته وايئ؟ هو، هغه غل دی. که چېرې مونږ خپله دغسې کارونه کوو مونږ ته بايد څه وويل شي؟

پر خپلو ارزښتونو کلک باور زمونږ د اخلاقو د ويجاړېدو پر وړاندې يوه غوره دفاع ده. مونږ هره ورځ په خپل ژوند کې له بېلابېلو شرايطو او حالاتو سره مخ کېږو، چې زمونږ اخلاقي معيارونه آزمويل کېږي. کله چې کمزوري او خام کسان له دې ډول حالت سره مخ کېږي د خپلو ارزښتونو په سر معاملې ته حاضرېږي او دا په ځان باندې د هغوی د باور کمېدو لامل کېږي او بل ځل بيا لا ډېر په آسانۍ معاملې ته حاضرېږي. شخصي- ارزښتونه تر مسلکي هغو کوم توپير نه لري. تقوا او ګناه، لټي او زيار، رښتينولي او ريا هېڅکله له يو بل سره نه جمع کېږي. ددې لپاره چې مونږ په خپل ځان کې د وياړلي ژوند جذبه پيدا کړو بايد له خپلو ارزښتونو سره د پلورل کېدونکو توکو په څېر چلند ونه کړو، چې هر يوه ته يې بيه وټاکو. له ارزښتونو څخه ساتنه هم يو بهير دی او هم يو محصول يا لاسته راوړنه.

## استقرار

استقرار پـر ارزښـت ولاړ چلند دی. خـو پـه دې مانـا نـه دی چـې هـر وخت دې یـو ډول چلنـد تکـرار کـړي. پـه دې مانـا دی چـې لـه مشـابه شرایطـو سره دې یـو ډول چلنـد وشي. استـقرار بـاورمن کېـدل رامنځتـه کـوي. کـه یو څـوک لـه لسـو ورتـه حـالاتو سره لـس ډولـه بېلابېـل چلندونـه تـرسره کـړي دغـه کـس د نـامعلوم حالـت پـه لـور درومـي او د بـاور وړ هـم نـه وي. دا ډول کسـان کلـه پـه یـو فکـر او خیـال وي او کلـه هـم پـه بـل نـو ځکـه چنـدان بـاور هـم پـرې نشي- کېدای. پـه چلنـد کـې استـقرار د ارزښـتونو پـر وړانـدې د یـو انسـان احسـاس ښـکاره کـوي، د فکـر مغشـوش کېـدو مخـه نیسي- او وړانـدې لـه دې چـې کـوم تصـمیم ونیسـو لـه مـونږ سره مرسـته کوي څو سم او پر ځای تصمیم ونیسو.

## شخصیت

خپله شخصیت یو ویاړ دی. دا د څو ګونو ځانګړتیاوو یوه ټولګه ده چې د ارزښتونو ښوونکی دی. شخصیت خپله رښتینولي، اخلاق، کمال، زړورتیا او استقرار دی. شخصیت کوم توکی نه بلکې د ځانګړتیاوو ټولګه ده.

## رښتینولي

د یوه انسان رښتینولي د هغه له موقف او مسلک څخه نه شي اندازه کېدلای، بلکې د هغه له کړنو او اجراآتو څخه جوتېږي. رښتینولي د سم او ناسم ترمنځ یو غوڅ توپیر ښکاره کوي. یو هدف ته د رسېدو لپاره زړورتیا ته ضرورت دی. له لېوالتیا او ارادې څخه جوړه رښتینولي د ویاړلي ژوند لامل ګرځي.

***یو رښتینی سړی د یوه کسیز پوځ په څېر دی.***[1]

غوره رهبران په دې کلک باور لري چې رښتینولي د ژوند لاره وګرځوي.

ابراهام لېنکن یو خورا تکړه مدافع وکیل و، یو چا ترې وغوښتل چې قضیه یې مخ ته بوځي. کله چې سړي ورته ټوله قضیه تشریح کړه نو ابراهام لېنکن وویل: زه ستا په قضیه پوه شوم. له تخنیکي پلوه پیاوړې خو له اخلاقي پلوه کمزورې ده، زه یې منلی نشم. ځکه هر کله چې زه له قضیې څخه دفاع کوم له ځان سره به تل وایم چې "لېنکنه! ته دروغجن یې"، "لېنکنه! ته دروغجن یې" او زه به نشم کولای چې له خپل ځان سره ژوند وکړم.

په دې کیسه کې د لېنکن ناویل شوی پیغام خورا واضح دی. "زه خپل مسلکي وخت پلورم، کوم خو خپل وجدان نه خرڅوم." بیا هم دا خبره

---

[1]- سل دې ومره یو دې مه مره، یو د سلو سر دی- حساس

د تکرار وړ ده "زه خپل کاري وخت خرڅوم، یعنې د خپل مسلکي کار په بدل کې پیسې ترلاسه کوم خو خپل وجدان نه خرڅوم." رښتینولي د ډاډ احساس راژوندی کوي. کله چې یو څوک غواړي د دروغو له لارې ځان له ستونزو او کړاو څخه خلاص کړي په حقیقت کې خپلې ستونزې څو برابره کوي تر هغو چې داسې وخت راځي چې د بېرته را گرځېدو لار نه وي. خو یو څوک کولای شي چې له دغه وضعیت څخه د مخنیوي لپاره په ژوند کې رښتینولي خپله کړي.

هغه څوک چې پر ارزښتونو معامله کوي نه یوازې دا چې د ځان په وړاندې د نورو درناوی له لاسه ورکوي، بلکې تر هغه مهمه دا چې خپله د ځان په وړاندې خپل درناوی له لاسه ورکوي. هېڅ کومه بله جسمي یا دماغي ځانگړتیا نه شي کولای چې د رښتینولۍ نه شتون جبران کړي. تر ټولو غوره ارزښت چې یو انسان په بل کې پرې حساب کوي هغه رښتینولي ده. *"د یوې چارې د ترسره کولو لپاره له ځانه پوښتنه وکړئ چې که ټوله نړۍ تاسو ته گوري بیا به هم خپل کار ته دوام ورکړئ؟"* دغې پوښتنې ته ځواب د ارزښتونو په وړاندې ستاسو ژمنتیا په گوته کوي.

## رښتينولي زړورتيا غواړي

هوښياري او رښتينولي دواړه سره يوځای کېږي څو مونږ ته څواکمنتيا راوبښي څو وکولای شو له وياړه برخمن ژوند ولرو. هوښياري هغه وسيله ده چې له مونږ سره مرسته کوي څو زمونږ هڅې نتيجه ورکړي. په مناسب وخت کې له پوهې څخه کار اخيستل هوښياري ده. هوښياري هم له مغزو او هم له زړه څخه راټوکېږي.

## هوښياري زړورتيا ته لوړی ټاکي

د يوه شرکت مدير له خپل محاسب څخه وغوښتل چې د کوم جنس له حسابولو پرته د هغه د شمېر کره والی لاسليک کړي. خو محاسب دغه خبره نه منله. ځکه ددې خبرې منل مسئوليت په غاړه اخيستل دي. د محاسب سرغړونې مدير يې سخت په غوسه کړ. خو بالآخره داسې وخت زاورسېده چې سړی د پاڼو لاسليک کولو ته حاضر شو خو د هغه په وجود کې دننه داسې يو څه شته و چې هغه يې د جنس له شمېرلو مخکې د پاڼې لاسليک کولو ته نه پرېښوده ځکه مخکې له دې هم د کمپنۍ دغه مدير په درغلۍ مشهور و او بالآخره دغه کار يې ونه کړ. وروسته معلومه شوه چې د هغه جنس نيمايي برخه ورکه وه. که چېرې لاسليک يې کړی وای له لويې ستونزې سره به مخ شوی و.

د محاسب کړنه هم له اخلاقي پلوه پر ځای وه او هم يوه له هوښيارۍ برخمنه پرېکړه وه خو د هغه جرئت او زړورتيا بيا تر ټولو د ستاينې وړ ده. که چېرې محاسب لاسليک کړې وای ځان به يې په لويه ستونزه کې ښکېل کړی وای. بله ورځ د کمپنۍ لوړپوړي مشران له دې کاره خبر شول هغه سړي ته يې جايزه او رتبه ورکړه.

سره له دې چې يو څوک ويني چې په يو کار کې غلطي شته خو سره له دې هم هغه کار کوي دا د هغه په وجود کې د باور د کموالي نښه

ده. يادې کيسې دا راوښوده چې يوازې ښه او غوره هيله کافي نه ده. مونږ د خپلو ځانونو په اړه د خپل نيتونو پر بنسټ قضاوت کوو خو خلک بيا زمونږ په اړه زمونږ د کړنو پر بنسټ قضاوت کوي.
په انجيل کې راغلي دي: "د دوزخ په لور تللې لار [له عمل پرته] د ښو هيلو لرلو هواره کړې ده."

**ښې هيلې بايد عملي ښه خپله کړي**

تر ډېره مونږ ارزښتونه د واقعيتونو په توګه نه خپلوو، بلکې له خپل پلار، مور او يا له نورو هغو کسانو څخه يې خپلوو کوم چې په ژوند کې زمونږ لپاره ايډيال دي. پورته ټولې خبرې او درسونه له مونږ سره مرسته کوي چې خپل ژوند ښه کړو. د مشرانو په توګه، کوم انتخابونه چې مونږ کوو په حقيقت کې هغو ارزښتونو پورې تړلي دي کوم چې مونږ په کوچنيوالي کې زده کړي دي. همدغه ارزښتونه مونږ ته داسې يو لوری ټاکي چې له مخې يې د سم او ناسم ترمنځ توپير وکړو.

**رښتینولي که چل**

یو سړی د مرگ په بستر کې پروت و، په همدې وخت کې یې خدای ج ته دعا وکړه چې که هغه روغ شو نو خپل یو ښکلی کور به خرڅوي او پیسې به یې پر بې وزلو وېشي.- معجزه وشوه، ناروغ سړی رک روغ او بېرته خپل حالت ته ور وگرځېد. ده خپله سړي ته خپله کړې ژمنه ور یاده شوه. په دې سره یې ځان ته یوه لار جوړه کړه. هغه اعلان وکړ چې خپل کور خرڅوي او د کور قېمت یې هم د سپینو زرو څو سیکې دي. خو د کور په خرڅلاو کې یې یو شرط هم کېښود او هغه دا چې هر څوک چې دغه کور اخلي باید هغه سپی چې پکې تړلی دی هغه هم واخلي. خو سپی به په یو میلیون ډالرو اخلي. یو پېرودونکی ژر راپیدا شو او کور یې واخیست. سړي یو میلیون ډالر په خپل جېب کې کېښودل او د سپینو زرو څو سیکې یې خیرات کړې.

مونږ څه کوو؟ د رښتینولۍ اصلي آزموینه په چل تېروو. په یاده کیسې کې سړي خپله ژمنه عملي کړه او هغه داسې چې هغه څه چې یې ویلي وو، ویې کړل خو له اخلاقي پلوه یې سرغړونه وکړه. کله چې زمونږ وجدان پر مونږ غږ کوي ځان تېر باسوو.

**د رښتینولۍ او امانتدارۍ ترمنځ څه توپیر دی**

رښتینولي یو ارزښت دی، په داسې حال کې چې رښتیا او دروغ کله کله د یوه عادت په توگه هم رابرسېره کېږي. ځینې خلک تل رښتیا وایي، خو کله چې د لومړي ځل لپاره دروغ وایي په خپلو دروغو کې گیرېږي. ځینې خلک ډېرى وخت دروغ وایي کله چې د لومړي ځل لپاره رښتیا ووایي مخاطب پرې پوهېږي چې خبره یې رښتیا ده. یو څوک ښایي رښتینی وي خو په رښتیا ولاړ نه وي. یوه ښوونکي له خپل زده کوونکي پوښتنه وکړه: "که د پیسو یوه بټوه په لار کې پیدا کړې

څه به ورسره وکړي. "هلک ځواب ورکړ: "صیب که چا ونه لیدم جېب ته یې اچوم." ښوونکي وویل: بچیه ته رښتیا وایې، خو رښتینولي درکې نشته. برعکس هم کېدای شي. ښایي یو څوک خورا صادق او امانتکار وي خو ښایي رښتیا ونه وایي. د بېلگې په توگه کله چې نژادي تاوتریخوالی رامنځته کېږي یوه غوسه ناکه ډله پر بې گناه خلکو برید کوي، که یو څوک هغوی ته پناه ورکوي او وایي چې دلته څوک نشته له یوې خوا یې دروغ وویل خو له بلې خوا بیا د یوه ارزښت په توگه یې د انسانانو له ژوند ژغورلو سره خپل صداقت او ژمنتیا وښودله.

ځینې په دې اند دي چې رښتینولي یوه پالیسي- ده؟ آیا په رښتیا همداسې ده؟ کله چې رښتینولي د یوې پالیسۍ په توگه کارول کېږي په حقیقت کې د یوه کارت حیثیت غوره کوي. کله چې دې په کار وي نو له جېبه یې راباسې او کله چې دې په کار نه وي نو بېرته یې ږدې. کله چې رښتینولي یوازې د بل چا د قناعت حاصلولو لپاره وي نو دا ډول رښتینولي نور یوه غوره ځانگړتیا نه بلکې یو عادت دی.

**رښتینولي او نه رښتینولي دواړه کسبي ځانگړتیاوې دي.**

رښتینولي او نه رښتینولي د نېکمرغۍ او بدمرغۍ منحصر- کوونکي نه دي. د رښتینولۍ نه شتون پر ځان د باور له نه شتون څخه سرچینه اخلي. رښتینولي په یوه غوره او سمې چاره کې د ښکېل کېدو او د هغې چارې د ترسره کولو له هیلې لرلو څخه سرچینه اخلي. ځینې خلک په دې باور دي چې رښتینولي انسان قیدوي. خو خبره برعکس ده، رښتینولي انسان آزادوي، له دروغو څخه یې آزادوي او داسې یو چاپېریال رامنځته کوي چې په هغه کې په آزاده توگه خبرې اترې کېدای شي.

**رښتینولي دده خپله بدله ده**

یوه چا کلونه له یوه انجنیر سره چې ښکلي کورونه او مانۍ یې جوړولې کار وکړ. یو وخت انجنیر کوم خوا په سفر روان و. خپل دغه کس ته چې خورا باوري کس یې و لارښوونه یې ورته وکړه چې له سفر څخه د هغه تر بېرته راګرځېدو پورې دې یو تر ټولو ښکلی او قیمتي کور جوړ کړي. تر ټولو اصل او قیمتي مواد دې پکې وکاروي.

د انجنیر منشي- له ځان سره فکر وکړ چې کلونه دې کار وکړ خو وړې دې شرې نه شوې، راځه همدا دې وخت دی چې باید ځان د یو څه ښبتن کړې. په تعمیر کې یې د تر ټولو کم اصلو او ناسمو مواد کارول پیل کړل، نورې پیسې یې ځان ته وهلې. بالآخره کور جوړ شو چې له ورایه ډېر ښه ښکارېده. انجنیر چې بېرته له سفر څخه راستون شو خپل منشي- ته یې وویل: کور دې څنګه کړ؟ منشي- ځواب ورکړ. صیب ډېر ښکلی کور مې جوړ کړ چې ساری نه لري. انجنیر ورته وویل: دغه کور زما له خوا له ما سره ستا د کلونو کار او زیار په بدل کې تا ته ډالۍ دی.

ددغې کیسې اخلاقي نتیجه څه ده؟

- تل خپلې چارې په رښتینولۍ سره ترسره کوئ ان که څوک تاسې څاري هم نه.
- خپل فردي اخلاقي معیارونه لوړ کړئ.

دا چې د انجنیر منشي- پوهېده چې دغه کور به دده کېږي که نه دا بېله خبره ده، خو پوښتنه داده چې آیا رښتینولي باید د وضعیت او شرایطو پر بنسټ وي؟

رښتیا د اعتماد او عدالت یو شرط دی. څرنګه شوني ده چې مونږ دې په ملګرتیا، ګډ ژوند او نورو برخو کې غوره او وياړلې اړیکې ولرو. په

داسې حال کې چې یو پر بل باندې اعتماد او باور ونه لرو؟ ځواب دادی چې نه یې شو لرلی.

***له احساسي پلوه د ژمنتیا او رښتینولۍ نه شتون فرد او ټولنه کمزورې کوي.***

شخصیت لرونکي خلک د اعتبار وړ دي او هغوی خپل نوم او نښان ته د یوه ارزښت په سترګه ګوري. دا ډول خلک پوهېږي چې نه له هر څه پوره دي او نه هم له سهوې او خطا خالي دي او د خپلو تېروتنو له منلو څخه هم کومه وېره نه لري. هغه کسان چې د باور وړ نه دي د هغوی له نورو منفي ځانګړتیاوو سره سره صمیمیت هم نه لري. اعتبار د زور له لارې نه ترلاسه کېږي او نه هم په پیسو پېرودل کېدای شي، بلکې د رښتینولۍ او امانتدارۍ له لارې زده کېږي. له هغو کسانو سره مخامخ کېدل چې روښانه او رښتینې وجدان لري انسان ته د آرامۍ احساس ښښي. ځکه رښتینولي باور او اعتماد رامنځته کوي.

# عملي پلان

د یوه عملي پلان لپاره لږ زیات ولاړ شه...

# د ځان ارزوني پاڼه

# دویم څپرکی
# د بریاوو اساس

**عناصر له مرکب څخه ډېر خوندور نه دي.**

د یوه جراح ډاکټر د لور واده و، دغه ډاکټر ته ددغې ورځې مهم والی معلومه خبره ده. د ناوې د پلار په توګه یې ځانګړې جامې په اغوستې وې او مېلمنو ته یې ښه راغلاست وایه. ناڅاپه ټلیفون ته یې له روغتون څخه زنګ راغی، کله چې یې ټلیفون غوږ ته کړ، ورته وویل شول: "له یوې ترافیکي پېښې څخه یو ټپي راوړل شوی دی، وینه یې ډېره ضایع کړې ده او وضعیت یې ښه نه دی. مونږ هڅه وکړه چې یو بل ډاکټر راوغواړو خو بریالي نه شوو او که ته رانشې نو ټپي خپل ژوند له لاسه ورکوي." د ناوې پلار څه وکړل. هو! روغتون ته لاړ. خو آیا دا په دې مانا ده چې لور یې ورته ګرانه نه وه؟ هېڅکله نه.

***کله چې زمونږ د ارزښتونو سیستم روښانه وي تصمیم نیول راته خورا آسانېږي ان که ډېر سخت تصمیم هم وي.***

**د اخلاقو اصول**

اخلاقي اصول د لوړو اخلاقي ارزښتونو پر وړاندې ژمنتیا او د ښو او بدو ترمنځ توپیر کول دي. اخلاقي اصولو ته ژمن خلک خورا باریک بین او رښتیني دي. دا ډول خلک په خپل چلند کې معیارونه په پام کې نیسي- او د خپل شاوخوا کسانو درناوی او اعتماد په پام کې نیسي-، ان ځینې وخت یې که په خپل زیان هم وي. هېڅکله د مادیاتو لپاره له خپلو اصولو هاخوا پښه نه ږدي.

اخلاقي اصول زموږ لپاره د هغې هوا په څېر مهم دي کوم چې تنفس کوو يې. هوا زموږ د ژوند لپاره خورا مهم شيز دی، خو هېڅکله زموږ پام ورته نه وي تر هغو چې په تنفس کولو کې له ستونزې سره مخ شو. همدا ډول موږ د اخلاقي اصولو پر اساس او د شته چلند پر بنسټ مخ ته ځو تر هغو چې زموږ له ژوند څخه ځي او موږ له اخلاقي اصولو پرته چلند قرباني کېږو.

موږ ټول بايد د سمو کړنو د ترسره کولو هيله ولرو. د سمو او غوره کړنو ترسره کول پر ځان باور زياتوي. اخلاقي اصول او د پلي کولو څرنګوالی يې زموږ ژوند ته مانا او مفهوم وربښي. روښانه ارزښتونه له اخلاقي اصولو سره د سمو تصاميمو لامل کېږي. په ژوند کې د ښه او بد ترمنځ تصميم آسانه دی، خو د ښه او ډېر ښه ترمنځ تصميم خورا سخت دی. د ښه او ډېر ښه ترمنځ تصميم په اتومات ډول ډېر ښه مناسب او ښه نامناسب ثابتوي.

## وجدان

يو غل و چې د غلا له لارې يې ډېره شتمني راټوله کړې وه. يوه ورځ يوه ښوونکي ته ورغی چې خورا ښه او باشخصيته سړی و. هغه ته يې وويل: "د ښه زيات دولت او شتمنۍ څښتن يم. ۵۰۰ غله مې ترلاسه لاندې دي، چې هر څه ورته ووايم خبره مې مني، خو له دې ټولو سره سره په ژوند کې کمی احساسوم. څرنګه کولای شم خوښ واوسم؟"

ښوونکي غل د يوې غونډۍ بېخ ته بوته او درې ډبرې يې وروښودې چې بايد راپورته يې کړي، په ده پسې روان شي او د غونډۍ سرته يې ولېږدوي. غل په خورا سختۍ لږ څه مخ ته لاړ او بيا يې وويل: "په دومره درونډ بار سره ښوونکي پسې نه شې رسېدای." ښوونکي ورته وويل: يوه ډبره ايسته وغورځوه. لږ چې نور وړاندې لاړ نو د دوه ډبرو

لېږدول هم ورته ستونزمن شول. نو ښوونکي ورته وویل: یوه بله یې هم ایسته ورغورځوه. بالآخره وروستۍ ډبره یې هم لېږدولی نه شوای. ښوونکي ورته وویل چې هغه هم ایسته وغورځوي. کله چې یې درېواړه ډبرې وغورځولې په ښوونکي پسې سم ښغ روان شو. په دې وخت کې ښوونکي ورته وویل: "له سمې او غوره لارې څخه منحرف کېدل د یو بدمرغه وجدان رامنځته کېدو لامل کېږي. لکه څرنګه چې ته د تېرو له بار سره ونه توانېدې چې د غونډۍ سر ته وخېژې همداسې په ټول ژوند کې په ناوړه او بدمرغه وجدان لرلو سره نه شې کولای خوښي ترلاسه کړې."

څومره پر ځای. هر کله چې مونږ د خپلو ارزښتونو پر خلاف حرکت کوو زمونږ وجدان درنېږي، د فشار کچه لوړېږي. د داډ نه شتون رامنځته کېږي. د اوږد مهال لپاره په وجدان باندې کرښه راکاږل له انسان څخه د هغې ډبرې په څېر یو مړ توکی جوړوي چې په کیسه کې ترې یادونه وشوه او ژوند د انسان لپاره یو دروند پېټی ګرځي.

## وجدان او اخلاق یوځای پرمخ ځي

یوه ښوونکي له خپل ټولګي څخه آزموینه اخیستله. کله چې ښوونکي د صحیح ځوابونو په ویلو پیل وکړ، یو زده کوونکي یو بل لاندینی ځواب په نښه کړ. هغه داسې وانګېرله چې ښوونکی فکر وکړي چې هغه خپله همدغه ځواب سم ګڼلی دی. زده کوونکي لاس پورته کړ او له ښوونکي څخه یې پوښتنه وکړه. د هغو پوښتنو په اړه څه وکړو چې ځوابونه یې بدل شوي دي، یعنې د یوې پوښتنې سم ځواب د بلې هغې لپاره په نښه شوی دی، په داسې حال کې چې ښوونکی د سمو ځوابونو په ویلو بوخت و ځواب یې ورکړ. "خپل وجدان ته ووایه چې لارښوونه درته وکړي."

وجـدان د يــوې کړنــې اداره کــول دي. دا نــه يــوازې لاره او لــوری دی، بلکې يـو مـانع او دافـع هـم دی. وجـدان يـو داسـې څـراغ دی چې د ښـو کړنو ترسره کولو تـه مـو هڅـوي هغـه هـم يـوازې ددې لپـاره چې ښـې کړنـې ښې دي.

***يو هغـه څيـز چې [ځينـې خلـک يـې ظـالم هـم ګنـي] او زه يـې پـه دې نـړۍ کـې مـنم او درنـاوی ورتـه لـرم هغـه پـه وجـود کـې دننـه غـږ [وجدان] دی.***

***مهاتما ګاندي***

## وفاداري

د هنـد يـوه پخـوانۍ کيسـه ده. پاچـا يوډهيسـټر پـه زړورتيـا سره اوږد عمـر وکـړ او بـالآخره تصـميم يـې ونيـوه چې پـه ځمکـه کـې د کـافي وخـت پـه تېرولـو سره اوس د جنـت پـه لـور روان شي. د هغـه مېرمنـې، ډراو پـاډې او څلور ورونه يـې هـم لـه ده سره مله شـول. يو سپی هـم پـه خـورا ژمنتيـا سره لـه دوی سره مـل شـو. سـفر خـورا اوږد او سـتونزمن و. خـو يـو وخـت پاچـا يوډهيسـټر د جنـت دروازې تــه ورسـېده. مېـرمن او ورونـه يـې د لارې پـه اوږدو کـې لـه پښـو پـاتې شـوي وو، خـو خپلـه پاچـا لـه خپلـې کـورنۍ څخـه پرتـه جنت تـه دننـه کېـدل ونـه منـل، خـو وروسـته معلومـه شوه چې د هغـه ورونـه او مېـرمن لـه وړانـدې جنـت تـه ننووتي ول. پاچـا يوډهيسـټر جنـت تـه د ننوتلو پـه حـال کې و چې پـوه شـو چې سپي تـه يې اجازه نـه ده ورکـړل شـوې چې دننـه شي. پـه دې وخـت کـې پاچـا ونـه غوښـتل لـه يـو داسـې مخلوق څخـه وتښـتي کـوم چې لـه هغـه سره يـې وفـا کـړې وه. چا بـاور نـه شـوای کـولای چې پاچـا دې يـوازې د يـوه سـپي پـه خـاطر جنـت تـه لـه ننوتلـو څخـه ډډه وکـړي. کلـه چې لـه پاچـا پوښـتنه وشـوه ځـواب يـې ورکـړ: نشي- کـولای لـه داسـې يـو سـپي سر خيانـت وکـړي چې پـه ټولـه لار کـې

یې له هغه سره رښتینې ملتیا کړې ده. هو هغه کوم عادي سپی نه و، بلکې خپله Dharma[۲] و چې غوښتل یې پاچا هیستر وآزمايي.

**وفاداري، وفاداري زېږوي**

وفاداري د پیاوړي وجدان نښه ده. هغسې چې د یوې ونې قوت او ځواکمنتیا د هغې په ریښو پورې تړلې ده. وفاداري انسان د قرباني ورکولو لپاره د چمتووالي په لور بولي. وفاداري هغه څه ده چې هر څوک یې له خپلې مېرمنې یا خاوند، کورنۍ ملګرو، آمر او مادون څخه تمه لري. وفاداري په ټولو اړیکو کې د مالکیت احساس رامنځته کوي. ددې تر څنګ چې وفاداري د فکر کولو بڼه ده یو عمل هم دی.

د څه شي پر وړاندې مونږ د وفادارۍ پوروړي یو؟ مونږ خپلو ارزښتونو ته وفاداره یو. له هغه انفرادي اداره یا سازمان سره چې د یو چا ارزښتونه ورسره سمون نه خوري نشي- کولای چې هلته کار وکړي. یا به د خپلو ارزښتونو سیستم بدلوو او یا به سازمان. ان که په یوې کورنۍ کې هم ګډ ارزښتونه شتون ونه لري ګډ ژوند نشي- کېدای. یا به د خپلو ارزښتونو په سیستم کې بدلون راولو یا به په کورنۍ کې. انفرادي اداره او سازمانونه له منځه تلونکي دي خو پر ارزښتونو ولاړ اصول تلپاتې دي.

له لسو جدي سپارښتنو څینې یې چې تر ټولو مهمې دي په دې ډول دي:

- غلا مه کوه.
- دوکه مه کوه.

---

۲- ډهرما د هندي ادیانو د پیروانو په باور هغه څه دي چې په ډېرې چارو باندې تصرف لري.

- په دروغو شاهدي مه ورکوه.
- د خپل مور او پلار درناوی کوه.

په نړۍ والـه کچـه د یـادو سپارښـتنو د منـل کېـدو مانـا داده، چې پـه ټولـو فرهنګونو، تمدنونو او تاریخ کې ورته درناوی کېږي.

**توجیه کول**

ځیني خلک فکـر کـوي چې غـلا دا نـه ده چې لـه داسـې یـو ځا څخـه غـلا وشي چې هغـه پـرې خـبر نشي- او یـا ډېـر زیـات څـه لـري. خـو نـه، خـبره داسـې نـه ده، بلکـې لـه اجـازې پرتـه د یـو څیـز اخیسـتل ان کـه چېـرې مخکـې لـه دې چې ځښـتن یـې خبرېـږي هغـه بېرتـه پـه خپـل ځـای کـې کېښـودل هـم شي، غـلا ده. د غـلاو توجیـه کـول د فکـر لـه هغـې بڼـې څخـه را پیـدا کېږي، چې ځینـې کسـان غـواړي پـه دې سره لـه تاسـو ګټـه پورتـه کـړي او یـا د غـلا پـه لار کې تـا تـه خـدمت وکـړي. دا معموله خـبره ده چې ځینـې خلـک د نـورو خلکـو څیزونـه لـه ځـان سره سـاتي او بیـا توجیهات هم ورته پیدا کوي.

یـو وخـت مـې لـه د خـوراکي توکـو لـه پلـورنځي څخـه د ږیـرې خرېیلـو یـو کـارتن پـتري[۳] پـه ۷,۹۵ ډالـرو وپېـرل. کلـه چې مـې وغوښـتل د مغـازې د محاسـب پیسـې ورکـړم هغـه راتـه وویـل چې د پـتري قېمـت ۱۱,۹۵ ډالـره دی. مـا ورتـه وویـل: لـه کـوم ځـای څخـه چې مـې راواخیسـتلې هلتـه خـو قېمـت یـې ۷,۹۵ ډالـره لیکـل شـوی و. پـه دې وخـت کـې محاسـب د مغـازې مـدیر راوغوښـت څـو خـبره حـل کـړي. مـدیر لـه رانـه پوښـتنه وکـړه چې هغـه الماری ورونبـیم چې هلتـه دغـه کـارتن ایښـی و او مـا لـه هغـه ځـای څخـه کـارتن راخیسـتی و. کلـه چې المـاری یـې ولیـده چې ۷,۹۵

---

۳- پل

ډالره پرې ليکل شوي دي مدير وويل: دلته له مونږ څخه تېروتنه شوې ده اصلي قيمت يې ۱۱,۹۵ ډالره دی. زه هم پوه شوم چې دوی تېروتي او اصلي قيمت يې ۱۱,۹۵ ډالره ده نو ما هم وغوښتل چې همدغه قيمت پرې کړم، خو هغوی ويل: نه، له تا څخه هماغه ۷,۹۵ ډالره اخلو ځکه چې تېروتنه زمونږ وه.

په هر صورت کله چې مې دغه کيسه په يو ځای کې وکړه پوهېږئ چې لومړنی غبرگون څه و. يو تن وويل: بس "کله چې مغازې ته لاړم يو قيمتي څيز د يو ارزانه څيز پر ځای ږدم او د مغازې محاسب ته وايم چې دادی دلته خو ځينو خلکو يو څه په واک کې لرل له خپل ملکيت گڼلو سره يو شان گڼي. يو څه چې ستا په واک کې دي په دې مانا نه ده چې هغه دې ستا وي. د پېر او پلور پر مهال يو چا ته په تېروتنې سره د زياتو پيسو ورکول يا کله چې په يو هوټل کې د هوټلي پام نه وي چې له چا نه پيسې واخلي هم په يو ډول توجيه کېږي. همدا ډول کله چې يوه نجلۍ وايي دوکاندار ورته د يوه کميس پر ځای په تېروتنې سره دوه کميسونه ورکړي دي نو د هېڅ ډول مکلفيت احساس نه کوي. هغه فکر کوي چې دا خو د دوکاندار تېروتنه وه نه دا چې دغه هم يوه ناسمه توجيه ده.

غلا يوازې دا نه ده چې يو څوک دې يو شی چې فزيکي وجود لري له بل چا څخه پټ کړي، بلکې د خپل مدير او د هغه د کمپنۍ رازونه د هغه له سيالې کمپنۍ سره شريکول هم غلا ده.

دروغ سوداگريز اعلانونه هم غلا ده. ددې ترڅنگ اختلاس، د دفتر وسايل په پټه کور ته وړل هم د غلاوو نور ډولونه دي. په دفتر کې خپل شخصي کارونه مخ ته وړل هم غلا ده.

کله چې یو غل نه پېژندل کېږي دا په دې مانا نه ده چې هغه کوم مسئولیت نه لري او معاف شو.

که یو څه دې په قانوني توګه ترلاسه کړي نه وي یا دې پېرلي نه وي یا له چا نه په میراث درته پاتې نه وي او یا چا درته په ډالۍ کې نه وي درکړي نو هغه باید بېرته ورکړې ځکه هغه ستا نه دي.

د پور او غلا ترمنځ توپیر دا دی چې د پور په مسئله کې د یو شي څښتن باید خبر وي او په غلا کې بیا هغه خبره نه وي.

آیا دغه ویاړلی ژوند دی؟ کېدای شي چې مونږ دې یوازې له خپلو توجیهاتو سره ژوند وکړو؟

ددغه شي قیمت دومره لیکل شوی دی. په دې سره یې زه پیسې نه ورکوم.″ آیا دا سم کار دی؟ آیا پوهېدئ؟

**فکري ثبات**

کله چې ستاسو یو ملګری ناروغ شي آیا تاسې به یو داسې ډاکټر ورته وګورئ چې هغه د ښه شخصیت خاوند وي، اصولي او ژمن وي یا داسې یو ډاکټر چې له علمي پلوه لومړني ډاګټر ته ورته وي خو یادې ځانګړتیاوې ونه لري؟ نه یوازې ډاکټر، بلکې ورته ځانګړتیاوې په یو وړ څارنوال، ښوونکي، سوداګر، پلورونکي او مدیر کې هم په پام کې نیول کېږي.

د آسانه او هوسا ژوند ژمنه له هېڅ چا سره نه ده شوې. ژوند هغه وخت آسانه وي چې کله سم مخ ته لاړ شي. خو ډېری وخت مونږ باید هغه مهال تر ټولو ډېر کار وکړو کله چې تر ټولو بدو شرایطو سره مخامخ کېږو.

فکري ثبات تاسو ته دا وړتیا دربښي چې اوږد مهاله بریاوې په لنډمهاله زیار ګاللو سره ترلاسه کړئ. یو ځل چې دغه ثبات ته

ورسېدئ پـه حقیقـت کـې تاسـې د بریـا پـه پولـه روان شـوئ. شـون فوجیموټـو چـې پـه ۱۹۷٦ ز کـال یـې د جمناسـتک پـه برخـه کـې پـه ماتـه پښـه لوبـه وکـړه د سرو زرو لـه مډال ګټلـو څخـه وروسـته یـې وویـل: "اوس مې چې مډال خپل کړ، درد راڅخه ځي."

***غـوره رهـبران لـه ننګونـو سره مخـامخ کېـږي. دا د هغـوی فکـري پوخـوالی دی چـې کـړاو زغمـي. پـلان دې بایـد تـر ټولـو ښـه وي. بایـد تـر ټولـو بـد وضعیت تـه چمتـو واوسـې. حیرانېـدونکو پېښـو تـه پـه تمـه واوسې خو باید په هر حال کې مخ وړاندې تګ ته دوام ورکړې.***

**هوسا اوسېدل پرېږده**

فکـري پوخـوالی دا دی چـې تـه پـر ځـان کـړاو او خطـر ومنـې او لـه هوسـاینې سره مخـه ښـه وکـړې. پایلـه بـه دا وي چـې تـه بـه نـور نندارچي نه، بلکې لوبغاړی یې. فکري پوخـوالی لـه تـا سره مرسته کوي څو سم او پـر ځـای تصـمیم ونیسـې کـه څـه هـم دغـه تصـمیم خوښـي بښـوونکې نـه وي.

**که چېرته**

که چېرې ټول ستا پـر ضد وي، تـه لـه زغـم څخـه کـار واخلـې. آیـا تـه دوی لـه لاسـه ورکـوې او خپلـه ملامتـي پـه تاسـو اچـوي؛ کله چې ټـول ستا پـه اړه شـک کـوي او تـه پـه خپـل ځـان بـاور کـوې، بلکـې دوی تـه وخـت ورکوې چې ستا پـه اړه ډېـر شکمن شي؛ کله چې تـه تمـه پـاتې کېـږې او له تمې نه ستړی کېږې، یـا پـه اړه یـې بـې بـاوره یـې، پـه دروغـو معامله نـه کـوې او تـر اوسـه دومـره ښـه نـه یـې ښـکاره شـوی، بیـا ډېـر دروغ مـه وایـه. که ته ډېرو خلکو تـه خـبرې کـوې او خپـل خاصیت سـاتې، یـا لـه پاچاهـانو سره خـبرې کـوې- خپلـه عامـه لهجـه لـه لاسـه مـه ورکـوه؛ کـه تـه متنفـر شـوی یـې، کرکـې تـه لار مـه ورکـوه، کـه ټولـه پـه تـا حساب کـوي، بلکـې

دومره زیات نه؛ که ته کولای شې خپله تېره دقیقه په شپېتو ثانیو ډکه کړې، د وهلې لار ارزښت- ځمکه او د ځمکې پر مخ هر څه ستا دي، او- نور هر څه چې دي- ته به یو سړی وې، زما زویه!

- رودیارد کیپلینګ

**وېرې ته سم لوری ورکړئ**

وېره د یوه خطر یا ګواښ یو طبیعي غبرګون دی. وېره د اور په څېر ده چې که تر کنټرول لاندې وي ګټه ورځخه اخیستل کېدای شي او که له کنټرول څخه ووته ویجاړی رامنځته کوي. په دوامداره توګه په وېره کې ژوند کول له انسان څخه د هغه د ژوند هدف ورک کوي. رښتیني او یا هم خیالي وېره زمونږ د افکارو په پروسو کې نفوذ کوي او زمونږ شخصیت ویجاړوي. تشویش هغه مهال په طبیعي ډول په انسان کې پیدا کېږي کله چې خپله او یا دوستان یې له کړاو او ستونزو سره مخامخ کېږي.

دغه منفي ډوله احساسات زمونږ په وجود کې ښایي د مثبتو غبرګونونو په راپارولو سره له مونږ سره مرسته وکړي څو مبارزه ورسره وکړو او یا ورڅخه پښې سپکې کړو. پایلو ته له کتو پرته، له وېرې برخمن شرایط د زده کړې او تجربو خپلولو شرایط وي چې د راتلونکي لپاره مونږ چمتو کوي.


که چېرې له وېرې سره په نامعقول ډول چلند وکړو ښایي ان له پیله وړاندې مونږ ناکام شو. سرتېرو ته درس ورکول کېږي چې د وېرې حالت راتلو ته سترګې په لار وي، بیا ورته ددې درس ورکول کېږي چې څرنګه پرې برلاسي شي. له وېرې پرته له خطر سره مخامخ کېدل کلکوالی او ثبات دی.

## د ویاړلو چارو د پر مخ بېولو لوړه[٤]

- یو ډاکټر په رښتیني توګه په خپل مسلک کې د خدمت کولو لپاره لوَړه کوي.
- د پارلمان وکیلان د خپلې کاري دورې له پیلولو سره سم په رښتیني توګه د اړوند چارو د پر مخ بېولو لپاره لوَړه کوي.
- یو قاضي هم د عدالت پلي کولو لپاره لوَړه کوي.
- یو پولیس افسر د قانون تنفیذولو لپاره لوَړه کوي.

د یادو تړولو دندو بنسټ پر اخلاقي فلسفې ولاړ دی او په تړولو کې د انصاف او امانتدارۍ موضوع مطرح دی. یوازې یو منصف انسان کولای شي چې عدالت پلی کړي چې هغه په صداقت سره د چارو ترسره کول دي. د عدالت پلي کول کفایت او زړورتیا غواړي.

دغه لاندې درې ځانګړتیاوې یو انسان ته ویاړلی ژوند ببښي.




که چېرې له یادو دریو ځانګړتیاوو څخه یوه یې نه وي، ویاړلی ژوند په خطر کې دی. که چېرې مونږ زړورتیا ونه لرو په کرکټر به څه کوو؟ که چېرې کرکټر ونه لرو زړورتیا به څنګه کاروو؟ او د کرکټر او زړورتیا په نه شتون کې وړتیا څه کوو. له صداقت او عدالت پرته زړورتیا د کارولو وړ

---

[٤]- د وفادارۍ سوګند

نـه ده، هغســې چــې لــه عــدالت او صــداقت پرتــه عــدالت نشيـ پــلي کېدای.

یو ویاړلی کس لاندې ځانګړتیاوې لري:

- زړور وي خو سپک نه وي
- عاجز وي خو داسې نه چې تل عذرونه کوي
- ډاډمن وي خو کبرجن نه وي
- ویاړي خو ځان غوښتونکی نه وي
- نرم وي خو کمزوری نه وي
- پیاوړی وي خو بې ادب نه وي
- تود مزاجی وي
- له ژوند سره مینه لري خو مرګ ته تیار وي
- خوښ وي خو ځان خوښوونکی نه وي
- چلا وي خو مخالف نه وي
- هوښیار وي له دې پرته بل څه نه وي

پـه خپـل وجـود کـې د ربښـتینولۍ، مهربـانۍ، بشرـ پـالنې او ژمنتیـا احسـاس تـه ځـای ورکـول خوښـي رامنځتـه کـوي. ان خپلـې کـورنۍ تـه مـونږ تـر هغـه مهالـه بشـپړه مینـه نشـو ورکـولای تـر هغـو چـې د ارزښـتونو لـه مخـې غـوره تعریـف شـوي ټکـي پـه پـام کـې ونـه نیسـو. دا چـې یـوه ماشـوم تـه د یـوه نعمـت یـا پېرزوینـې پـه سـترګه کتـل کېـږي یـا د یـوه اضـافي بـار پـه سـترګه دا پـه هغـو ارزښـتونو پـورې اړه لـري کـوم چـې شـته دي. غـوره شخصـیت پر غـوره چلنـد او غـوره عقایـدو بانـدې بـاور لـري. غـوره چلنـد بیـا لـه اخلاقـي ارزښـتونو څخـه سرچینـه اخلـي چـې د هڅـې او عمـل لـه برکتـه د انسـان پـه وجود کې راټوکېږي.

**خدايه ما ته داسې زوی راکړې:**

*ډاګلاس ماکارتور خپل زوی ته داسې دعا کوي:* اې لويه خدايه داسې يو زوی راکړې چې زما د کمزورۍ او بوداوالي په وخت کې خورا پياوړی او غښتلی وي. د ويرې پر مهال زړرو وي. د ماتې پر مهال مات نشي- او د بريا په وخت کې عاجز او اصيل وي. داسې يو زوی راکړې چې کله ثبات او کلکوالي ته اړتيا وي سست نشي-. خدايه داسې يو زوی راکړې چې تا وپېژني او ځان وپېژني ځکه همدا د علم او پوهې بنسټ دی.

تل يې مخکښ ولرې، دا دعا نه کوم چې د هوساينې او آسانيو په لار کې دې مخکښ وي، بلکې له ستونزو، کړاوونو او ننګونو څخه په برخمنو لارو کې. دا ور زده کړې چې د توپانونو پر مهال کلک ولاړ وي او د هغو کسانو په وړاندې مهربان وي کوم چې ناکامېږي.

داسې زوی راکړې چې زړه يې روښانه او هدف يې لوړ وي. مخکې له دې چې نور پوه کړي لومړی ځان پوه کړي. داسې يو زوی چې خندا يې زده وي او ژړا يې هېره نه وي، د راتلونکي لپاره تېر وخت هېر نه کړي. له يادو ټولو ځانګړتياوو سره سره دا دعا هم کوم چې غوره او ښه خوی ور په برخه کړې. عجز او خاکساري ور په برخه کړې څو تل ريښتينې ساده ګي، هوښياري او د ريښتيني ځواک نرمي ولري.

*په دې وخت کې به زه د هغه د پلار په توګه په چوپه خوله ددې خبرې جرئت پيدا کړم چې "ما خپل ژوند عبث نه دی تېر کړی."*

*ډاګلاس ماکارتور*

## عملي پلان

۱ـ درې داسې ارزښتونه تشخيص کړئ چې غواړئ ورسره ژوند وکړئ:

---

---

---

۲ـ د ژوند په لاندې درې برخو کې يې د ۲۱ ورځو لپاره عملي کړئ:

الف: کورنۍ

ب: کار ځای

ج: ټولنه

۳ـ د دې لپاره چې ستاسو ارزښتونه پياوړي او کلک شي له خپلو نږدې دوستانو سره يې شريک کړئ.

لاندې گامونه کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي څو په خپل کور او کار ځای کې خپل عملي پلان جوړ کړې:

- د اخلاقي ارزښتونو پر بنسټ ولاړ چلند خپلول.
- له نورو سره په روښانه توگه شريکول.
- د اخلاقي چلند پلي کولو يقيني کول.
- د اخلاقي چلند پېژندل او ستايل.
- دا يقيني کول چې لنډ مهالې برياوې اوږد مهاله اخلاقي اهداف نشي شنډولی.
- د غير اخلاقي کړنو په وړاندې د سزا شتون.
- د اخلاقي معيارونو له پالنې سره د وياړ احساس ته وده ورکول.

# د خان ارزونې پاڼه

# دریم څپرکی
# پیاوړې روحیه

## زړورتیا او جرئت خپله لار پیدا کوي

***خدای له هغه چا سره مرسته نه کوي کوم چې عمل نه کوي.***

***سوفوکالز***

یو سپین ږیری بزګر و چې په ژوند کې له پرله پسې ماتې خوړلو سره سره بیا هم خوښ او موسک سړی و. یوه ورځ یو ملګري یې ترې پوښتنه وکړه چې له دومره ماتو سره سره بیا هم ته څنګه خوښ او موسک یې؟ بزګر ورته وویل: "دا خو کوم سخت کار نه دی، یوازې له هغه څه سره د مرستې کولو زده کول په کار دي کوم چې پېښېدونکي دي او مخه یې نشي نیول کېدای."

یوه پخوانۍ خبره ده چې وایي: "کله چې طبیعت ستا په لور خنجر واروي د نیولو لپاره یې یوازې دوه لارې شته دي؛ یا به یې په وینه نیسې او یا به په کومه وسیله. " له زړورتیا او جرئت څخه برخمن ژوند په دې مانا دی چې ته یا خنجر د یوې وسیلې په مټ نیسې یا یې مخه ډپ کوې او د یوې وسیلې په توګه ترې کار اخلې.

جرئت او زړورتیا ځواکمنتیا ښيي او کله چې په سمه توګه وکارول شي تر ټولو غوره وسیله ده. زړورتیا مونږ ته دا وړتیا رابښي څو غښتلی موقف ولرو او د فلج کېدو په وړاندې مقاوم واوسو. د زړورتیا نه شتون مونږ په داسې یوې مجسمې باندې بدلوي چې یوازې ګرځو راګرځو به، خورو او څښو به، خبرې به کوو خو له روحي پلوه به مړه یو.

د هـر انسـان زړورتیـا د هغـه لـه ارزښـتونو سره ژونـد کـوي او د هغـه بـاور لـه مخــې پــر مــخ ځــي کــوم چــې ښــيي چــې کړنــې يــې ارزښــتمنې دي. زړور خلـک تـل پـه دې بـاور دي چـې پـه وجـود کـې دننـه يـې يـو ډول حـالات او جذبات شـته دي چـې پـه ظاهر او وجـود بانـدې يـې بـرلاسي لـري. پـه ژونـد کـې يـو ځـای تـه رسـېدل او يـا پـر يـو څـه بريـالي کېـدل پـه زړورتيـا پـورې تـړاو لـري. زړورتيـا او جرئـت پـه ډاډه توګـه لـه ګـوانښ، خطـر، خنـډونو مخالفتونو او نيوکو سره مخامخ کېدل دي.

**د زړورتيا ابعاد**

په سر کې د يوه فکر او خيال لرلو زړورتيا

له واقعيتونو سره د مخامخ کېدلو زړورتيا

د بريا پر مهال له ځانه د نرمۍ ښودلو زړورتيا

د ماتې پر مهال د خپل وياړ ساتلو زړورتيا

نورو ته د درس ورکولو زړورتيا

له نورو سره د مقابلې کولو زړورتيا

د غوسه کېدلو زړورتيا

د بښنې غوښتلو زړورتيا

په خپل باور د درېدلو زړورتيا

د خپلو ناسمو باورونو د ننګولو زړورتيا

د خبرو کولو زړورتيا

د غوږ نيولو زړورتيا

د قضاوت کولو زړورتيا

د بښلو زړورتيا

د ښه ايسېدلو زړورتيا

د يو چا له خوا له رديدو سره د مخامخ کېدو زړورتيا

لـه زړورتیـا برخمنـې کـوچنی کړنـې پـه تـدریج سره دومـره غښـتلې کېـږي چې لـه زړورتیـا برخمنـو لویـو اقـداماتو او کړنـو لامـل کېـږي. د دښـمنۍ او ضد په وړاندې صبر او حوصله د جرئت او زړورتیا نښه ده.

***یـو کـس، خـو چـې جرئـت او زړورتیـا ورسره وي پـه یـو ځـای کـې اکثریت جوړوي.***

***اندریو جکسن***

## واقعي زړورتیا څه ده؟

لــه نیوکــو سره د مخــامخ کېــدو وړتیــا لــرل د زړورتیــا بــل نــوم دی. د ستونزمنو چلنـدونو درک کـول آسـانه دي. کـه څـه هـم مـونږ داسـې جرئـت تـه اړتیـا لـرو څـو خپـل محـدودونکي باورونـه، ناسـمې انګېرنـې او پلمـې ونګوي.

یـو سرتېـری د خپلـې زړورتیـا او جرئـت لـه برکتـه ویـاړلی ژونـد کـوي. مهمـه نـه ده چې یـو څـوک څـه کـوي، بلکـې پـه هـر کـار کـې نیـوکې شـته دي او ځینـې نیـوکې بیـا خـورا د قناعـت وړ وي. واقعـي جرئـت او زړورتیـا بیـا دا ده چې کله یوازې یې کلک او استواره ودرېږي.

دا د ابراهــام لېــنکن زړورتیــا او جرئــت و کلــه چــې Emancipation (Proclamation)[٥] فرمـان یـې اعـلان کـړ، پـه داسـې حـال کـې چـې پـه دې اړه د اجماع له نه شتون سره هم مخامخ و.

ریښـتیني زړورتیـا هـم زمـونږ شـاوخوا تـه لـه شـته کسـانو سره زمـونږ ریښـتینولي او لـه صـداقت څخـه بـرخمن چلنـد لـه لارې عملـي کېـږي. دا خپلـه وړتیـا او توانـایي ده چې زمـونږ لـه بـاورونو او انګېرنـو سره سـم مـونږ تـه دا رابښـيي چې کـوم ځـای کـې مـخ تـه لاړ شـو او پـه کـوم ځـای پـه شـا شـو. ناسـمه

---

[٥]- دا هغه فرمان و چې په ۱۸۶۲ ز کال کې د امریکا د وخت ولسمشر ابراهام لېنکن اعلان کړ، چې له مخې یې په ټولو هغو سیمو کې چې له متحدینو سره په جګړه کې وې مریيان آزاد شول. ژباړن.

ژوورتیا وپېژنئ چې له تکبر او وچ غرور څخه سرچینه اخلي. رښتنې ژوورتیا په خبرو نه، بلکې په عمل کې ښودل کېږي. ستا په وړاندې خطرناک کسان هغه نه دي چې په ښکاره ډول ستا مخالفت کوي، بلکې اصلي خطرناک هغه کسان دي کوم چې ستا مخالف دي خو تا نه پوهوي. اخلاقي جرئت په ارزښتونو کې ريښه لري.

باور او عقيده قوت او ځواک ښيي خو شک بيا د کمزورۍ لامل کېږي. ژوور خلک له هر ډول حالاتو سره په مخامخ کېدو کې د وياړ او عزت ساتلو په موخه له تعقل او هوښيارۍ څخه کار اخلي خو ډارن خلک بيا ناسمې او غير معقوله لارې خپلوي.

د پخوا وختونو يوه کيسه ده چې وايي: يوه شتمن سړي يو سوداگر ته پيسې په پور ورکړې. خو سوداگر په خپل کاروبار کې د پرله پسې زيان له امله د سړي پور خلاص نه شوی کړی.

سوداگر يوه ښکلې لور درلوده. بدمرغه پور ورکوونکي شتمن په نجلۍ باندې سترگې سرې کړې وې. پر سوداگر باندې له زيات فشار راوړلو وروسته بالآخره هغه ته يې وړانديز وکړ چې د پور په بدل کې خپله لور ورته واده کړي. سوداگر بله چاره نه درلوده او ور سره ويې منله. پور ورکوونکي سړي غوښتل خلکو ته داسې وښيي چې د سوداگر له مجبوريته گټه نه پورته کوي، بلکې له لور سره يې واده يوه تقديري موضوع وښيي. سوداگر ته يې وويل چې زه دوه وړې تيږې چې يوه سپينه او يوه توره وي په يوه کڅوړه کې اچوم او نجلۍ بايد خپل لاس کڅوړې ته دننه کړي او يوه راوباسي. که چېرې توره هغه يې لاس ته ورغله او راويې ايسته بايد له ما سره واده وکړي چې په دې توگه به پور هم دربښم او که چېرې سپينه هغه يې راويسته اړه نه ده چې له ما سره واده وکړي او په دې توگه به پور هم دربښم.

یوه ورځ یې ټول کلیوال د سیند په غاړه کې راټول کړل څو حالات له نږدې وګوري. سوداګر، نجلۍ او پور ورکوونکی هم حاضر شول. سړي کڅوړه راویستله څو دوه وړې تیږې یوه سپینه او بله توره پکې واچوي. سړی دلته هم په غلطه و، دواړه تیږې یې تورې واچولې څو له نجلۍ سره خپل واده حتمي کړي، خو نجلۍ سربېره پر دې چې ښایسته وه خورا هوښیاره او ځیرکه هم وه او سړي ته یې پام شو چې دواړه تورې تېږې یې په کڅوړه کې واچولې. په دې وخت کې یې له نجلۍ څخه وغوښتل شول چې کڅوړې ته لاس دننه کړي او یوه تیږه راوباسي. داسې فکر وکړئ چې تاسې ددغې پېښې له شاهدانو څخه یو شاهد یاستئ:

۱ـ څه به مو کړي وای؟

۲ـ نجلۍ ته به مو څه مشوره ورکړې وای؟

۳ـ تاسې به له دغه وضعیت سره څه کړي وای؟

۴ـ د نجلۍ په وړاندې شته انتخابونه کوم دي؟

الف: هغې کولای شوای څو له پور ورکوونکي څخه وغواړي چې دواړه تیږې ښکاره کړي چې آیا په رښتیا یوه توره او بله سپینه ده، هغه پوهېدله چې سړي دواړه تورې تېږې په کڅوړه کې واچولې.

ب: هغې کولای شول چې په دې قضیه کې ځان هېڅ ښکېل نه کړي او خپل پلار یوازې پرېږدي چې هر څه کوي ودې یې کړي.

ج: د تورې تیږې له اخیستلو سره د خپل پلار لپاره یې خپل ژوند قربان کړی وای.

انتخابونه ساده او آسانه نه وو. یا به یې ځان ژغوره او یا به یې خپل پلار، خو هغې غوښتل چې نه خپل ځان قرباني کړي او نه هم خپل پلار. خپل پلار ته یې لا ډېره اندېښنه وه.

خو هغه څه چې نجلۍ وکړل دا وو:
خپل لاس يې کڅوړې ته دننه کړ او يوه تېره يې واخيستله، په دې ښه پوهېدله چې دواړه تېرې تورې دي. خو همدا نجلۍ يوازينۍ کس وه چې دغې خبرې ته يې پام شوی و او هغه مهال چې سړي په کڅوړه کې تيرې اچولې ليدلي وو چې دواړه يې تورې تيرې پکې اچولې وې. کله چې لاس يې له کڅوړې بېرته راويسته په ځمکه راپرېوتله او ځان يې قصداً داسې وښوده چې ګواکې بې حسه شوه. خو اصلي هدف يې دا و څو کومه تيره يې چې په لاس کې ده د نورو تيرو په منځ کې واچوي او څوک پوه نشي- چې تيره سپينه وه که توره. ځکه د سيند له غاړې څخه يې را اخيستې وه او ټوله سيمه له ډول ډول تيرو او جغل څخه ډکه وه. کله چې پورته شوه ښځه يې وغوښته او ويې ويل: په ځان پوهه نه شوم، خپل توازن مې له لاسه ورکړ او بيا يې وويل: راځئ چې کڅوړه وګورو چې کومه تيره پکې پاتې ده. له شک پرته چې په کڅوړه کې توره تيره ده ځکه دواړه يو شان وې. خلکو فکر وکړ چې سپينه يې راويسته او ترې ولوېده، هغه ده توره په کڅوړه کې پاتې ده. په دې وخت کې پور ورکوونکي سړي نشوای کولای چې خوله وخوځوي نو خپل منافقت يې ومانه. نجلۍ او پلار دواړه د هغه له شره خلاص شول.
د هغې د کړنې انګېزه دا وه څو له خپل وياړ او پت څخه ساتنه وکړي. په صحنه کې د هغې کړنې وښودله چې پر وخت هوښياري پر ځای اقدام دی.
هغه کسان چې په آزادۍ مېين دي د ستونزو او ننګونو منلو ته چمتو وي څو وکولای شي چې له وياړ او عزت څخه برخمن ژوند ولري.
***اصولي خلک زړور وي خو ټول زړور خلک بيا اصولي دي.***

مونږ چې هره کړنه ترسره کوو یا له دې امله وي چې خوښي ترلاسه کړو او یا هم ددې لپاره چې د کړاو مخه ونیسو. ډارن کسان له خپلې عقیدې او باور څخه د دفاع په لار کې د قیمت پرې کولو جرئت نه لري. زړورتیا په دې پورې اړه نه لري چې یو څوک دې په پټو سترګو تول شرایط ومني، بلکې له عواقبو او پایلو سره د مخ کېدو په جرئت لرلو پورې اړه لري.

د جرئت او زړورتیا نښه دا ده چې ته په ځان باندې په داسې حال کې باور ولرې چې نورو خلکو له تا څخه لاس مینځلی وي. په داسې حال کې چې پوهېږې چې زیان منونکی یې خو بیا هم له حوصلې او زغم څخه کار اخلې. پر خپل ځان باندې ستا خپل باوړ مو ددې جوګه کوي څو خپل خوبونه رښتیا کړئ. په دې برخه کې ګالیله په تاریخ کې یو ښه مثال دی:

ګالیله د خپل د عمر په ۲٦ کلنۍ کې په پیسا (Pisa) پوهنتون کې د ریاضیاتو استاد شو. ۴۰۰ کاله وړاندې خلکو پخواني نظریات او تیوریګانې له کوم تحقیق پرته په پټو سترګو منلې. د یوناني فیلسوف ارسطو نظریاتو ته په خورا درنه سترګه کتل کېدل او د هغه نظریات تر پوښتنې لاندې راوستل سپکاوی ګڼل کېده. ګالیله ثابته کړه چې د یوه جسم د سقوط سرعت د هغه په وزن پورې تړاو نه لري، بلکې د هر جسم د سقوط سرعت د هغه جسم په وړاندې د هوا په مقاومت پورې اړه لري او دغه خبره د ارسطو د تیورۍ خلاف وه. که څه هم ګالیله چمتو و څو خپله تیوري ثابته کړي خو خلکو یې منلو ته زړه نه ښه کاوه. ځکه هغوی وېرېدل چې د ارسطو دغه نظر ناسم بلل ښايي د هغه د نورو تیوریو او نظریو د ناسم ثابتېدو لامل هم شي. هېڅوک له ګالیله څخه د ملاتړ کولو لپاره مخ ته نه شول. خو دغه پیاوړي

ساینسپوه په دواړو حالاتو کې هغه مهال چې خبره یې تائید هم شوه او هغه مهال چې په وړاندې یې مخالفت هم کېده په خپله خبره ټینګ ولاړ و.

***د زړورتیا یوه ځانګړتیا دا ده چې انسان ته وړتیا وربښي چې له ستونزو سره مخامخ شي خو ورته تسلیمېږي به نه.***

هو، زړورتیا نه، نه وېرېدل دي او نه هم له بې باکۍ څخه برخمن چلند، بلکې زړورتیا له وېرې سره مقابله ده. بې باکي له تکبر او حماقت څخه راټوکېږي. د سمو کارونو ترسره کولو انتخاب، هوښیارۍ ته اړتیا لري. زړورتیا د هوښیارۍ ښودنه ده چې تاسې ته دا درزده کوي چې څه وخت یو ثابت موقف ونیسئ.

له زړورتیا برخمن چلند خلکو ته روحیه ښښي او له باور رامنځته کولو سره مرسته کوي. خو برعکس بیا بېباکي خجالتي رامنځته کوي او ان خلک له ګواښ سره مخامخ کوي. زړورتیا هغه ده چې ګاندي او لوتر کینګ له ځانه وښوده او خلک یې له ستونزو ګاللو سره سره بې د عدالتۍ په وړاندې په سوله ییزه توګه درېدو رابلل. هغه څه چې یې ترلاسه کړل خپلو خلکو، ملت او هېواد ته یې خورا ارزښتمن وو.

**زړورتیا یو ذهني حالت دی**

هغه قدرت او ځواک چې په مټ یې بېچاره او بېوسه خلک ځورول کېږي، جرئت او زړورتیا نه ده. قلدري او د نورو ځورول د ډاډ نه شتون یا په بله وینا د وېرې شتون له امله کېږي. جرئت یا زړورتیا له زور او ځواک څخه نه راټوکېږي، بلکې یو ذهني حالت یا جذبه ده. یوه غوره او پرمختللې جذبه ده او هېڅکله جعلي او دروغ کېږي نه. زړورتیا د یوه وخت عمل نه دی بلکې یو اتومات ځواب دی. زړورتیا او جرئت مونږ ته د ژوند په څلور لارو کې ځواک رابښي، یعنې په هغو مراحلو

کې لـه مـونږ سره مرستـه کـوي چـې لـه خـو انتخـابونو سره مـخ یـو او د مسئولیت منلو ته مو چمتو کوي.

***"ښايي جرئـت او زړورتيـا تـر ټولـو مهمـه تقـوا وي ځکـه لـه دې پرتـه د قوت يا غښتلتيا کوم بل داسې ارزښت نشته چې تاب راوړي."***

***مايا انجليو***

د تصـمیم نیـونې جرئـت تاسـو تـه وړتیـا دربښـي چـې تاسـې پرېکـړه وکـړئ. کـه چېـرې تاسـې د خپـل د راتلـونکې کنټـرول پـه خپـل لاس کـې ونـه نیسـئ پـه اوتومـات ډول سـتا راتلـونکې د نـورو لـه خـوا د نیـول شـویو تصامیمو پـر بنسـټ مشخص کېږي. تـه بایـد د هغـو بـاورونو پـر بنسـټ مـخ ته لاړ شې چې ستا کړنې یې ارزښت لري.

هغـه انسـانان چـې بـې زړه دي، جرئـت نـه لـري او مسـئولیت تـه اوږه نـه ورکـوي محـض مجسـمې دي. کلـه چـې انسـان ونشي- کـولای پـه ژونـد کـې لـه بېلابېلـو حـالاتو سره مقابلـه وکـړي او هـر ډول شرایطـو تـه لازم ځواب ورکړي د ماتې او ناکامۍ احساس کوي.

**ثبات**

ویلـی شـو چـې ثبـات د صبر او زړورتیـا ترکیـب دی چـې یـو انسـان تـه وړتیـا ورکوي څو له بېلابېلو حالاتو او شرایطو سره مقابله وکړي.

یو وخـت سـقراط د ځینـو بـې عقـل او جاهلـه ځوانـانو لـه خـوا اړ ایسـتل کېـده څـو زهـر وخـوري او یـا لـه خپلـو نظریـاتو او عقایـدو تېـر شي. مگـر پـر خپلـو نظریـاتو او عقایـدو پـه یـوازې سر کلـک درېـدل هغـه د نـړۍ پـه داسـې یـو متفکر بدل کړ چې ساری یې نه دی لیدل شوی.

*پـه ۱۹۸۸ ز کـال کـې زه ( Wimbledon) یـا د ټېـنس پـه لرغـونې لوبـه کـې خـوښ وم، ځـان مـې هڅـاوه. یـو وخـت مـې د پښـې عضـله ژوبلـه شـوه بيـا مې زنگـون ژوبـل شـو. سره لـه دې هـم مـا ځـان هڅـاوه. احسـاس مـې وکـړ*

*چې تر ټولو غوره کار مې کړی دی. دا یو خیال و. زه اصلاً په وجود کې دننه لوبېدلم.*

*جان مک ینور*

**له واقعیت سره د مخامخ کېدو زړورتیا**

له واقعیت منلو او اقرار کولو څخه ډډه کول زمونږ د ډېرو عادت دی. له هر څه انکار او د هر څه ردول ښایي زمونږ د ژوند بنه وګرځي که چېرې مونږ رغنده نیوکې ونه منو دا د هغو درې بیزوګانو فلسفه ده چې نه بد څه وینـي، نه بد څه اوري او نه بد څه په ژبه راوړي. خو نن ورځ دا فلسفه په دې بدله شوې چې نه غوره څه اوري، نه غوره څه ویني او نه کوم غوره خبره په ژبه راوړي. له واقعیت سره مخامخ کېدل ښايي ستونزمن وي، خو که مونږ د زړورتیا خوی او عادت خپل نه کړو پر خپل ځان باور له لاسه ورکوو او د ناکامۍ په یوه بدمرغه کړۍ کې ګیر پاتې کېږو.

***ډارن خلک له خپل اصلي مرګ څخه مخکې څو ځله مري، خو زړور خلک یوازې یو ځل د مرګ خوند څکي.***

***ویلیم شکسپیر***

ډارن خلک د یوې چارې له ترسره کولو څخه ډېر ژر لاس په سر کېږي. ځینې د مرګ په پرتله له ژوند کولو څخه وېرېږي. د فرصتونو په ځای د ځان ګوښه کولو په لټه کې وي. زړورتیا په وېره، ګواښ، بې عدالتۍ او بدمرغۍ باندې د بریالي کېدو ځواک دی. زړورتیا هغه هیله او وړتیا ده چې مونږ ته دا وړتیا راکوي چې له وېرې سره سره خپل مزل ته دوام ورکړو. هر ډول وېره زمونږ له فکري پروسو څخه راټوکېږي او زمونږ شخصیت ته زیان اړوي. له جرئت او زړورتیا څخه کار نه

اخیستل مونږ خپل ځان او خپل دوستان او کورنۍ له یوه هدفمند ژوند څخه بې برخې کوي.

*لوبغاړی گټونکی کېږي، لوبغاړی بایلي، لوبغاړی چمتووالی نیسي-، لوبغاړی هڅه کوي، لوبغاړی لوېږي خو بېرته پاڅېږي. لوبغاړی مخ ته ځي. مهمه ورته نه ده چې پایله څه ده.*

له یوه کال وروسته توماس کارلیلي د فرانسې د انقلاب په اړه کتاب لیکل بشپړ کړل او خپل یوه ملگري ته یې ورکړ چې ایډیټ یې کړي. د ملگري د کور خدمتگار په تېروتنې سره د کتاب همدا یوازینۍ نسخه د څځلو په ستل کې واچوله او بیا یې وسوځوله. کله چې د کارلیلي مېرمن خبره شوه خپلې اوښکې یې تم کولای ونشوې. ملگری رېږدېده، خو خپله کارلیلي چوپ و. بالآخره له ځانه یې په خورا زړورتیا ښودلو سره وویل: "خیر دی دا ډول پېښې کېږي."

که څه هم کارلیلي ظاهراً زړور ښکارېده، خو سخت غمجن و. داډمن نه و چې بیا به په کتاب لیکلو کار پیل کړي که نه. ټوله شپه یې سترگې پټې نه شوې. خو په بل سبا گهیځ یې خپل تصمیم نیولای و څو یې په کتاب بیا کار پیل کړ او تسلیم نه شو. په دوه کلونو کې یې یو ځل بیا دغه ستر کار بشپړ کړ. "د فرانسې انقلاب" تر نامه لاندې کتاب یې ولیکه چې تر نن ورځې پورې خورا مهم أثر گڼل کېږي.

د زړورتیا په وړاندې تر ټولو لویه آزموینه دا ده چې له ماتې وروسته زړه مات نشي-. هغه ننگونې چې مونږ رغوي او یا ماتوي په هغو اهدافو پورې تړلې دي کوم چې مونږ غواړو په ژوند کې یې ترلاسه کړو. مهمه خبره دا ده چې په دې پوه شو چې څرنگه په هغو ناهیلیو باندې بریا خپله کړو کوم چې په ژوند کې شته دي.

**د خورا خوږ آواز ستاینه**

لوډویگ بیتهووین لا ماشوم و چې د ډېرو مشرانو په پرتله یې د پیانو غږولو غوره مهارت درلوده. پلار یې چې یو نشه یي سړی و تر ډېره په دې غم کې و چې زوی یې څرنگه کولای شي دوی ته پیسې وگټي، مور یې بیا ملاتړې وه. خو لوډویگ ۱۷ کلن و چې مور خوارکۍ یې مړه شوه او د دوه وړو ورونو پالنه هم د هغه په غاړه شوه. ځوان لوډویک ډېر ژر یو پیاوړی او تکړه موسیقي غږونکی شو. خو چانس ورسره یاري ونه کړه او په ۲۸ کلنۍ کې کوڼ شو. یوه موسیقي غږونکي ته کونوالی خورا لویه ستونزه ده. خو د هغې زړورتیا له مخې چې لوډویگ درلوده وتوانېده چې په خپل دغه معلولیت باندې بریالی شي او ان له کونوالي وروسته یې د خپلې موسیقۍ څو تر ټولو ښکلې پارچې ثبت کړې. یو وخت یې په ویانا کې یو ارکسټر اجراء کړ. په داسې حال کې چې شا یې په تالار کې ناستو حاضرینو ته وه او مخه یې ارکسټر ډلې ته. ده داسې څه ډایرکټ کول چې خپله یې نه اورېدل. د هغه له خوا ډایرکټ شوې موسیقۍ د نندارچیانو زړونه یوووړل. کله چې موسیقي خلاصه شوه لوډویگ د خپلو آلاتو او وسایلو په ټولولو مصروف شو. د ډلې یو غړی پوه شو چې دا خوارکی خو د دنیا له حاله بې خبره دی او څه نه اوري د هغه مخ یې نندارچیانو ته واړاوه چې گوري ټول هغه ته د درناوي په ډول ولاړ دي او لاسونه پړکوي. کله چې نندارچیان پوه شول چې لوډویگ څه نه اوري او هغه څه یې چې اجراء هم کړل خپله یې نه اورېدل له سترگو یې اوښکې وبهېدې او جرئت ته یې هک حیران وو.

پر کړاوونو باندې بریالي کېدل هغسې باطني ځواک ته اړتیا لري کوم چې لوډویگ له ځانه وښوده.

**له نورو سره د مرستې زړورتيا**

د امریکا د انقلاب یو زړور سرتېری مارکویس لافایېټ په ۱۷۸۲ ز کال کې په فرانسه کې د خپل ځمکو او شتمنيو ليدو ته راغی. نوموړی هم په فرانسه کې او هم په امریکا کې په زړورتيا، رښتينولۍ او سخاوت مشهور و. په ۱۷۸۳ ز کال کې په فرانسه کې د غنمو حاصلات سم نه وو او خلک له لوږې کړېدل. خو د لافایېټ د غنمو زېرمې ډکې وې. د هغو کسانو ده مشوره ورکړه چې غنم به په ښه بيه وپلوري ځکه بيې ښې لوړې دي. خو لافایېټ پوه و چې د شاوخوا کليو بزګران او خلک وږي دي خپل کسانو ته يې وويل: " نه اوس د ورکړې وخت دی. "

له نورو سره مرسته له خواخوږۍ څخه سرچينه اخلي. د يوه بشر-پال انسان لپاره د نورو پت او عزت هغسې مهم دی لکه د خپل هغه يې. يو وياړ ښونکی انسان هېڅکله د پيسو او بيې په بدل کې بشر-دوستانه چارې نه ترسره کوي. د هغوی لپاره پت او عزت تر پيسو ډېر مهم دي. د مينې او مرستې په هر اقدام کې ورکړه او ښښل شامل دي او دا په خپله جرئت دی. له زړورتيا برخمنې کړنې هوښياري او ځانګړی روح غواړي. له زړورتيا برخمنې کړنې ښايي تل خوښې رامنځته نه کړي خو له زړورتيا برخمنو کړنو پرته خوښی هم نشته.

**د اقدام کولو زړورتيا**

کوپرنيکوس ۲۱ کلن و، خو په ډېر څه پوهېده او ډېرې ورتياوې يې لرلې. هغه مهال عام نظر دا و چې ځمکه د ټولو کائيناتو مرکز دی او لمر او ستوري يې شاوخوا چورلېږي. د هغه مهال تر ټولو د باور وړ خلک کشيشان او ستوري پېژندونکي ول او د هر ډول مسايلو تعبير او تفسير يوازې د هغوی په واک کې و. خو کوپرنيکوس د ستورو پېژندونکو پر دروغو او جهالت پوهېده. د خپلې څېړنې او مطالعې له لارې يې

وموندله چې ځمکه د کائیناتو مرکز نه، بلکې یو ستوری دی چې د لمر شاوخوا ته گرځي. د کوپرنیکوس خبرې د هغه وخت شته نظریاتو سره اړخ نه لگاوه. د کشیشانو او واتیکان له غبرگون سره مخامخ شو او په عامه ځاینو کې به رټل کېده. نوموړی گوښه کړای شو او د هر هغه څه په اړه له ویلو څخه منع شو کوم چې د کلیسا د نظریاتو خلاف به و.
خو له دې ټولو سره سره یو شمېر کسانو په پټه د هغه د کړنو او نظریاتو قدر کاوه خو د افکارو په اړه یې چندان ډاډمن نه ول.
کوپرنیکوس له وېرې پرته خپل کار او څېړنې ته دوام ورکاوه چې بالآخره په یوه لسیزه کې یې بشپړ کړ، د خپل کار او څېړنې تر بشپړولو وروسته د هغه په وړاندې تر ټولو لویه ستونزه دا وه چې څرنگه خپلې څېړنې چاپ او خلکو ته ورسوي. خو له ټولو ننگونو سره سره هغه مخ ته لاړ او خپل کتاب یې چاپ کړ خو البته دغه کتاب یې دریم-پاپ پاول ته ډالۍ کړ، څکه پوهېده چې یوازې همدا سړی کولای شي د هغو مخالفتونو په وړاندې ودرېږي کوم چې دغه کتاب یې راپاروي. خو کله چې کوپرنیکوس د مرگ په بستر کې پروت و او د خپل ژوند وروستیو شیبو ته رسېدلی و چې یو څوک راغی او د هغه چاپ شوی کتاب یې ورکړ. کوپرنیکوس کتاب په خپل سینه باندې کېښود، فشار یې ورکړ او په همدې سره یې له نړۍ څخه سترگې پټې کړې. د کوپرنیکوس زړورتیا او عقیدوي غښتلتیا خورا پیاوړې وو.
عام شوي نظرونه ښایي تل سم نه وي، بلکې اړتیا ده څو څله ونتگول شي.

**زړورتیا ستاسو وړتیاوې څو برابره کوي**

کله چې دوه ورته او مساوي کسان سره سیالي کوي کوم یو چې زړور دی هغه میدان ګټي. کوم جرئت چې تاسې یې له ځانه ښیئ سیال مو احتیاط ته اړ باسي او دفاعي حالت خپلوي.

که چېرې له یوې ستونزې سره همدا نن مقابله ونه کړې سبا ته بله لویه ستونزه زېږوي او د سبا ستونزه د نن ستونزې د بابېزه ګڼلو له امله ده. د مسایلو له پامه غورځول ستونزې له منځه نه وړي، بلکې څو برابره یې لویوي. مهمه خبره دا ده چې په راتلونکې کې د لویې بریا لپاره له لنډمهاله کړاو سره مقابله وکړه. د بېلګې په توګه په سینه کې د ورو کې درد غم نه خوړل ښایي د وخت په تېرېدو سره د زړه د شدیدې حملې لامل شي.

***یو کلک او هوډمن سړی د سلو لټو او بېکاره کسانو کار کوي.***

زړورتیا، کلکوالی او ثبات دی چې له خطرونو سره مقابله کوي. د ځان او نورو په وړاندې د مسئولیت منلو تر څنګ به د یو څه د ترلاسه کولو په لټه کې یې.

لوویس بریل شاوخوا ۲۰۰ کاله وړاندې په فرانسه کې وزېږیده. پلار یې چرمي توکي جوړول. بریل چې یوه ورځ یې د چرمونو ګنډلو له ستنې سره لوبې کولې خپله سترګه ړنده کړه. بالآخره د ژوبلې سترګې عفونت بلې سترګې ته هم سرایت وکړ او په دواړو سترګو ړوند شو. له ړندو خلکو سره هغه مهال خورا بد چلند کېده او داسې انګېرل کېده چې ګنې ړندو کسانو ته خدای سزا ورکړې ده. پلار یې هغه د نابینایانو ښوونځي ته واستاوه او هلته یوه پخواني سرتېري د پړسېدلو تورو لمس کولو له لارې هغه ته لوستل ورزده کول. بریل د داسې سکرېپټ په جوړولو پیل وکړ چې ړندو کسانو کولای شول د خپل ګوتو په لمس کولو

سره هغه ولولي. په ۲۰ کلنۍ کې هغه دې نتیجې ته ورسېده چې یو کتاب خپور کړي چې په هغه کې دا تشرېح شوي چې د هغه دغه نوی سیستم څرنګه کولای شي له ړندو کسانو سره مرسته وکړي چې د ګوتو له لارې خط لوستلی وشي. بریل نه یوازې خپله ستونزه حل کړه، بلکې د نړۍ له ټولو ړندو خلکو سره یې مرسته وکړه چې لیک او لوست وکړي او علم ترلاسه کړي. د بریل دغه لیکدود په ټوله نړۍ کې مشهور شو. د بریل کیسه د ربښتیني زړورتیا بېلګه ده. د بریل په څېر خلکو نړۍ شتمنه او بډایه کړې او تر ابده ویاړل کېږي.

## د زړورتیا د ودې لپاره پنځه پړاوونه

تر هغه څه چې مونږ په ژوند کې تر لاسه کوو مهمه دا ده چې مونږ څه کېږو. ژوند او ځان دواړه ارزښتناک او قیمتي دي. کله چې مونږ ځان ته بدلون ورکوو خپل چاپېر نړۍ هم بدلوو. هغه څه چې مونږ کوو او هغه څه چې مونږ یو، په یوه خوځنده دوران کې دوه سره تړلي څیزونه دي. د منطق لرونکو موجوداتو په توګه مونږ کولای شو قصداً د خپل فکر بنې او چلند ته بدلون ورکړو. کوم پړاو چې په لاندې توګه یې یادونه شوې کولای شي زړورتیا ته د ودې ورکولو په برخه کې مؤثر تمام شي:

### ۱ـ له واقعیتونو سره ځان مخ کړه

د خپل فکر پر بنسټ پېښو توجیه یوه رواني دفاعیه ده چې تر ډېره له دردونکو واقعیتونو سره د تعامل د مخنیوي لپاره کارول کېږي. د لنډ مهاله ننګوني او کړاو له څنګه تېرېدل اوږد مهال سرخوږي رامنځته کوي. د یو واقعیت نه منل او اعتراف پرې نه کول د انسان د فکر بنه ګرځي. که مونږ د یوه واقعیت شتون ونه منو په حقیقت کې یا په تېره زمانه کې ژوند کوو یا په راتلونکې زمانه کې، نه په اوس زمانه کې. په

دې سره مـونږ حقیقتونـو تـه پـه انحـرافي ډول نظـر کـوو، شـکونه او وېـره د ځـان پـه وړانـدې راولاړوو. د داسـې څیزونـو او پېښـو پـه اړه بـه مـونږ وېـره لـرو چـې هېڅکلـه بـه نـه واقـع کېـږي. دا ډول خیـالي وېـرې یـو انسـان کمزوری کوي.

**۲ـ خپل ارزښتونو ته له سره کتنه وکړه او یو دریځ ونیسه**

لاربښـوونه او رهـبري پـه هغـو خلکـو کـې مونـدل کېـدای شي کـوم چـې د ارزښـتونو واضـح او څرګنـد سیسـتم او د دریځ نیولـو جرئـت او زړورتیـا لـري. همـدا لاربښـوونه ده چـې د زړورتیـا او بـې پروایـي تـرمنځ تـوپیر پـه ګوتـه کوي.

**۳ـ خپل شخصیت ورغوه**

شخصـیت زمـونږ لـه تېروتنـو او ناسـمو عقایـدو سره د مقـابلې او زمـونږ پـه وجـود کـې د زړورتیـا رامنځتـه کولـو اساس دی. مـونږ بایـد خپلـو ارزښـتونو او اصولو تـه لـه سره کتنـه وکـړو څـو د یـوه پـتمن او عـزتمن انسـان پـه توګـه ژوند وکړو.

**۴ـ د زړورتیا کوچني کارونه عملي کړه**

زړورتیـا پـه بانـک کـې د پیسـو پـه څېـر نـه ده چـې څـومره تـرې مصرفـوې هغـومره کمېـږي، بلکـې څـومره زړورتیـا چـې کـاروې هغـومره بېرتـه زیـاتېږي. مـونږ ډېـری وخـت د وېـرې لـه املـه نـه، بلکـې لـه دې املـه پـه پوره زړورتیـا د یـوې چـارې تـرسره کولـو تـه زړه نـه ښـه کـوو چـې یـا پـه خپـل همدغـه حالـت بانـدې راضي یـو او یـا ورتـه لـه سره لېوال نـه یـو. پـه دې لـه یـو ډول سـتونزو او کړاوونـو سره توافـق کـوو او دا لـه دې املـه ده چـې لـه اولـه مـو خوښـېده. ښـایي زمـونږ د نـن ورځـې ډېـرې لـویې سـتونزې حـل وای کـه چېـرې پـه تېـر کـې مـو لـه زړورتیـا بـرخمن یـو کـوچنی تصـمیم نیـولی وای.

**۵- سم تمرین د چمتو اوسېدو لامل کېږي**

هځه کوه څو راتلونکي شرایط او حالات وسنجوې او بیا د یوه نامعلوم څه پېښېدو ته چمتو اوسئ. په یاد مو وي چې تمرین تاسې په بشپړه توګه نه چمتو کوي خو هغه څه ثابت او تلپاتې کوي کوم چې یې تمرین کوئ. په ژوند کې کوچني انتخابونه بالآخره لویو هغو ته رسېږي او د لا لویو ننګونو په وړاندې درېدو ته یو کس چمتو کوي. ورځني ویاړلی ژوند هم زړورتیا ته اړتیا لري.

***کمزوري خلک هېڅکله مخلص کېدلای نشي- او ډارن خلک هېڅکله د چارو په ترسره کولو کې له ځانه زړورتیا نه ښيي.***

## عملي پلان

مونږ څرنګه کولای شو چې په خپل ورځني ژوند کې د چارو ترسره کولو جرئت خپل کړو؟

۱ـ له خپل ځان څخه لاندې پوښتنې وپوښتئ:

الف: څرنګه کولای شم په زړورتیا سره خپل ژوند بدل کړم؟

ب: هغه کومه چاره ده چې د زړه له کومې یې غواړم ترسره یې کړم خو د ترسره کولو جرئت یې نه لرم؟

ج: هغه کومې کړنې دي چې په ورځني ژوند کې یې د ترسره کولو تمرین وکړم او مهم والی یې په څه کې دی؟

۲ــ خپل ارزښتونه، اهداف او هغه فکرونه چې ته یې په سر کې لرې درې درې لېست کړه.

۳ــ د خپل اهدافو او خوبونو پایلې راوباسه چې څه به ترې ترلاسه کړې.

۴ـ دوه لاندې ټکو ته پام وکړئ:

الف: پورته درې ټکي لږ تر لږه د ۲۱ ورځو لپاره تمرین کړئ.

ب: د خپل کړنو مسئولیت په غاړه واخلئ.

ددې لپاره چې یو ویاړلی ژوند ولرئ باید له ځان سره یو قرارداد وکړې او له ژوند سره یوه ژوره اړیکه ټینګه کړې.

# د ځان ارزونه

# څلور څپرکی
# کرکټر او شهرت

یوه پلار وغوښتل خو خپل یو بې پروا زوی ته د هغه مسئولیتونه ور په گوته کړي او له بې پروایۍ څخه لاس په سر شي. خپل زوی ته یې وویل چې د هغه هرې تېروتنې او بې باکۍ په بدل کې به په کور کې شته د لرگیو پایه کې یو مېخ ټک وهي او هر کله چې یو ښه کار وکړي یو مېخ به له لرگي بېرته راکاږي. کله چې هلک ولیدل چې د ناسمو کړنو له امله یې په لرگي کې مېخونه زیاتېدل هوډ یې وکړ چې نور به سم کارونه کوي څو دغه مېخونه بېرته یو څه راکم شي. هلک له بې پروایۍ او د ناسمو چارو له ترسره کولو څخه لاس واخیست او پر ځای یې ښو کارونو ته مخه وکړه. په دې سره له لرگي څخه ټول مېخونه راوایستل شول. پلار یې خوشاله شو او ویې ویل: آفرین زویه اوس ښه هلک شوې. خو هلک په ژړا پیل وکړ. پلار یې ترې پوښتنه وکړه چې ولې ژاړې؟ هغه ځواب ورکړ، پلاره! مېخونه خو ټول ووتل خو سوري یې تر اوسه پاتې دي.

په پورته کیسه کې ځینې اخلاقي نتیجې شته دي او هغه داسې چې:

- ځینې تېروتنې د زده کړو د پروسې برخې دي او ښایي د مخنیوي وړ نه وي.
- تېروتنې که اصلاح هم شي نښې نښانې یې پاتې کېږي.

- ځینې تېروتنې داسې دي چې د اصلاح وړ نه وي او لوړه بیه پرې کول غواړي، د بېلګې په توګه له سرک څخه تېرېدلو کې بې پروايي او تېروتنه ښايي د یو ژوند له منځه تللو په بیه پرېوځي.
- بې خبري د هېڅ لحاظ نه کوي او نه هم دلیل کېدای شي چې یو څوک دې د بې خبرۍ له امله خپل لوی مسئولیتونه پر ځای کولای ونه شي.
- تجربه ډېر ښه ښوونځی دی خو فیس یې خورا لوړ دی.

څوک داسې نشي ویلی چې یو چا هېڅکله په خپل ژوند کې تېروتنه نه ده کړې او که تاسې یو څوک پېژنئ چې هېڅکله یې په خپل ژوند کې تېروتنه نه وي کړې په حقیقت کې دا به داسې یو څوک وي چې اصلاً یې په ژوند کې کوم اقدام او کار نه دی کړی. تېروتنه کول د نړۍ د پای ته رسېدو په مانا نه ده خو بیا ځلي تکرارول، ترې دفاع کول او په اړه یې دروغ ویل مصیبت او کړاو رامنځته کوي. هوښیار خلک له خپلې تېروتنې څخه درس اخلي خو ډېر هوښیار خلک بیا د نورو له تېروتنو څخه درس اخلي، دا ځکه چې زموږ ژوند دومره اوږد نه دی چې هر څه د خپلو تېروتنو څخه زده کړو.

مه پرېږدئ چې ژوند داسې یوې زمنځ په څېر شي چې د سر ګنجي کېدو څخه مو وروسته طبیعت یې موږ ته په لاس راکړي.

په دې مانا چې له هغو تېروتنو څخه به زده کړه څه کوې چې نشې کولای خپل ژوند کې ترې ګټه واخلې.

موږ ډېر څه په خپل ماشومتوب او یا د ژوند د ودې پر مهال زده کوو. د ژوند په اړه په کور کې دننه درس اخیستل او زده کول د هغه څه په پرتله لږ بیه پرې کول غواړي کوم چې په بهرنۍ نړۍ کې ترلاسه کېږي. دا ځکه چې په کور کې دننه موږ ته درس راکول کېږي خو په

بهرنی نړۍ کې بیا له موږ څخه آزموینه اخیستل کېږي. هغه ماشومان چې په کور کې دننه د پلار او مور خبرې او ګواښونه نه مني د عمر په لوړ پړاو کې به یې بیه پرې کوي.

**په سمه لار کې د یو چا هڅول او پر هغه لاس کښول د هغه د کرکټر د ودې لامل ګرځي.**

ژوند له لوړو و ژورو برخمن دی، راځئ چې ورسره مخ شو. په ژوند کې په سم لور روانېدل او خپله سمه لار موندل د شخصیت د غوره ودې په مانا ده. د وړتیا او شخصیت ترمنځ توپیر دا دی چې وړتیا مو یو لوړ ځای ته رسوي خو شخصیت مو بیا په هماغه موقف کې ساتي. موږ په ژوند کې له هر ډول خلکو سره مخامخ کېږو، له بې انصافه خلکو سره، له بې منطقه خلکو سره، له داسې خلکو سره چې زموږ وهلو او یا موږ ته د زیان رسولو لپاره په کمین کې ناست وي. مهمه نه ده چې موږ څومره د هغوی په وړاندې چمتو یو، ښايي تر اوسه هم موږ تېروتنې وکړو خو په وړاندې یې چمتو اوسېدل هغه ګوزارونه او ضربې کمزوري کوي کوم چې موږ ورسره مخامخ یو. هغسې چې یو شاعر وايي:

*د دې لپاره چې یو ملت پیاوړی او آزاد وي*
*تل باید داسې یو څه وي*
*تر هغو چې ارزښتونه او کرکټر ژوندي وي*
*خلک او ملت به خوندي وي*
*ملتونه او تمدنونه پر کرکټر ودان وي.*

## کرکټر څه دی؟

کرکټر کومه ډالۍ نه ده، بلکې هوښیاري ده. کرکټر د بڅرکو ټولګه ده چې د سخت زیار له امله ترلاسه کېږي. د ډېرو ځانګړتیاوو یوه ټولګه ده. دغه ځانګړتیاوې تر ډېره د یو چا باور، اعتماد او اخلاق رانغاړي.

غوره کرکټر لرونکي خلک له خپلو ارزښتونو سره ژوند کوي. هغوی په خپلو خبرو، خپلو کړنو او خپلو افکارو کې رښتيني دي. په غوره کرکټر کې د اصولو او ډسیپلین منلو ظرفیت نغښتی دی.

باکرکټره کسان د ښو او بدو ترمنځ توپیر کولو لپاره د خپل ارزښتونو پر سیستم تکیه کوي. د شخصیت ساتل د هغه بیا ترلاسه کولو په پرتله خورا آسان دي. شخصیت د ځان په وړاندې درناوی رامنځته کوي چې دغه درناوی بیا په ځان باندې د باور پیدا کولو لامل کېږي.

زمونږ پوخوالی زمونږ د کرکټر په بېلابېلو اړخونو کې رابرسېره کېدای شي که هغه د ملګرو ټاکل وي، که د پرېکړو کول وي او که هغه مسئولیتونه چې مونږ یې په غاړه اخلو.

## کارېزما او کرکټر

کرکټر تر کارېزما[٦] خورا مهم دی. ښایي ډېر ځله به یوې مغازې ته تللي یو چې پلورونکی به مو ښه سړی ونه ګڼي خو چندان د اعتبار وړ به راته نه وي ښکاره شوی؟ او پرته له دې چې څه مو پېرلي وي تش لاس له مغازې راوتلي یو. دلته د کرکټر او شخصیت[۷] ترمنځ توپیر شته دی. ښایي د یو چا شخصیت مو خوښ شي او یا مو خوښ نشي- خو کېدای شي مونږ ته د اعتماد وړ وي. شخصیت ورونه[۸] پرانیزي خو کرکټر بیا هغه پرانیستي ساتي.

بل کلنټن له دې امله چې د امریکا ولسمشر پاتې شوی و له زیات شهرت څخه برخمن و. خو په ۲۰۰۱ ز کال کې د امریکا سترې محکمې نوموړی د قضاء پلاوي په توګه له کارکولو څخه محروم کړ. همدارنګه نوموړی د اکسفورډ پوهنتون مشرۍ لپاره هم وړ ونه ګڼل شو او هغه هم له دې امله چې ښایي نورو ته ځینې شکونه پیدا شي.[۹]

له خلکو سره د هغو کسانو ناسم چلند چې په واک کې دي د هغو په پرتله چې په واک کې نه دي خورا زیان راوړونکی دی. ولې؟ ځکه هغوی د خلکو تر نظارت لاندې دي. هغوی د نفوذ او اغېزې مرکز دي

---

[٦]- **د کرکټر (Character) او کارېزما (Charisma) ترمنځ توپیر:** کاریزما د انسان د جذابیت ځواک دی او تر ډېره ظاهري جذابیت ته اطلاقېږي، چې نور خلک د ځان په لور راماتوي، خو شخصیت بیا د انسان د وجود داخلي ځانګړتیاوې او یا جذبې دي چې تر ډېره د انسان د فکر کولو بڼې ته اطلاق کېږي. **ژباړن**

[۷]: **د شخصیت (Personality) او کرکټر (Character) ترمنځ توپیر:** په شخصیت باندې نړی ته د انسان څرنګوالی په ګوته کېږي یا په بله وینا په انسان باندې نړی ته څرنګه ښکاري او یا د انسان ظاهري حالت په ګوته کوي. خو کرکټر بیا د انسان د وجود داخلي ځانګړتیاوې او جذبات ښیي او لکه چې وویل شول تر ډېر د انسان د فکر کولو بڼې پورې اړه نیسي. **ژباړن** .

[۸]- دروازې

[۹] - Source: Asian Age, ۲ october ۲۰۰۱' Hindustan Times, ۱٤ june

او هغـه کسـان چې بایـد زنـدان تـه واچـول شـوي خپـل کړنـې د هغـوی د چلند له مخې توجیه کوي.

**شهرت او کرکټر**

شـهرت هغـه څـه دی چې نـور خلـک زمـونږ پـه اړه فکـر کـوي او کرکټـر بیـا هغه څه دی چې مـونږ د خپـل ځـان پـه اړه پـوهېږو چې څـه یـو. پـه لانـدې کیسه کې دا موضوع واضح شوې ده.

یو وخت په کلیفورنیـا کـې زمـونږ د کـار پـه بـدل کـې یـوې بلـې کمپنـۍ بایـد مـونږ تـه ۵۰۰۰ ډالـر راکـړې وای. لـه وار وار غوښـتنو وروسـته ایلـه پـه شـپږ میاشتو کـې یـې پیسـې زمـونږ حساب تـه راولېږلـې. یـوه میاشـت وروسـته پـه حیرانـونکي توګـه مـو لـه ورتـه صـورت حسـاب څخـه بیـا دوهـم چـک ترلاسـه کړ.

پـه دې وخـت کـې زمـا سـکرټره شـعبې تـه راغلـه او راتـه ویـې ویـل: "هغـه خلـک دې پـه یـاد دي چې زمـونږ پیسـې یـې ٦ میاشـتې وځنـډولې؟ او چـک یې تېـره میاشـت راواسـتوه. خـو اوس د هغـوی لـه خـوا دوهـم چـک مـونږ تـه راغلی دی. څه باید وکړو؟"

آیـا هغـه نـه پوهېدلـه چې لـه چـک سره بایـد څـه وشي؟ ولـې هغـه ماتـه راغله؟ هغه راغله څو زما نبض وګوري!

ما ترې پوښتنه وکړه، "که زه دلته نه وای تا به کړي وای؟"

مونږ څو انتخابونه لرل:

- مـونږ کـولای شـول چې دغـه چـک لـه بانـک څخـه راوباسـو او ښـایي هغـه کمپنـۍ هـېڅ پـوه شـوې هـم نـه وای او مـونږ بـه ۵۰۰۰ ډالـر اضافي ترلاسه کړي وای. خو آیا مونږ تر لاسه کړل؟
- مونږ کـولای شـول چې لـه بانـک څخـه پیسـې راوباسـو او ښـایي پـه یـو یـا دوه کلونـو کـې لـه داخلـي تفتـیش څخـه وروسـته هغـه کمپنـۍ پـوه

شـوې واى، چې مـونږ تـه يـې دوه ځلـه پيسـې اسـتولي دي بيـا بـه يـې زنګ واهه چې زمونږ پيسې چې په تېروتنـه مـو درکړي بېرتـه راکـړئ. بيـا بـه مـونږ لـږ څـه ځـان حيـران ښـودلی وای "اوه، دا څـه وايـې، سـمه ده مـونږ بـه خپـل حسـاب يـو وار وګـورو او ستاسـې پيسـې بـه بېرتـه درکـړو." کـه څـه هـم مـونږ پوهېـدو چې هغـوی پـه سـمه دي خـو مـونږ پـه خبره بانـدې ځـان ناګـاره واچـوه. بيـا بـه مـو پـه سبا ورتـه زنـګ واهـه چې "هـو، ولا ستاسـو پيسـې دوه ځلـه مـونږ تـه راغـلي دي، مـونږ بـه ستاسو اضـافي پيسـې بېرتـه درکـړو." مونږ بـه ښـايي صـادق يـا رښـتيني بریښېدلي وو خو آيا په رښتيا همداسې و؟

هغه څه چې هغـې کمپنـۍ وکـړل لـه يـوه يـا دوه کلونـو وروسـته يـوازې مـونږ تـه يـو ټيليفـون کـول و او خپلـې پيسـې يـې ترلاسـه کړلـې او مـونږ لګيـا يـو د صـداقت او رښـتينولۍ شـهرت جـوړوو. خـو آيـا پـه رښـتيا هـم مـونږ رښـتيني او صادق يو؟

- سم انتخـاب دا و څـو داسې مو نه وای ښودلي چې مـونږ هـم تېـروتي يـو او د دوهـم ځـل لپـاره مـو لـه تاسـو پيسـې اخيسـتي دي. کلـه چې د هغوی له خوا دوهم چک راغلی و مونږ بايد بېرته ور استولی وای.

يـاده پېښـه د يـو سـم څـه لپـاره د يـو سـم کـار کولـو او د ناسـم څـه لپـاره د سم څـه کولـو تـرمنځ تـوپير پـه ګوتـه کـوي. ځينـې خلـک صـادق او رښـتيني دي او هغـه ددې لپـاره چې پـه همـدې بـاور او عقيـده دي چې دا سـم کـار دی. ځينـې نـور خلـک بيـا رښـتيني دي او هغـه ددې لپـاره چې نـه غـواړي په دروغو کې ګير شي.

هغـه کورونـه هغسـې چې لـه بانـدې ښـکاري ښـايي لـه دننـه خـوا څخـه هغسـې نـه وي. ښـايي د يـو يـې بنسـټ کمـزوری وي او ښـايي کلـه ناکلـه يـې ان بـاد هـم ولـړزوي. خـو د ځينـو نـورو يـې بيـا ښـايي بنسـټ خـورا

پیاوړی او کلک وي او د هر ډول حالت په وړاندې تاب راوړلی شي. شخصیت ته ورته ده. هېڅکله یوه کلکه او مضبوطه ودانۍ په یو کمزوري بنسټ باندې رغول کېدای نشي، یوه غوره او مسئولانه ژوند هېڅکله د یوه کمزوري شخصیت پر بنسټ نشي کېدلای.

شخصیت د نظم یا ډسیپلین او د مسئولیت احساس په څېر له غوره ارزښتونو څخه جوړ دی او ډېرې ګټې لري. تر ټولو هغه یې دا ده چې د ژوند په ټولو برخو کې انډول رامنځته کوي.

ددې لپاره چې د شخصیت او شهرت ترمنځ توپیرونه لا څرګند شي په لاندې توګه واضح شوي دي:

| کرکټر | شهرت |
|---|---|
| کرکټر هغه څه دی چې مونږ د خپل ځان په اړه پوهېږو چې څوک یو. | شهرت هغه څه دی چې نور خلک یې زمونږ په اړه فکر کوي |
| کرکټر رښتیا دی. | شهرت انځور دی |
| کرکټر حقیقت دی | شهرت یو پوښ او غلاف دی |
| کرکټر یوازې د خپله شخص له خوا ویجاړېدلای شي | شهرت د نورو له خوا زیانمن او ویجاړېدای شي |
| کرکټر یوه بریا ده | شهرت یو انعام یا جایزه ده |

| | |
|---|---|
| شهرت د نورو له خوا ستاینې راماتوي | کرکټر د نورو باور او اعتماد د ځان په لور راماتوي |
| شهرت ظاهر دی | کرکټر باطن دی |
| شهرت تصور دی | کرکټر اصل یا جوهر دی |
| شهرت ښايي جعل شي | کرکټر ثابت او د رښتینو ارزښتونو منعکس کوونکی دی |
| شهرت ښايي اغراق وي | کرکټر ستاسو د توازن او انډول بانک دی |
| شهرت ښايي ستاسې د قوت د ټکو منعکس کوونکی وي. | کرکټر د قوت د ټکو سمې کارونه کې ترسترګو کېږي |
| شهرت ښايي په یو عمل ترسره کولو سره ترلاسه شي | کرکټر د ډېرو کړنو له ترسره کولو سره جوړېږي |
| کرکټر د ډېرو کړنو له ترسره کولو سره جوړېږي | کرکټر د بلوط ونې په څېر وده کوي |
| شهرت ښايي په مغزو او ښکلا جوړ شي | کرکټر په ارزښتونو او لید جوړېږي |

Scanned by CamScanner

| | |
|---|---|
| شهرت د ښيښي په څېر ماتېدونکی دی | کرکټر د يوه تهداب او بنسټ په څېر کلک دی |
| شهرت هغه څه دی چې ښايي تاسې په ميراث وړی وي<br>شهرت د هغه څه له امله جوړېدلی شي چې نور يې لپاره | کرکټر هغه څه دی چې ستاسو نسل يې له تاسو په ميراث وړي<br>کرکټر د هغه څه له امله جوړېږي چې تاسې يې لپاره پريوځي.<br>درېږئ. |
| شهرت د هغه څه له امله جوړېدلی شي چې نور يې لپاره | کرکټر د هغه څه له امله جوړېږي چې تاسې يې لپاره پريوځي.<br>درېږئ. |

شخصيت او شهرت زمونږ هغه انځورونه دي چې له مخې يې خلک پر مونږ قضاوت کوي. ښايي له برکته يې ډېر خلک ځان ته جذب کړو خو د اصل او جوهر (کرکټر) د نه شتون له امله ډېر په آسانی وشيندل شي. که چېرې شهرت ځلا وي کرکټر هغه حقيقت دی چې د رښتيا او اعتماد پر بناء ولاړ دی. د شهرت مؤقت والی په هغه کې د بدلونونو له رامنځته کېدو څخه ښکاره دی. له بلې خوا له تا پرته له بل هېڅوک نشي- کولای چې ستا کرکټر ويجاړ او يا ورغوي. له کرکټر پرته د شخصيت او شهرت په صورت کې ژر وي که څنډ له يو بل څخه خپله لار جلا کوي. يو وروست شوی لرگی به تر کله کړوې؟

## کرکټر جوهر دی

مـونږ اصـل یـا جـوهر تـه اړتیـا لـرو څـو وکـولای شـو غـوره او ویـاړلی ژونـد ولرو. ځیني خلک د یو څه له اصل څخه د هغه ظاهري بڼې ته ارزښت ورکوي. څو ځلېدونکی ظاهر هېڅکله نشي- کولای تر اوږد مهاله د یو څه باطني کم اصل والی یا په بله وینا د کرکټر ټیټوالی پټ وساتي.

تاسو به لیدلي وي لکه څرنګه چې له یو بې کیفیته لرګي څخه یو ښه ځلېدونکی میز یا څوکۍ نه جوړېږي. که هر څومره ځلا ورهم کړئ کوم سم څه تري نشي- جوړېدای، خو برعکس بیا ښه جنیست لرونکی لرګی له ډېرې لږې ځلا سره خپل اصلي رنګ و رُخ باسي. همدا د شخصیت رښتینوالی دی چې قوت یې د هغه دوامداره اصلیت په ګوته کوي.

د یوې ټولنې او هېواد کیفیت او څرنګوالی هم د هغه د خلکو او ولس په کرکټر او اخلاقو پورې تړاو لري. کرکټر، اخلاق او اصول هغه څه دي چې د وګړو ژوند یې پر بنسټ جوړېږي. حتی ساینس او ټکنالوژي هم د کرکټر له شته والي پرته مؤثر تمام شي.

## کرکټر- ذاتي دی که کسبي؟

کرکټر داسې څه نه دی چې له پیدایښت راهیسې له مونږ سره وي، بلکې یو زده کېدونکی سلوک او چلند دی. کله چې مونږ له نړۍ سره مخامخ کېږو زمونږ ارزښتونه له مونږ سره د مرستې په خاطر رادانګي.

*"زمونږ هر یوه په وجود کې دوه ډوله قوې له یو بل سره په جګړه دي، غوره قوه او شیطاني قوه. په ټول ژوند کې ددغې جګړې شته والی حتمي دی او باید یوه پر هغې بلې بریالی شي. هو دا زمونږ په لاس کې ده چې کوم یوه غوره کوو."*

*جکلي او هایډ کلب، نیویارک ښار*

د زړه او سر لپاره يو بشپړ لوست او ترېنينګ ته اړتيا ده څو غوره کرکټر رامنځته شي. ژوند د روح او اخلاقو يو سفر دی. دا بې مانا خبره ده چې په ناڅاپي توګه دې کومه ښه غوره ارزښتونه رامنځته کړي. غوره او ښه کرکټر د غوره او ښه چلند پايله ده.

کله چې مونږ له يوه نا آشنا او پردي چاپېريال سره مخامخ کېږو همدا کرکټر دی چې زمونږ مرستې ته رادانګي او د خپل او نورو خلکو د قوت او ضعف ټکي را په ګوته کوي. هغه هوښياري او ذکاوت راکوي چې کولای شو ښه او بد وپېژنو. بيا هم کرکټر دی چې مونږ ته دا رازده کوي چې څه ته بايد پام وکړو او څه له پامه وغورځوو، کله مبارزه وکړو او کله ځان ګوښه کړو، کله د نورو واورو او کله په خپله تصميم ونيسو.

**"کرکټر زمونږ له غوره او ښو جذباتو څخه سرچينه اخلي، پر هغو خيالونو او افکارو له باور څخه چې پر حقيقت باندې د بدلېدلو په اړه يې ډاډمن نه يو."**

***ريچارډ بچ ون***

د کرکټر ساتنه او پالنه له يوه ګاډي څخه د ساتنې او پالنې په څېر ده. د ښه تګ لپاره غوره مراقبت ته اړتيا لري. د کرکټر رغېدل دقيقه په دقيقه کېږي خو د کړکېچ پر مهال بيا راڅرګندېږي. يو ورزشکار په دوامداره توګه خپل تمرين ته دوام ورکوي خو د سيالۍ پر مهال بيا خپلې وړتياوې ننداري ته ږدي. په ورته ډول يو څوک نشي- کولای چې خپل کرکټر ته د کړکېچ پر مهال وده او روزنه ورکړي، بلکې خپل چمتووالی ښيي.

**"يو غوره کرکټر لرونکی انسان هېڅکله ناسم کار نه کوي که څه هم پوه شي چې هېڅوک يې ليدلی يا ګير کولای نشي."**

## عملي پلان

په ژوند کې د یوه ویاړلي کرکټر جوړولو لپار قوانین

۱ـ د باور وړ او ریښتیني انسان په توګه ژوند وکړئ.

۲ـ هېڅکله چل ول مه کوئ.

۳ـ هېڅکله غلا مه کوئ، د چا له اجازې پرته یو څه مه اخلئ.

۴ـ خپل ملګري په دقت سره وټاکئ، نه یوازې دا چې له یو چا سره د ملتیا له لارې خپل کرکټر برسېره کوئ، بلکې د یو چا له ملګرتیا څخه ډېره کول هم ستاسو کرکټر په ګوته کوي.

۵ـ هېڅکله هڅه مه کوئ چې ملګرتیا په بیه واخلئ او له دې ډول خلکو ځان لېرې ساتئ ځکه ملګرتیا د پېر او پلور لپاره نه ده.

٦ـ له لوړ کرکټر لرونکو کسانو سره ملګرتیا وکړئ.

۷ـ خپله تګلاره د ارزښتونو پر بنسټ وټاکئ. ښه څه ترسره کړئ، ځکه همدا سم څه دي چې ترسره شي.

۸ـ له دې فلسفې سره ژوند وکړئ چې تل له تمې زیات څه ورکوئ. تل له هغه څه زیات ورکوئ کوم چې په بدل کې یې تاسو ته درکول شوي دي.

۹ـ په خپلو ژمنو باندې کلک درېدلي اوسئ.

۱۰- د مسئولیت منلو په لټه کې اوسئ نه پر نورو د واک چلولو.

۱۱ـ له نورو سره د مرستې کولو له لارې خوښي رامنځته کړئ. له نورو سره د مرستې لپاره کله کله خپله لار بدله کړئ.

۱۲ـ تل د اعتماد او باور پیاوړي کولو په لټه کې اوسئ.

۱۳ـ په خلکو پسې سپکې سپورې مه وایئ ځکه دا مو کرکټر کمزوری ښیي.

۱۴- تل هڅه کوئ څو خپل وجدان ژوندی وساتئ.

۱۵- څو چې مو ټول حقیقتونه نه وي درک کړي هېڅکله د خلکو په اړه له وخته وړاندې قضاوت مه کوئ.

۱٦- خپل رول اداء کوئ، یعنې د چا تقلید مه کوئ. جعلي کس مه اوسئ، خو دا په دې مانا هم نه ده چې خپل ناوړه او بد اړخ برسېره کړئ. په خپلو منفي کړنو مه ویاړئ. هڅه وکړئ چې نورو ته وده ورکړئ خو داسې نه چې ځان هېر کړئ.

۱۷- له نورو سره مرسته وکړئ. د نورو په ناکامولو کې تاسې هېڅکله نه کامیابېږئ. تل له نورو سره د مرستې کولو فکر له ځان سره ولرئ.

۱۸- که کومه تېروتنه مو وکړه، بښنه وغواړئ. د نورو د تېروتنو په وړاندې هم زغم ولرئ. د نورو له تېروتنو زده کړئ او خپل ځان ترې وساتئ. تېروتنې کول حتمي دي خو مصیبت رامنځته کول انتخابي.

۱۹- خپل مور او پلار ویاړمن کړئ. دوی په تاسو حساب کوي. د خپل مور او پلار د ټولو هغو کړنو لپاره چې ستاسو لپاره یې کړي دي، منندوی اوسئ. د ربښتیني پلار او مور لرل یو ستر میراث دی. خپلو اولادونو ته ښه میراث پرېږدئ.

۲۰- تل نرمې کلمې وکاروئ خو کلک استدلال وکړئ.

۲۱- لطفاً، مهرباني، مننه، په درنښت، هغه کلیمې دي چې هېڅکله نه زړېږي. له چټي الفاظو او تورونو ځان وژغورئ.

۲۲- د نورو خبرو ته ښه غوږ نیونکي اوسئ. د بل چا په خبرو کې مه لوېږئ او د بل چا خبرې هم مه بشپړوئ.

۲۳- تل نرم او زړه سوانده اوسئ. یوازې کمزوري خلک سخت زړي او ظالم وي.

۲۴- د بې ارزښته کېدو پر ځای ځان ته ارزښت ورکړئ.

۲۵ـ له آوازو او بې بنسټه خبرو څخه ځان وساتئ. خپلې خبرې له رخې او کرکې څخه لېرې وساتئ. پر نورو ټوکې او مسخرې مه کوئ ان که فرصت هم په لاس درځي.

۲٦ـ تل مصروف اوسئ. داسې يوه ټولنه جوړه کړئ چې په پراخه توګه نورو ته ګټه ورسوي.

۲۷: هره اونۍ يو غوره کتاب ولولئ، روح به مو ښاد کړي.

# د ځان ارزونې پاڼه

# پنځم څپرکی
# سم او ناسم رهبران

*غوره رهبران لارښوونه کوي، بد رهبران بېلارې کول.*

یوه هندي کیسه ده چې په دې کې یوه مور له خپل مرشد څخه پوښتنه وکړه "آیا ژوند په رښتیا له ستونزو ډک دی؟" مرشد ځواب ورکړ: "هو همداسې ده، خو که سم عمل وکړې او ښه کارونه ترسره کړې د ژوند پای تر پیله ښه وي." مور خپلو بچیانو ته وکتل او له ځان سره یې وویل: "هېڅ شی تر دې غوره نه دي چې دغه ماشومان په سمه توګه وروزل شي او په راتلونکې کې ارزښتونو ته ژمن مشران شي." شپه راغله، ماشومان وېرېدل، مور یې هغوی ټول ځان ته رانږدې کړل. ماشومانو وویل:" مورې! تر هغه وخته چې ته له مونږ سره یې له هېڅ شي څخه نه وېرېږو." مور له دې خبرې سره په بل سوچ کې ولوېده او له ځان سره یې فکر وکړ:"تر دې به بل هېڅ غوره څه نه وي چې دغه ماشومان زړور را لوی شي."

بله ورځ مور او ماشومانو یې یوې لوړې غونډۍ ته د ختلو تکل وکړ، غونډۍ ته د ختلو په لار کې مور ماشومان هڅول چې"له لږ نور زغم او هڅې سره کولای شي د غونډۍ سر ته ځانونه ورسوي. "ټول ماشومان د غونډۍ سر ته ورسېدل او بیا یې خپلې مور ته وویل: "مورې! له تا پرته مونږ دا کار نشوای کولای." په دې شپه د ماشومانو مور ستورو ته وکتل او له ځان سره یې وویل: "ډېره ښه او غوره ورځ وه

ځکه ماشومانو یې په ژوند کې د شته خندونو په وړاندې د کلک هوډ لرل زده کړل.″

بله ورځ توپان راغی. مور خپل ماشومانو ته وویل: ″له وریځو ورهاخوا د لمر ځلېدونکو وړانګو ته وګورئ.″ ماشومانو له تیارو ورهاخوا فضا ولیده. په دې شپه مور په سجده ولوېده او شکر یې اداء کړ چې: ″تر دې بل غوره څه نشته چې ما خپلو ماشومانو ته دا وړتیا ور په برخه کړه چې له تیارو ورهاخوا نظر وکړي.″

کلونه تېر شول، مور کمزورې او رنځوره شوه په داسې حال کې چې زامن یې اوس پیاوړي او دنګ ځوانان وو. له خپلې مور څخه په پالنه او ملاتړ کې د هغوی زړورتیا او لوړ شخصیتونه ځلېدل او له هغې څخه یې په ډېرې مهربانۍ ساتنه او پالنه کوله.

بالآخره هغه ورځ راورسېده چې مور باید نور له نړۍ کوچېدلې وای. ویې ویل: ″بچیانو زه د خپل ژوند د سفر پای ته رسېدلې یم او اوس زه پوهېږم چې پای تر پیله غوره دی، ځکه زما ماشومان اوس په یوازې سر مخ ته ځي او د دوی ماشومان به هم د دوی په پله پل ږدي.″

زامنو یې ځواب ورکړ: ″مورې ته به له مونږ سره یو ځای یې، ان کله چې له دې نړۍ څخه ځې هم.″ ان هغه وخت چې هغوی لیدل چې مور یې له دې نړۍ څخه ځي خو یو بل ته یې ویل: ″زمونږ د مور په څېر یوه مور چې له نړۍ روانه هم ده یوه خاطره نه ده، بلکې له نړۍ څخه له تګ وروسته هم هغه له مونږ سره ده. ″هغه به لیدل کېږي نه، خو تل به زمونږ په سترګو کې وي.

دې ته رهبري وایي، داسې رهبري چې له ځانه یو څه په میراث پرېږدي، داسې یو میراث چې نورو ته وړتیا ورکوي چې په خورا

زړورتیا، کلک هوډ خپل ژوند ته دوام ورکړي او دا وس وربښي چې پراخ لید ولري.

ریښتیني رهبري دا ده چې د بدلون رامنځته کولو وسیله وګرځي، څو نورو ته جرئت وبښي او ویې هڅوي چې سمه لار تعقیب کړي. غوره رهبر د خلکو ذهنونو ته نوی فکر ډالۍ کوي او عمل کولو ته یې هڅوي. د خپل ترلاس لاندې کسانو یا لارویانو د کنټرولولو پر ځای، هغوی ته وړتیا او پیاوړتیا بښل د ریښتیني رهبرۍ نښه ده.

**په لاندې کیسه کې یو پلار خپلې لور ته له نړۍ سره د مخامخ کېدو وړتیا بښي:**

په ښوونځي کې د پلار ورځ نمانځل کېده او د ټولو نجونو پلرونه په دې ورځ ښوونځي ته حاضرېدل او په مراسمو کې یې ګډون کاوه. خو ددغې نجلکۍ مور هڅه وکړه چې په دې ورځ هغه ښوونځي ته له تګ څخه راوګرځوي او ور په یاد کړي چې پلار یې نشته څو ورسره لاړ شي، خو نجلکۍ ونه منله، ځکه پوهېدله چې خپلو ټولګیوالو ته د خپل د پلار د نه شتون په اړه څه ووایي. وروکې نجلۍ ښوونځي ته روانه شوه او دې ته لېواله وه چې خپلو ټولګیوالو ته د خپل هغه پلار په اړه خبرې وکړي کوم چې نه یې ګوري او نه غږ ورته کوي.

مراسم پیل شول او هرې زده کوونکې ته به بلنه ورکول کېده چې خپل پلار معرفي کړي، بالآخره ددغې نجلکۍ وار ورسېده، کله چې نوم یې واخیستل شو ټولو زده کوونکو او ښوونکو هغې خوا او دېخوا کتل چې د هغې پلار چېرې دی؟ یو زده کوونکي غږ وکړ: "پلار یې چېرې دی؟" بل غږ کړ: "ښایي چې پلار به نه لري." یو بل پلار غږ وکړ چې "ښایي ډېر زیات مصروف به و او نه غواړي چې دلته خپل وخت ضایع کړي." نجلۍ چې خپل لاسونه شا ته نیولي وو په خبرو یې پیل وکړ،

هغه ماشومه وه خو خورا بې ساري خبرې یې له خولې وتلې، زما پلار دلته راتللی ونشو ځکه ډېر لرې اوسېږي. خو په دې پوهېږم چې د هغه نېکې هیلې د نن ورځې په مناسب له ماسره دي. زه دلته یوازې نه یم. ځکه: "زما پلار تل له ماسره دی. "که څه هم اوس سره جلا یو، ځکه هغه ما ته ویلي چې تل به زما په زړه کې وي. د پلرونو په ډله کې د ولاړې نجلکۍ د مور له سترګو اوښکې وبهېدې او خپل لور ته یې کتل چې د خپل عمر په پرتله خورا ډېره هوښیاره او پوه ده.

نجلکۍ د خپلو خبرو په پای کې یو روښانه پیغام درلوده: "زما پلار ما ته ډېر ګران دی، هغه دلته نشته ځکه چې جنت خورا لرې دی. هغه د اطفائیې مامور و او تېر کال ومړ. خو کله چې زه خپلې سترګې پټوم هېڅکله فکر نه کوم چې هغه له مونږ څخه تللی دی او بیا یې خپلې سترګې پټې کړې او په دې ورځ یې هم خپل پلار ولیده."په تالار کې شته ټولو پلرونو او ماشومانو له هغې سره یو ځای خپلې سترګې پټې کړې. نجلکۍ وویل: "پلاره! زه پوهېږم چې ته له ماسره یې."

هو یو پلار ان له نړۍ څخه له خپل تګ وروسته هم یو رهبر تر شا پرېښوده.

یو رښتینی رهبر د خپل لارویانو زیاتولو پر ځای د نورو رهبرانو روزلو او ټولنې ته د هغوی په وړاندې کولو باندې کار کوي. یو رهبر په خلکو کې دا هیله را ژوندۍ کوي چې له هغه وروسته د هغه ماموریت مخ ته یوسي. د نویو رهبرانو رامنځته کول باطني داډ او وړتیا ته اړتیا لري. په پوره ډاډ سره پر یوې پخې لارې ګام اخیستل د رهبرۍ بل نوم دی.

**رهبري څه ده؟**

رهبري له احساساتو برخمنو ویناوو اورول او د لاریونونو مشري کول نه ده. رهبري په باور او اعتماد پورې تړلې ده او یوازې هغه کسان نورو

تـه بـاور او اعـتماد ښښـلی شي چـې د کوچنيـو ځيزونـو پـه وړانـدې لويـو ښـېګڼو تـه د رسـېدو پـه هـدف د خپـل نفـس د کـابو کولـو وړتيـا لـري. مهاتما ګانـدي نـه وسلې درلودې او نـه پيسې، بلکې دا وړتيا يې لرله چې پـه ميليونونـو خلـک وخوځـوي. د هغـوی بـاور او اعـتماد يـې لـه ځـان سره درلود، ځکه تر شا يې ولاړ وو.

رهـبري تـر ډېـره هغـه مهـال رابرسـېره کېـږي چـې خـاورې ځځلـې لانـدې شي او وضـعيت زمـونږ پـر خـلاف وي. کـه کولومبـوس بېرتـه راغلـی وای، ملامت شوای به نـه و، هغـه بـه د چا پـه يـاد هـم نـه و. هـر غـوره او پيـاوړي رهـبر خپـل اسـتقامت ښـودلی دی. شخصاً د يـوه رهـبر کړنـې لـه هغـه څخـه د پيـروۍ لپـاره د نـورو پـه هڅولـو کـې د کتلسـت يـا وسـيلې پـه توګـه کـار کوي.

يـوه تـر ټولـو لويـه هيلـه چـې يـو پلـوی يـې لـري دا ده چـې د خپـل رهـبر لـه مخـې وپېژنـدل شي. هغـه رهـبر چـې خپلـو لارويـانو تـه دغـه ډول هويـت يـا پېژنـدګلوي وربښـي همدغـه هويـت د هغـوی د کړنـو او فعـاليتونو د عامـل په توګه کار کوي. رهبران بـه يـا ښـه وي يـا بـد يـا بـه مـؤثر وي او يـا بـه هـم غير مؤثر. د خنثى په نامه کوم څه نه شته.

ښه او غوره لارښوونه کوي او ناسم رهبران بېلارې کول کوي.

***خلـک لـه داسـې رهبرانـو څخـه پيـروي او تقليـد کـوي چـې ژونـدي دي او ساه اخـلي، لـه خيـالي شخصـيتونو څخـه پيـروي نـه کـوي. رهـبران خپلو پيروانو ته داسې دي لکه د ناهيلو کسانو لپاره يوه هيله.***

**يوازې يو پلار***

*يـوازې پـلار دی چـې لـه ورځنـي کـار څخـه سـتړی سـتومانه لـه ورځنـي کـار څخه راستنېږي.*

*یوازې پالر خپله خوله تویوي څو خپلو ماشومانو ته د هغوی د ژوند لار هواره کړي.*

*خپلې ټولې چارې په خورا زړورتیا ترسره کوي، هغسې چې ده ته یې پالر ترسره کړې.*

*یوازې یو پالر، خو تر ټولو غوره انسان.*

*ایډګار ګیست*

رهبري یوازې د جګړې په ډګر کې او یا په کړکېچن حالت کې نه معلومېږي، بلکې د هرې ورځې په کړنو او فعالیتونو کې ځرګندېږي. د بېلګې په توګه:

- یوه مور په لږ عاید سره څلور ماشومان لویوي.
- میندې او پلرونه خپلو بچیانو ته ښه روزنه ورکوي.
- یو څوک له خپل ګاونډ څخه خاورې او خځلې لېرې کوي.
- یو څوک ښوونځي ته د ماشومانو د تګ لپاره یو کمپاین رهبري کوي.
- یو څوک له یوه سپین ږیري سره مرسته کوي چې له سړک څخه تېر شي.
- یو څوک د یوې زړې مور بار له هغې سره تر خپل ځایه رسوي.

دوی د ورځنـي ژوند ناپېژندل شوي او نه ستایل شوي رهبران او مخکښان دي. دا یوازې هغه مهال شونې ده چې تاسې د خپل ځان، خپلې ټولنې او خپلې کورنۍ په وړاندې د خپل مسئولیت د لویې برخې اداء کولو هوډ وکړئ.

په ورځني ژوند کې شته ننګونې کېدای شي وېرونکې وي. خو رهبري بیا ورته تسلیمېږي نه، بلکې د ښه او غوره چاپېریال رامنځته کولو تر

ځنګ د فکر کولو پـه بڼـه رامنځتـه کـوي. رهبري د فکر کولو بڼـې تـه پـه درنه سترګه ګوري او د یوه دلیل له مخې راولاړېږي.

**هغه څه وخت و کله چې تاسو یو وروستی دریځ ونیو؟**

رهـبران لـه زړورتیـا بـرخمن دریځونـه نیسي. خـو لـه بلـې خـوا داسې کسـان لـه داسـې وضـعیت سره لـه مخـامخ کېـدو څخـه ځـان سـاتي چـې هغـوی ننګوي. زمونږ ژونـد پـه هغـه ځـای او وضـعیت پـورې نـه دی تړلـی کـوم چـې پکـې یـو، بلکـې پـه دې پـورې تړلـی چـې مـونږ څـه یـا څنګـه یـو. مـونږ [د رهبرانـو بـرعکس] لـه خلکـو سره یـو ځـای څـو څـو یـو ځـای ورسـېږو. ځکـه چـې مـونږ هوسـاینه غـواړو او ننګـونې نـه منـو. مـونږ لـه درنـاوي نـه زیاتـه ستاینه غواړو.

***د سـړک پـه مـنځ کـې درېـدل خـورا خطرنـاک دي؛ ځکـه لـه دواړو خـواو د ګاډو شتون سړی ګنګس کوي.***

***مارګریټ تاچېر***

**ولې خلک له دریځ نیولو څخه وېره لري؟**

ددې لپـاره چـې دریـځ نیـول یـو څـه کـړاو لـه ځـان سره لـري. تـر هغـه وختـه چـې خلـک هوسـاینې تـه تـرجیح ورکـوي ټولنـه مخ پـه ځـوړ روانـه وي. هغـه خلـک چـې لـه دریـځ نیولـو څخـه وېـره لـري هغـوی غـوره ګڼـي چـې تـل ګوښـه وي. هغـوی د یـو څـه کولـو ارمـان لـري خـو هېڅکلـه د تـرسره کولـو جرئت یې نه لري له همدې امله د باور وړ نه دي.

***کـه یـو څـوک ونـه توانېـده چـې یـو څـه ترلاسـه کـړي او د هغـه لپـاره مړي، هغه د ژوند کولو جوګه نه دی.***

***مارټین لوټر کېنګ***

ځینـې خلـک نـه غـواړي چـې هغـه مسـئولیت او حسـاب ورکولـو تـه غـاړه کېـږدي کـوم چـې پـه ده پـورې اړه لـري. دا ډول کسـانو تـه آسـانه لاره دا

وي چې پلمې جوړې کړي او ملامتیاوې پر نورو واچوي. دا نه یوازې د دوی خپله تېروتنه ده، بلکې د مبارزې پر ځای گوښه او آرامه پاتې کېدل غوره گڼي. دا ډول خلک داسې احساس کوي چې؛ "زه ډېر کمزوری او بېوسه یم خو کومه ستونزه یا ننگونه چې زما په وړاندې شته خورا لویه ده. ځکه زه کوم بدلون نشم رامنځته کولای." دا خلک له کړاونو سره د هوساینې احساس کوي، له کړاو او مصیبتونو سره په آسانۍ توافق کوي ځکه چې له بدلونونو څخه وېره لري.

**یو دریځ ونیسئ**

له دریځ نیولو پرته، له ټولنې سره د مرستې په هدف هېڅ ډول بله گټوره لار نشته. د استقامت او ضدباری یا لجاجت ترمنځ یوه کرښه شته ده، او هغه شهرت دی.

د دریځ نیول په دې مانا ده چې ته د یوې موضوع په پلوي او یا خلاف یو کلک موقف نیسې.

د تاریخ په اوږدو کې ټولو غوره رهبرانو چې یو دریځ نیولی دی د کړاو منلو ته هم چمتو پاتې شوي دي. شکنجه شوي دي، ژوندي اور ته اچول شوي دي، جلاوطن شوي دي خو د ټولنې او هېواد پر ملي گټو یې معاملې نه دي کړې. دا ډول رهبرانو په دې فلسفې باور درلود چې د ژوند کلونه مهم نه دي، بلکې هغه اصول مهم دي کوم چې په خپل ژوند کې د هغوی لپاره یې دریځ نیولی دی.

د رښتینولۍ، صداقت او اخلاقو په بیه د یوه ناسم او ارزانه شهرت ترلاسه کول داسې دي لکه د یوه بې ویاړه «ویاړ» ترلاسه کول.

هر هغه څه چې ډېر مشهور دي حتمي نه ده چې سم او رښتیا دې وي او هر هغه څه چې سم او رښتیني دي حتمي نه ده چې مشهور دې وي.

***له هر هغه څه سره ودرېږه چې په حقه وي؛ تر هغه مهاله ورسره ودرېږه چې په سمه روان دی او هغه مهال خپله لار ترې جلا کړئ چې په ناسمه روان شو.***

***ابراهام لېنکن***

د بریتانیې لومړي وزیر چرچل د دوهمې نړیوالې جګړې په ترخ کې ډېره غوره رهبري او زړورتیا له ځانه وښوده.

"مونږ به تر پایه مخ ته ځو. مونږ به په فرانسه کې جنګېږو، په سمندرونو او اوقیانوسونو کې به جنګېږو، له زیاتېدونکي باور او قوت سره به جنګېږو، په هر قیمت چې وي له خپلې خاورې څخه به دفاع کوو. مونږ به په سمندرونو او هوارو ځمکو کې جګړه کوو، مونږ به په لارو او کوڅو کې جګړه کوو. مونږ به په غونډیو کې جګړه کوو؛ مونږ به هېڅکله تسلیم نشو."

په ۱۹۴۰ ز کال د برېتانیا پارلمان ته د وینستون چرچل وینا

**د باور تشه**

ولې د نن ورځې په رهبرانو کې د باور خلا شته ده؟ دا ځکه چې د هغوی ژمنې له دروغو پرته بل هېڅ څه نه دي. ځینې رهبران د موقف لپاره خپل اصول بدلوي؛ ځینې نور بیا خپل دریځونه د خپلو اصولو لپاره بدلوي.

***کله کله شیطان د خپل مقصد لپاره سپېڅلي متون قرائت وي.***

***ویلیام شکسپیر***

پیروان په آسانۍ سره کولای شي جعلي رهبر تشخیص کړي. ښایي اوس له تاسو سره پوښتنه دا وي، کله چې یو جعلي رهبر پېژنې ولې ملاتړ یې کوې؟ دروغجن سیاستوال څرنګه ټاکل کېږي؟ څو دلیلونه شته دي.

ډېرى وخـت د دوه شـیطانانو تـرمنځ د انتخـاب موضـوع وي. خلـک یـو پېژنـدل شـوي شـیطان تـه پـر هغـه بـل چـې نـه دی پېژنـدل شـوی تـرجېح ورکـوي. کله چې خلـک پـه لـوی لاس یـو ناسـم کـس تـاکي ددې مانـا نـه ورکـوي چـې بـاور پـرې لـري، بلکـې د بـد او بـدتر تـرمنځ د غـوراوي خـبره ده. هغـه څـه چـې تـر ډېـره نـه درک کـوي دا ده چـې د اوږد مهـال کـړاو لپاره د یوې خیالي بریا په سر سودا کوي.

***ډارن او پر ځان بې باوره کسان هېڅکله ژمن نه دي.***

***موهانداس کارامچند ګاندي.***

پـه یـوه نـامعلوم چاپېریـال کـې خلـک معمـولاً لنډ مهالـه بریـاوو تـه لېـوال وي. دوی داسـې انګېـري چـې لنـډ مهـالې بریـاوې یـې لـه اوږد مهالـه نامعلوم وضعیت سره مقابلې ته چمتو کوي.

هغـه کسـان چـې پـه عامـه خـدماتو پـورې اړونـد پوسـتونو کـې د خپلـو شخصي- ګټـو پـه هـدف دروغجـن او خـاین رهـبران ګومـاري پـه خپلـه هـم باور پـرې نـه لـري. دغـه ډول کسـان بایـد لـه خپـل ځـان څخـه دوه پوښـتنې وکړي:

- ➢ آیـا دوی بـه دغـه ډول کسـان د خپلـو ماشـومانو د سـاتونکو او پـالونکو په توګه وګوماري؟
- ➢ آیا دوی به دغه ډول کسان د خپلو شتمنیو د ساتلو لپاره وګوماري؟

کـه ځـواب نـه، وي پـه دې صـورت کـې یـو څـوک چـې د یـوه غلـط او دروغجـن رهـبر ملاتـړ کـوي پـه حقیقـت کـې دی هـم پـه هغـو جرایمو کـې شریک دی چې د هغه رهبر یې ترسره کوي.

***کـوم چـا لـه یـوه دینـي عـالم څخـه پوښـتنه وکـړه: "کلـه چـې تـه یـو سیاسـتوال وینـې دعـا ورتـه کـوې؟" هغـه ځـواب ورکـړ: "نـه، کلـه چـې زه سیاستوال ګورم هېواد ته دعا کوم."***

## غوره رهبري څه ده؟

د وخت په تېرېدو سره د غوره رهبرۍ مفکوره نه ده بدله شوې. د ربښتينو او جعلي رهبرانو ځانګړتياوې په لاندې توګه بيان شوې دي چې له چارو سره د هغوی چلند په ګوته کوي:

| جعلي رهبران | ربښتيني رهبران |
|---|---|
| د موقف په لټه کې وي | د عمل کولو په لټه کې وي |
| نور کنټرولوي | له نورو ملاتړ کوي |
| د صلاحيت موندلو په لټه کې وي | نور روزي |
| د صلاحيت موندلو په لټه کې وي | نور روزي |
| تخنيکي پوهه لري | د خلکو په اړه پوهه لري |
| خبرې کوي | خبرې ته غوږ نيسي |
| پر ځان متمرکز وي | له نورو سره ښې اړيکې جوړوي |
| امرونه کوي | پانګه ترلاسه کوي |
| نور وېروي | نورو ته جرئت او انګېزه ورکوي |
| د اجماع رامنځته کېدو په تمه وي | خپله اجماع رامنځته کوي |
| د مسايلو په اړه له نورو سره خبرې کوي | د مسايلو په اړه د نورو نظريې اخلي |
| طرحه جوړوي | پلان جوړوي |
| چارې مديريت کوي | خلک رهبري کوي |
| قدرت له ځان سره ساتي | نور ځواکمن وي |
| د نورو په زړونو کې وېره پيدا کوي | نور روزي |
| نور شا ته کوي | نور مخ ته کوي |
| پر شهرت تکيه کوي | پر کرکټر تکيه کوي |
| لنډ مهالې بريا ته ترجيح ورکوي که څه هم د اوږد مهال کړاو په بيه هم پرېوځي. | د اوږد مهاله ګټې لپاره لنډ مهاله کړاو مني د لنډ مهال کړاو مخه نيسي. |

خلک د هېواد او یا کوم بل څه لپاره قرباني ورکول مني خو هېڅکله دا نه غواړي چې د یوه ناوړه سیاستوال لپاره دې څه قرباني کړي.

**یو جعلي رهبر څنګه پېژندلای شو؟**

د جراحۍ یو ډاکټر، یو ودانیز انجنیر او د یوې ټولنې سیاستوال مړه او د جنت دروازې شا ته ایسار شول. د جنت مؤظفینو ورته وویل چې په جنت کې ستاسو له ډلې څخه یوازې یو تن منل کېږي. د دوی ترمنځ بحثونه تاوده شول، له ډېرو خبرو او بحثونو وروسته دې پایلې ته ورسېدل چې د هر چا مسلک چې لرغونې مخینه ولري هغه به جنت ته دننه کېږي.

له څنډ پرته ډاکټر وویل: "بس زه به جنت ته دننه کېږم. د آدم علیه السلام له پوښتۍ څخه د بي بي حوا پیدا کېدل د طب او جراحي موضوع ده، دغه چاره باید د یوه جراح ډاکټر له خوا ترسره شوې وي. ځکه زما مسلک تر ټولو زیاته مخینه لري. "انجنیر غږ کړ" سړیه صبر وکړه ته جنت ته نشې دننه کېدای ځکه پخوا له دې چې خدای پاک آدم او حوا پیدا کړي په ځمکه کې ډېره ګډوډي او ویجاړي وه. ددغو ګډوډیو او ویجاړیو د سمولو لپاره یو پلان او کار ته اړتیا وه، ځکه دغه کار له انجنیر څخه پرته بل څوک نشي- کولای، اوس زما حق دی چې جنت ته دننه شم." په دې وخت کې سیاستوال ټوپ کړل او ویې ویل:"دواړه شا ته شئ شابسې، پوهېږئ چې دغه ګډوډۍ او ویجاړۍ چا رامنځته کړې وې؟"

جعلي رهبران عموماً بې وجدانه دي. د هغوی حرص او طمع هغوی دې ته هڅوي چې د ناوړه کړنو له ترسره کولو سره ټولنې ته نه جبران کېدونکې زیانونه واړوي. جعلي او دروغجن رهبران د جرمونو د شریکانو په څېر دي. یوازې د هوساینې پر مهال او د خپلو شخصي-

ګټو په خاطر په یو بل باندې باور کوي او د کړکېچ پر مهال پر یو بل تورپونه وهي.

جعلي او دروغجن رهبران تر هغه مهاله دریځ لري چې مخالف یې راڅرګند شي او کله چې د هغه مخالف دریځ لرونکی میدان ته شي یا خپل دریځ بدلوي او یا هم تېښتي. دروغجن رهبر د ګډه[١٠] په پوستکي کې د لېوه په څېر دی. په غلطه دی خو ظاهراً سم ښکاري.

***جعلي رهبران ارزښتونو ته د معاملې وړ څیزونو په سترګه ګوري.***

یو وخت ایرلنډي ډرامه لیکونکي جورج برنارډ شاو د ټولنې له یوې مخکښې څېرې څخه وغوښتل چې د زرو پونډو په بدل کې یوه شپه ورسره تېره کړي. دغه مخکښه ښځه سخته په غوسه شوه او ویې ویل: "زه یوه پتمنه واده شوې مېرمن یم، ته څنګه له ما څخه د دا ډول یوې غوښتنې جرئت کوې؟" شاو بیا وویل: د لس زره ډالرو په بدل کې څنګه؟" دا ځل ښځه لا ډېره په غوسه شوه او ګوتڅنډنه یې وکړه چې خپل خاوند ته تلیفون کوي. خو شاو بیا په خپلې خبرې باندې ټینګار وکړ او دا ځل یې د یوه میلیون پونډو وړاندیز ورته وکړ او ویې وویل چې دومره پیسې هېڅوک هم نشي ترلاسه کولای. په دې وخت کې ښځې زرغون څراغ ورکړ او ویې ویل، ښایي. شاو بیا وویل: "که مې یوازې د لس پونډو وړاندیز درته کړای وای څنګه به وه؟" ښځې وویل: ښاغلی شاو "ته ما ته سپکاوی کوې، ته نه پوهېږې چې زه څوک یم؟" شاو ځواب ورکړ: "دا خو مو وخته وپتېیله چې ته څوک یې، اوس یوازې په بیه باندې چنې وهوو."

---

[١٠]- پسه

دا پـه دې مانـا ده چې جعـلي رهـبران د لويـو وړانـديزونو پـه وړانـدې تـاب نشي- راوړلای. دا ډول رهـبران پـر رښـتينولي بـاور لـري خـو کله چې وپېـرل شي بيـا پېـرل شـوي پـاتې کېـږي. هغـومره چـې د رښـتينولۍ ادعـا کـوي هماغـومره بايـد د هغـه نارښـتينوالۍ تـه پـام وشي، ځکـه دا ډول رهـبران پـه ښـکاره ډول پـه نـورو بانـدې پېرزوينـې کـوي خـو پـه پټـه کـې بيـا غـلاوې کـوي. جعـلي رهـبران مقناطيسي- خاصـيت لـري، د نـورو پيسـې د مقنـاطيس پـه څېـر د ځـان پـه لـور راکـاږي. پـه هغـو عامـه چـارو او کـارونو بانـدې بـاور لـري کـوم چـې د دوی شخصي- گټـې پکـې نغښـتې وي. جعـلي رهـبران د داسـې سپيو پـه څېـر دي چـې د هـډوکي پـه لټـه کـې وي. جعـلي رهـبران د داسـې کـس مثـال لـري چـې خپـل پـلار او مـور يـې خپلـه وژلي وي او بيـا لـه نـورو څخـه پـر ځـان بانـدې د تـرحم تمـه لـري. پـه جعـلي رهبرانـو کـې د غـوره اخلاقـو نـه شـتون د دوی د تيـټ او لـه ويـاړه تـش ژونـد اصلي لامل دی.

***د جعـلي رهبرانـو لپـاره واک د قـدرت او ځـواک پـه مانـا دی او پيسـې ورته بيا د لا ډېرې پياوړتيا او ځواک حيثيت لري.***

کلـه چـې خـبره د يـوه ميليـون ډالـرو وي يـوازې ميليونرانـو تـه موسـکې کېـږي. کلـه چې تاسې پيسـې پـه پـور ورکـوئ تاسـې تـه وايـي: "پـه ټـول ژونـد کـې بـه سـتا د احسـان پـوروړی يـم." کلـه چـې پـور اخـلي پـه سـمه توگـه د هغـه ښرتـه ورکـړه پـرې سـخته تمـامېږي او د اصـولو منـل د هغـه د اصولو خلاف کړنه ده.

کـه غـواړئ چـې د کـار او تنخـوا تـرمنځ پـه تـوپير پـوه شـئ همدغـه ډول دروغجنـو کسـانو تـه پـور ورکـړئ، کـومې پيسـې چـې تاسـې پـه پـور ورکـوئ پـه حقيقـت کـې لـه هغـه څخـه ښرتـه اخيسـتل يـې هغـه تنخـوا ده چـې د

ترلاسه کولو لپاره یې ستاسو د منډو ترړو او زیار ګاللو په بدل کې درکول کېږي.

جعلي رهبران د هر هغه څه لپاره درېږي چې فکر کوي نور به یې په وړاندې لوېږي.

ډېرې هغه حالات چې ډېری سیاسیون په خوځېدو راولي دا دي:

| | | |
|---|---|---|
| وېره | حسد | کرکه |
| غوسه | حرص | غچ |
| وهمونه | د ډاډ نه شتون | زړه نا زړه توب |
| شک | ځان پالنه | |

**یو جعلي رهبر په ځان پورې منحصر ماغزه لري!**

د جعلي رهبرانو ماغزه د کانکریټ په څېر دي چې له وړاندې د تل لپاره کلک او جوړ شوي دي. هر څومره چې یو جعلي رهبر لنډپاری او لنډ فکره دی هماغوره خبرې یې غټې وي. د یوه جعلي رهبر عقل کم خو چارې یې سترې وي.

یو جعلي رهبر پرېوتي او ټیټ شهرت خپلولو ته لاس اچوي ان که چېرې دغه چاره پر اخلاقي ارزښتونو، شخصیتي ارزښتونو او رښتینولۍ باندې د معاملې پر سر هم وي.

کله چې له تا څخه د خپل ځان او ښه حکومت څخه د ملاتړ غوښتنه کوي په حقیقت کې له تا څخه د دوه ځله رایې ورکولو غوښتنه کوي. لومړی د هغه لپاره او دوهم د یوه ښه حکومت لپاره. د هغه وخت په دوه برخو وېشل شوی، د دفتر کار لپاره او د چارو د جعل او پټولو لپاره.

**د اهل او نا اهله سیاستوالو ترمنځ توپیر څه دی؟**

- د ولس ګټو ته د ژمنو سیاستوالو سترګې د بریا په لور پاتې وي خو خپلو شخصي ګټو ته ژمن سیاستوال بیا ناکامۍ راسپړي.

- د ولس ګټو ته ژمن سیاستوال همکارۍ رامنځته کوي خو خپلو شخصي- ګټو ته ژمن سیاستوال بیا ستونزې او مخالفتونه رامنځته کوي.
- د ولس ګټو ته ژمن سیاستوال چارو ته ستراتیژۍ جوړوي، خو خپلو شخصي ګټو ته ژمن سیاستوال بیا هر څه ډراماتیک کوي.
- د ولس ګټو ته ژمن سیاستوال ټولنه سم لوري ته رهبري کوي خو خپلو شخصي- ګټو ته ژمن سیاستوال یې بیا ناسم لوري ته رهبري کوي.
- د ولس ګټو ته ژمن سیاستوال د نورو ژوند ته وده او پرمختګ بښي؛ خو خپلو شخصي- ګټو ته ژمن سیاستوال بیا یوازې خپل بانکي حسابونو ته وده ورکوي.
- د ولس ګټو ته ژمن سیاستوال خپل شخصیت ته قوت او ځواک بښي، خو خپلو شخصي- ګټو ته ژمن سیاستوال بیا خپل پیروان د تباهۍ لور ته بیایي.
- د ولس ګټو ته ژمن سیاستوال په خپل سر کې ستر خیالونه او خوبونه لري؛ خو خپلو شخصي- ګټو ته ژمن سیاستوال په سر کې شوم فکرونه لري.

ځکه دا د حیرانتیا ځای نه دی هغه څه چې نا اهل سیاستوال یې ترسره کوي، ناولې سیاسي لوبې ګڼل کېږي.

د یوه نا اهل سیاستوال د چارو د مدیریت فلسفه په دې ډول ده:

د انرژۍ سرچینه یې: حرص

هدف یې: زما لپاره په کې څه دي

د مدیریت ډول یې: هر چېرې د ستونزو او کړاو راپارول

د عـدالت بڼـه يـې: د مجرمينـو محافظـت، بـې ګنـاه خلکـو تـه سزا ورکول

د قوت ټکی يې: د ګډوډۍ او پرېشانۍ رامنځته کول

**د يوه خره په څېر سرتمبګي**

يـوه بزګـر دوه خـره لـرل. يـوه ورځ يـې لـه ځـان سره ووېـل چـې راځـه دغـه خـره امتحـان کـړه چـې کـوم يـو ډېـر سرتمبـه دی. يـوه رسـۍ يـې د دواړو پـه غاړه کې واچوله د يـوه مخ يـې يـوه خـوا تـه واړاوه او لـږ څـه لـرې يـې واښـه ورته واچول او د بل مخ يـې بـل لـور تـه واړاوه او لـږ هغـې خـوا يـې مخـې تـه واښـه واچـول. هـر يـوه خـره خپلـې مخـې تـه مخـامخ د واښـو کوټـو تـه زور وهلو. خـو يـو هـم نـه توانېـده چـې د واښـو کـوټې تـه ورسـېږي، کـش و ګيـر يـې ډېـر دوام وکـړ خـو يـو هـم بريـالی نشـو چـې واښـو تـه ورسـېږي، پـه داسـې حـال کـې چـې کـه د يـوه بـل پـر وړانـدې يـې لـږه نرمـي ښـودلې وای دواړو يــې کــولای شــول چــې د واښــو کوټــو تــه ورســېږي. خــو د دوی سرتمبګــي او زوورونــه ددې لامــل شــول چــې دواړه ســاه ورکــړي او مــړي شي. خـو ولـې داسـې وشـول؟ ځکـه چـې خـره ول. دوی يـو بـل د مـرګ کندې ته کش کړل.

د خواشـينۍ خـبره دا ده چـې ځينـې انسـانان هـم ورتـه خاصيت لـري. کلـه چـې کومـه څـوکۍ ترلاسـه کـړي ټـولنې تـه نـه جـبران کېـدونکي زيانونـه اړوي.

جعلي رهـبران زمـونږ پـه ورځنـي ژونـد کـې تـر سـترګو کېـږي. ښـايي تاسـې د خپل شخصي ژوند او يا د دندې پر مهال ور سره مخ شئ.

دا ډول کسـان تـر هغـه وختـه پـه قـانون او نظـم بانـدې بـاور لـري چـې قـانون او حاکميـت د دوی پـه واک کـې وي. جعـلي رهـبران تـل پـه دې

لټه کې وي چې د فساد، نورو څخه ناسمې ګټې اخیستنې، د نورو غولونې او د شکونو راپارولو له لارې خپلو موخو ته ورسېږي.

جملي رهبران تل د خپل هېواد ساتلو پر ځای د خپلې څوکۍ د ساتلو په اړه فکر کوي. د ستونزو په پرتله د دا ډول رهبرانو حلالارې ډېرې بدې او خطرناکه وي.

***یو تمدن د بهرني یرغل له امله نه نړېږي، بلکې د هغو ګوزارونو او ضربو له امله نړېږي چې له دننه څخه ورسره مخ کېږي.***

***ویل ډورانټ***

رښتیني رهبران نه یوازې دا چې رښتینولي خوښوي بلکې له چل ول څخه کرکه لري. دوی په دې پوهېږي چې د چل ول او غلطې پایلې او کړاو له رښتینولی سره ملو ستونزو په پرتله ډېرې خطرناکه دي.

***د ټولو سترو انسانانو ژوند مونږ ته دا رایادوي چې مونږ تول کولای شو خپل ژوند ښه کړو.***

***هنري واډسورټ لانګ فیلو***

## عملي پلان

له خپل ځان څخه لاندې پوښتنې وپوښتئ:

۱. آیا خلک پر ما باور کولای شي؟

۲. آیا زه تر ټولو غوره څه تر سره کوم؟

۳. آیا زه دندې ته ژمن یم؟

۴. آیا زه پر نورو باندې پام ساتم؟

که پورته پوښتنو ته ستاسو ځواب هو، وي په تاسو کې د يوه ښه رهبر نښې شته دي.

د غوره رهبرۍ لپاره يو عملي پلان:

- ښکېل اوسه، ژوند لوبه يا سپورت نه ده چې ته يې ننداره وکړې؛ په سيستم باندې تر هغو پورې د نيوکې حق نه لرې چې پکې ښکېل شوی نه يې.
- مسئوليت منلو ته داوطلب اوسه، ددې پر ځای چې نورو ته په تمه شې چې مسئوليت در وسپاري خپله د مسئوليت منلو نوښت وکړه.
- نورو ته خدمت وکړه، که غواړې يو غوره رهبر شې د خدمت کولو په خوند ځان پوه کړه. درې داسې برخې تشخيص کړه چې کولای شې نورو ته پکې خدمت وکړې.
- د دريځ نيولو لپاره تيار اوسه، درې داسې برخې تشخيص کړه چې کولای شې دريځ پکې ونيسې، يعنې په هغه څه باندې چې باور لرې، د ځان لپاره يې خطر ومانه. دغه کار جرئت او زړورتيا غواړي.
- خپل ځان و ارزوه، له خپل ځان څخه پوښتنه وکړه چې د عمل په ډگر کې څومره له هغو ځانگړتياوو سره موافق يا مخالف يې کوم چې په دغه څېرکي کې يې يادونه وشوه.

# د ځان ارزونې پاڼه

# شپږم څپرکی
# رهبران تلپاتې وي

***يو څه په ميراث پرېږدي***

هغه رهبران چې يو څه په ميراث پرېږدي هغه کسان دي چې خپل سفر په سترو فکرونو او د ژمنتيا له ژور احساس سره پيلوي. رښتيني او پياوړي رهبران يوازې د نن په اړه نه، بلکې د سبا او بل سبا په اړه هم فکر کوي. دا ډول رهبران د تاريخ لوری بدلوي.

***د نړۍ تاريخ له داسې کسانو ځخه برخمن دی چې په خپل ځان باندې د ډاډ، زړورتيا او دوام له امله د غوره رهبرۍ جوګه شول.***

***مهاتما ګاندي***

***د رهبر مثال داسې دی لکه پېروی چې د شيدو سر ته راځي***

ښايي ليډلي به مو وي کله چې په يو ځای کې يوه ترافيکي پېښه رامنځته کېږي، هر څوک د پېښې ځای ته ور منډې وهي څو وګوري چې څه پېښ شوي دي. خو د خلکو په منځ کې ناڅاپه يو داسې څوک راپيدا کېږي چې د وضعيت کنټرول او رهبري په غاړه اخلي، هغه داسې چې يوه ته وايي هلکه امبولانس ته زنګ ووهه، بل ته وايي پوليسو ته خبر ورکړه، د ټپيانو وضعيت ګوري او ارزوي يې، نورو ته وايي د سړک له منځه ټپي ګوښه کړئ، هغه بل ته وايي ټپيانو ته اوبه ورکړئ او داسې نور... دغه کس ته چا دغه صلاحيت ورکړ چې ياد کارونه ترسره کړي؟ هېچا. خو په دې پوهېږئ چې په کوم ډول چې هغه مخ ته لاړ د پېښې په ځای کې خلک د هغه خبرې منلو او له هغه

څخه اطاعت ته ورمات شول. هغه د مسئولیت په اخیستلو سره ځان ته ځواکمنتیا او پیاوړتیا وروبښله.

***رهبري، یعنې د چارو ترسره کولو ته ور مخکې کېدل او حساب ورکوونکی اوسېدل.***

په بله وینا، رهبري په دې مانا ده چې ته د نورو د رهبرۍ وړتیا ولرې، دا مهمه نه ده چې ستاسو د رهبرۍ صلاحیت له کومې رسمي مرجعې څخه سرچینه اخلي او که له غیر رسمي. خو اوس پوښتنه دا ده چې د یوه رهبر د رهبرۍ ځواک له کوم ځایه سرچینه اخلي؟

**د رهبرانو د قدرت سرچینې**

**۱- موقفي واک:**

موقف او القاب انسانانو ته قدرت او صلاحیت وربښي. کله چې موقف یا په موقف پورې تړلی لقب ایسته شي قدرت او صلاحیت هم له منځه ځي. موقف یا څوکۍ انسان ته صلاحیت ښي او صلاحیت بیا انسان ته قدرت ورکوي، خو یوازې ښه خلک بیا درناوی رامنځته کوي. هغه خلک چې ډېر القاب ولري تر ډېره د لږ هغو وړتیا او لیاقت لري. هر هغه موقف، لقب او یا ځواک چې عدالت ته له پام کې نیولو پرته ورکړل شوی وي ډېر تاب نشي- راوړلی. دروغجن سیاسي رهبران داسې مثال لري چې ملا یې ماته وي او له لکړې پرته حرکت نشي- کولای. سټروالی دا نه دی چې یو څوک دې ډېر قوي او پیاوړی وي؛ بلکې سټروالی د ځواکمن او قوي اوسېدو تر څنګ د ځواک او قوت سم او پر ځای کارول دي.

**۲- نیابتي قدرت:** دا هغه قدرت او صلاحیت دی چې د یوې لوړ پوړې مرجع یا شخص له خوا یو چا ته ورکول کېږي. د یو چا یا یوې مرجع له خوا قدرت ترلاسه کول ددې تضمین نشي- کولای چې دغه

ورکړل شوی صلاحیت دې هرومرو په مناسبه توګه کارول کېږي او ناسمه ګټه به ترې نه پورته کېږي.

**۳- ذاتي قدرت:** دا ډول قدرت او صلاحیت تر ډېره د انسان په جذابیتي اړخ پورې اړه لري. خو دغه جذابیتي قدرت یوازې د یوې شېبې لپاره د یو چا سترګې نیسي- او کله چې خپل دغه ډول رهبر ته ګورو چې چندان تاب او دوام نه لري، له دې وروسته راته ډېر ښه نه ښکاري.

**۴- تخصصي- قدرت:** دغه قدرت د اضافي وړتیا په نامه هم یادېږي، په یوه خاص مسلک یا برخه کې مهارت لرل انسان ته یو څه اندازه محدود قدرت او صلاحیت ښښي.

**۵- له اصولو څخه ټوکېدلی قدرت:** دا ډول قدرت زموږ له ارزښتونو، سیستمونو، عقایدو، جرئت او باورونو څخه سرچینه اخلي.

خو د رهبرۍ اصلي جوهر بیا د اصولو او شخصیت ترکیب یا په بله وینا د ذات او کرکتر ترکیب دی. ورته اصول زموږ په ورځني ژوند کې هم صدق کوي. موږ له یو چا سره واده کوو خو په ورته وخت کې اړ یو چې له کرکتر سره یې ژوند وکړو.

***قدرت فساد رامنځته کوي او مطلق قدرت بشپړ فساد رامنځته کوي.***

ډېری خلک په دې باور دي چې پورته خبره سمه ده خو دا خبره یو بل اړخ هم لري. ډېر داسې پیاوړي او غوره رهبران شته چې د قدرت له ادرسه یې ډېر ستر او ګټور کارونه کړي دي. هېڅکله ورته دا فکر او وسوسه نه ده پیدا شوې چې له صلاحیت څخه ناسمې ګټې اخیستنې ته دې تسلیم شي، خو پوښتنه دا ده چې ولې فاسد نشول؟ جورج واشنګټن ته د رشوت وړاندیز وشو څو له خپل هېواد سره خیانت

وکړي، خو هغه رد کړ. ولې غوره رهبران نه فاسد کېږي؟ دا ځکه چې هغوی مفسد کېدای نشي- داسې نه ده چې قدرت او صلاحیت دې هرومرو یو څوک مفسد کړي. قدرت یوازې هغه کسان فاسد کولای شي کوم چې د فاسد کېدو وړ وي. کله چې مفسد کسان قدرت تر لاسه کوي دوی خپله قدرت فاسد وي. سیاست د دا ډول کسانو لپاره پر قدرت او واک باندې د منگولو ښښولو هنر دی.

ډېری خلک وايي چې له بریا سره تکبر او غرور رامنځته کېږي، خو ددې خبرې برعکس هم سمه ده. ډېر داسې خلک شته چې څومره د بریا لوړو پوړیو ته رسېږي هغومره تواضع او عاجزي اختیاروي. خو آیا بریا تکبر رامنځته کوي که عاجزي؟ هېڅ یو هم نه رامنځته کوي، بلکې د انسان له مخ څخه نقاب لرې کوي او هغه څه رابرسېره کوي کوم چې پخوا چا ته نه ښکارېدل.

یوه بله خبره هم شته، کله ناکله البته د ځینو له خوا د یوه بریالي انسان ثبات او استقامت د تکبر او غرور او همدارنگه د هغوی سنگیني او ادب د هغوی د کمزورۍ په توگه تعبیرېږي.

*قدرت کې اوسیدو پر مهال، که چیرې ته اړه اوسې چې خلکو ته ووایې چې واک او قدرت لرې نو په حقیقت کې یې نلرې، بلکې خلک باید خپله درک کړي چې ته قدرت او واک لرې.*

***مارگریت تاچر***

**یوازې صلاحیت کافي نه دی**

صلاحیت د رهبرۍ اصلي سرچینه نه ده. هغه رهبران چې نورو ته الهام ښښلی شي تل د جعلي رهبرانو په پرتله چې یوازې په صلاحیت پورې تړلي دي ډېر څه ترسره کوي. هغه قدرت او صلاحیت چې فقط په صلاحیت پورې تړلی وي یوازې وېره راپاروي. تر ټولو ښه څه چې

کولای شي هغه دا ده چې خلک به د زړه له پاسه د یو څه منلو ته اړ باسي. صلاحیت د یوه جعلي رهبر سترګې نیسي- او په دې نه پوهېږي چې باید یوه بېړني حالت ته یې وساتي. یو غوره رهبر د نورو موافقت او سر خوځولو ته نه ګوري پر همکارۍ باندې حساب کوي. یو رښتینی رهبر نورو ته الهام ښښي او درناوی ترلاسه کوي. جعلي رهبران بیا له صلاحیت څخه له حده زیات کار اخلي، صلاحیت بې ځایه کاروي ځکه د نورو په منځ کې درناوی له لاسه ورکوي. جعلي رهبران په حقیقت کې د سیستم د اصلاح کولو پر ځای له سیستم څخه راولاړې شوې ناسمې پایلې اصلاح کوي.

***هغه تولنه له خطر سره مخ ده په کومه کې چې داسې کسانو ته صلاحیت ورکړل شوی وي کوم چې لا تر اوسه یې اطاعت کول نه وي زده.***

**غرور او عاجزي**

***دا د ویاړ خبره نه ده چې ته پر بل چا د لوړتیا او غوراوي احساس وکړې، بلکې ویاړ دا دی چې خپل ځان د خپل تېر مهال په پرتله لوړ او غوره احساس کړې.***

***هندي متل***

د یوه غوره رهبر یوه ځانګړتیا دا ده چې کله یې وړتیا او اغېزه د هغه په کار کې رابرسېره کېږي د عاجزۍ احساس کوي. څه مانا؟ دا په دې مانا چې غوره رهبر په چارو کې ځان ته خورا لوړ معیارونه ټاکلي وي او تر هغه وخته نه راضي کېږي څو هغه معیارونه یې نه وي پوره کړي. دغه ډول غرور بیا په خپلو وړتیاوو باندې له پوهېدو څخه او د دغو وړتیاوو د پیاوړتیا لپاره له هیلې څخه سرچینه اخلي.

رښتيني رهبران خپل ټيم ته هم دغه ډول وياړ او غرور ښښي. خو څرنګه؟ کله چې چارې په سمه توګه روانې وي د چارو سموالی د ټيم له برکته ګڼي، خو کله چې په چارو کې ستونزه رامنځته شي مسئوليت يې په ځان مني. وياړ، خو له عاجزۍ او فروتنۍ سره يو ځای خوښي يا رضايت او خوږوالی رامنځ ته کوي خو وچ غرور او خود بيني بيا تريخوالی او ناخوښي يا نارضايتي رامنځ ته کوي.

•

**خودبيني**

هر کله چې يو څوک داسې احساس وکړي چې د هغه څه په پرتله ډېره ورتيا لري کوم چې تر لاسه کړې يې ده- خو په حقيقت کې داسې نه وي، همدا د نورو په پرتله ځان وړ او غوره ګڼل دي.

له نورو ځان وړ ګڼل يو غلط ښاخ(غرور) او وياړ دی او دا ډول غرور سړی ريشخندوي. د يو چا ستايل چې هغه د ستايلو وړ نه وي يو ډول غرور رامنځته کوي چې همدا خودبيني يا له نورو څخه ځان غوره ګڼل دي. خودبيني يا له نورو څخه ځان مهم ګڼل داسې دي همدا خود بيني يا ځان تر نورو مهم ګڼل د ځان په وړاندې نورو له خوا د مرستې ورونو تړل او نورو په وړاندې دخپل حماقت بربنډول دي.

**تواضع**

کله چې يو څوک داسې احساس وکړي چې د هغه څه په پرتله ډېر څه يې تر لاسه کړي کوم چې ورتيا يې لري، همدا تواضع ده.

کله چې تاسې ځان داسې ښکاره کوئ چې ګواګي متواضع ياست، په حقيقت کې تاسې تواضع له لاسه ورکړه، ځکه عجز او تواضع يوازې په طبيعي ډول وي. د زړه له کومې وړ او پر ځای قدرداني او منندويي بايد د زړه له کومې ومنل شي. کله چې يو څوک داسې احساس کوي چې د رښتيني قدرداني او منندويۍ وړ نه دی، د دا ډول کسانو همدغه

نه ورته‌یا هغوی ته دا اجازه نه ورکوي چې قدرداني په سمه توګه ومني یا په بله وینا هضم یې کړي.

**ویاړ**

کله چې یو څوک داسې احساس وکړي چې هغه څه یې ترلاسه کړل چې وړتیا یې لرله، همدا ویاړ دی.

کله چې یو ورزشکار د سرو زرو کپ ګټي په خورا ویاړ سره یې اوچتوي. داسې نه وایي چې ددغه کپ وړتیا او لیاقت نه لري. یو ورزشکار ۱۵ کاله تمرین کوي څو د ۱۵ ثانیو په سیالۍ او لوبه کې ښه وځلیږي. هیڅکله نه وایي چې د اتلولۍ د کپ وړتیا او لیاقت نه لري. خو د تواضع له مخې خپله بریا او اتلولي د هغو کسانو له برکته ګڼي چې د صحنې تر شا یې له هغه سره مرسته او دده ملاتړ کړی دی. آیا د یوه غوره مربي، ټرینر او یا د کورنۍ ملاتړ له شتون پرته هغه کولای شول چې اتلولي وګټي؟ هیڅکله نه. هغه دومره ځان غوښتونکی نه وي چې ټوله بریا د خپل ځان له برکته وګڼي. که څه هم واضح خبره ده چې د ټولو غوره مربي او د کورنۍ له ملاتړ سره سره که چیرې د ورزشکار خپله هڅه او کوښښ نه وي نه یې شوی کولای چې اتلولي وګټي. ویاړ انسان پر ځان باندې باور او اعتماد په لوړ کاږي او غوښتنه بیا انسان د تکبر په لور کاږي. پر ځان باندې اعتماد او تکبر ترمنځ یوه کرښه شته ده چې ورڅخه له اوښتلو سره فوراً خپل قوت له لاسه ورکوئ.

**تواضع د انسانیت لپاره درناوی دی**

په هند کې «د سترې مشې» یوه لرغونې بنه شته چې نَمستې (Nemaste) نومېږي او هغه داسې چې دواړه لاسونو سره یو ځای او بیا یې لږ څه پورته کوي. له دې سره جوخت خپل سر ورو ټیټوي او وايي 'نمستې' چې مانا یې دا ده: "زما په وجود کې ټول شته روحاني جذبات ستا په وجود کې شته ټولو روحاني جذباتو ته سلام کوي." دا یو ډول تواضع ده.

***د ځان درناوی په دې مانا نه دی چې زه تر نورو ډېر د قدر وړ یم. مهرباني او چلند هم د زده کولو تر ټنګ د پت او درناوي یوه برخه ده.***

کلونه وړاندې د شیکاګو د اورګاډي پټلۍ په تمځای کې دولتي چارواکو او خبریالانو د نوبل جایزې ګټونکي را رسېدو ته شېبې شمېرلې. کله چې سړی را ورسېد د کمرو لایټونه په کړسېدو شول. چارواکو ځانونه هغه ته ورنږدې کول څو لاس ورکړي او درناوی یې وکړي، خو هغه د څو دقیقو لپاره بښنه وغوښته او نېغ د ګڼې ګوڼې منځ ته لاړ څو هلته له یوې زړې ښځې سره چې نه یې شوای کولای خپل بکسونه و لېږدوي مرسته وکړي، د هغې بکسونه یې تر بس پورې ورسول، د ښه سفر هیله یې ورته وکړه، بیرته خلکو ته راستون شو او د هغوی له منتظر پاتې کېدو څخه یې بښنه وغوښتله. دغه کس د نړۍ په کچه پېژندل شوی (ډاکټر البرټ شویټزر)[۹] وو. د هرکلي کمېټې یوه غړي یوه خبریال ته وویل چې: "د لومړي ځل لپاره له خورا لوی پند څخه برخمن ګامونه ګوري چې اخیستل کېږي."

---

۹ - ډاکټر البرټ شویټزر فرانسوی- جرمنی فیسلسوف، فزیکپوه، د الهیاتو په برخه کې متخصص او بشر پال وه چې له (۱۸۷۵-۱۹۶۵) پورې یې ژوند کوه. **ژباړن**

رښتینې تواضع د لیدو وړ نه ده او د نورو له رغبدو او پرمختګ سره مرسته کوي. ونه هغه مهال راټیټېږي کله چې مېوه یې پخه شي. تواضع د پخېدو نښه ده. د لویو ګامونو له اوچتولو سره بریا ترلاسه کړئ، د غټ سر پر ځای غټ زړه ولرئ.

تواضع د ځان حقیر کولو په مانا نه ده، ځکه دغه حالت بیا د یو چا وړوکي کېدو او د شخصیت د لوېدو لامل کېږي. تواضع بل څه نه ده مګر د ونې په څېر راټیټېدل او نورو ته خیر رسول.

**ولې تواضع مهمه ده**

هغه کسان چې د خپلې بریا لامل یوازې او یوازې ځان ګڼي د خلکو ترې کرکه کېږي. رهبران باید په خپل لوړوالي باندې د نازېدو پر ځای د همکارۍ په لټه کې وي او ښه نیت ولري. یو غوره رهبر اړتیا نه لري چې په خپل صلاحیت باندې ونازېږي. هېڅکله هڅه نه کوي چې پر چا فشار راوړي. غوره رهبران د خپل موقف له لاسه ورکولو څخه په وېره کې نه وي، تکبر او غرور نه لري. په خپل صلاحیت باندې نازېدل او تکبر د رهبر او د هغه د ټیم او پلویانو ترمنځ واټن رامنځته کوي.

هغه رهبران چې په خپل کار باندې ویاړي د خپلو بریاوو په وړاندې خورا متواضع وي.

*تواضع په دې مانا نه ده چې یو څوک دې ځان ټیټ وګڼي، بلکې تواضع په دې مانا ده چې له لا ډېر پرمختګ سره سره بیا هم د کمي احساس وکړي.*

**د مدیریت او رهبرۍ ترمنځ توپیر**

مدیریت او رهبري دواړه اکتسابي مهارتونه دي. غوره او ښه رهبري له یو چا څخه زده کولو پرته نشي- ترلاسه کېدای. یو مدیر ښایي ښه رهبر

نـه وي. چرچـل، هـنري فـورډ او لـوی الکسـانډر هېڅکلـه پـه رسـمي ډول د رهـبرۍ او مـدیریت پـه اړه زده کـړې نـه وې کـړې. ویـاړلی ژونـد، موقـف او مسلک ته له پام پرته د رهبرۍ یو لړ ځانګړتیاوو ته اړتیا لري.

*مـدیر اداره مـخ تـه بیـایي، رهـبر نونښـت کـوي. مـدیر [سیسـتم] پـالي او اداره کـوي یـې، رهـبر [سیسـتم] تـه وده ورکـوي. مـدیر پـر سیسـتم تکیـه کـوي، رهـبر پـر خلکـو. مـدیر پـر کنټرولولـو حسـاب کـوي، رهـبر پـر بـاور او اعـتماد. مـدیر کـار پـه سـمه بڼـه تـرسره کـوي، رهـبر سـم کـار تـر سره کوي.*

*فارچن مجله*

غـوره رهـبران تـر ټولـو زیـات درنـاوی کـوي ځکـه د اعـتماد وړ وي او نـورو تـه چـې چـار چاپېره یـې دي جرئـت او ځـواک ښـيي. د یـوه رهـبر بریـالیتوب لـه دې نـه مشـخص کېـږي چـې څـومره شـتمني راټولـوي، بلکـې د هغـه بریـالیتوب لـه دې څخـه انـدازه کېـږي چـې د هغـه لـه مړینـې وروسـته د څومره خلکو په زړونو کې ژوندی دی.

***رهبري یوه کیلي نه بلکې یو ترکیب دی.***

یو داسې غټ صندوق چـې خلاصېدل یـې کـوډ نمبر تـه اړتیـا ولـري پـه یـوه شـمېره بانـدې نشيـ خلاصـېدای؛ د خلاصـولو لپـاره یـې بایـد د شـمېرو یـو سـم ترکیـب ولـرئ. همدارنګـه د رهـبرۍ پـه برخـه کـې هـم ددې لپـاره چـې ښه رهبر واوسـئ یـوه ځانګړتیـا کـافي نـه ده. یـو رهـبر بایـد د لیـد سـم انـډول او ترکیـب، ارزښـتونه، کفایـت، جرئـت او شخصـیت ولـري. یـو د بـل لـه شـتون پرتـه کـار نشيـ کـولای. یـو ښـه رهـبر هـم مـربي یـا روزونکـی وي او هـم هڅـوونکی رهـبر وي. معمـولاً یـو ښـه کـارګر کلـه چـې رتبـه اخـلي سر کـارګر یـا سـوپروایزر کېـږي، پـه داسـې حـال کـې چـې د کـارګر او سـوپروایزر تـرمنځ ډېـر تـوپیر شـته وي. هغـه څـوک چـې یـو ښـه او تکـړه

کارگر وي حتمي نه ده چې ښه سوپروایزر دې هم وي، که چېرې په یوې کمپنۍ کې همداسې وشي په حقیقت کې دغې کمپنۍ دوه زیانونه کړي دي.

- یو ښه کارگر یې له لاسه ورکړ.
- اوس یو بد سوپروایزر هم لري.

کله چې د رهبرۍ اصول راڅرگند شي خورا ساده دي. سم هغسې چې یو کوډگر د خپل خاصو چلونو او تکتیکونو له لارې خپل نندارچیان هک پک کوي، خو کله چې هغوی ته د خپلو کړنو د څرنگوالي په اړه معلومات ورکړي هر څه ډېر واضح ښکاري.

بریالي خلک یوازې اخیستونکي نه وي بلکې ورکوونکي هم دي. دوی خپل تر ټولو ارزښتناک څه نورو ته ورکوي او له همدې امله له نورو تر ټولو ښه څه ترلاسه کوي. دا ډول کسان پوهېږي چې ژوند د داسې فنري خادو په څېر دی چې ته یې څومره له ځانه لېرې اچوې بېرته تا ته راځي.

رهبران له خپل پیدایښته رهبران نه وي، بلکې د رهبرۍ ځانگړتیاوې زده کول کېږي.

**رهبري د ژوند په هره برخه کې مهمه ده**

***د یوه مشر-له شتون پرته یوه اداره کار نشي-کولای؛ هره کورنۍ، ټولنه او هېواد یوه رهبر ته اړتیا لري.***

د مسئولو مشرانو په توگه، مونږ په خپل ورځني ژوند کې د رهبرۍ په برخه کې خپل رول لوبوو. مونږ په خپل ژوند کې په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د کړنو د ترسره کولو او یا د ځینو کړنو له منلو سره پر یو چا په یو ځای کې په یو ډول اغېزه او نفوذ کوو؛ دغه اغېزه او نفوذ ښایي مثبت وي او یا هم منفي. پلویان له خپل رهبر څخه د لوړو

معیارونو تمه لري. د اصولي کړنو په وړاندې پیاوړی تعهد د هر چا مسئولیت دی. بنسټیزو او اساسي مسایلو ته پام او ددغو مسایلو په پام کې نیولو سره ژوند کول یو غوره رهبر لا غوره کوي.

*که مونږ د حلالۍ یوه برخه نه یو په حقیقت کې د ستونزې یوه برخه یو.*

فاسد کسان د خپل حرص او وړو سترګو له امله تل د داسې فرصتونو په لټه کې وي چې د خپلو شخصي- ګټو په خاطر ټولنه ویجاړه او تباه کړي. کله چې یو وړ او مناسب شخص د یوه منصب او څوکۍ د مخ ته وړلو لپاره نه رامخکې کېږي، بې له شکه چې یو بدمرغه چې یوازې د شخصي ګټو لپاره ژمن دی رامخکې کېږي او هغه څوکۍ نیسي.

ځینې کسان چې د رهبرۍ له ښو وړتیاوو څخه برخمن هم دي خو په عامه [دولتي] بنسټونو کې ځکه له کار کولو او مسئولیت منلو ډډه کوي چې له خپل ژوند او شخصي- کاروبار څخه راضي وي. دا ډول کسان د ټولنې کومه ستنه نه دروي بلکې نړوي یې. دوی خپله هوښیاري او ځیرکتوب په درانده خوب ویده کوي. په ټولنه کې د مسئولیت منلو په وړاندې د دا ډول کسانو دغه چلند د چار چاپېره کسانو ترمنځ Cynicism یا یوازې د خپلو شخصي- ګټو په اړه فکر کولو ته وده ورکوي. د فکر دغه ناوړه بڼه، یو کم عقل او مغرور کس ته فرصت ورکوي چې دغه تشه ډکه کړي.

**ویاړلی ژوند او سیاست**

ځینې خلک ما ته راځي او وايي: "له سیاست سره کار نه لرم او ځان ترې لېرې ساتم، نه غواړم پکې ښکېل و اوسم." دا ځومره بې ځایه او ناسمه خبره ده. په ټولنه یا سیاست کې زمونږ نه ښکېلتیا په دې مانا ده چې مونږ لا وختي ښکېل شوي یو. هغه هوا چې تنفس کوو، هغه اوبه چې څښو، هغه ډوډۍ چې خورو، هغه تعلیم چې زمونږ ماشومان یې تر لاسه کوي، هغه مالیه چې ورکوو او هغه درمل چې تر لاسه کوو او ان تر ډېره زمونږ شتون د سیاست نتیجه ده. څرنګه مونږ کولای شو چې پکې ښکېل ونه اوسو. مونږ له وړاندې یا په خپله خوښه او یا هم د یو څه له امله پکې ښکېل یو. ژوند د کومې لوبې ننداره نه ده. بله دا چې کله مونږ د ټولنې په چارو کې ښکېل کېدای نه شو د نیوکې حق هم نه لرو.

**د رهبرۍ بنټه**

زه د انسان، د هغه د ژوند کولو، د آزادۍ او خوښ اوسېدو په څېر حقوقو باندې باور لرم. زه په دې باور هم یم چې هر یو ددغو حقونو له ځان سره ځینې وجایب او مسئولیتونه هم لري. زه په دې باور یم چې قانون د انسان لپاره جوړ شوی دی نه دا چې انسان د قانون لپاره جوړ شوی وي. حکومت د خلکو خدمتګار وي نه بادار. زه د یوه کارګر؛ که هغه فزیکي کار کوي او که فکري، پر عزت او قدر باور لرم. نړۍ د هېچا د ژوند ضمانت نه کوي خو هر چا ته په ژوند کې یو فرصت په لاس ور کوي څو ژوند جوړ کړي.

په دې باور یم چې د یوه منظم ژوند لرلو لپاره سپما مهمه ده او د یوه ښه اقتصاد لپاره که هغه دولت وي یا په سوداګرۍ کې او یا هم شخصي- چارې وي د یوې ثابتې مالي زېربناء لپاره اړتیا لري. په دې

باور یم چې رښتینوالی او عدالت د یوې باثباته ټولنې اساس او بنسټ دی. زه د وعدې او ژمنې پر سپېڅلتیا باور لرم او د یوه چا خبرې هغسې ښې او سپېڅلې وي لکه ژمنه، نه شتمني، نه ځواک او نه هم منصب تر ژمنې او تعهد مهم دی. په دې باور یم چې د ګټورو خدماتو وړاندې کول د ټولو انسانانو ګډه دنده او مسئولیت دی او یوازې د قربانیو ورکولو په سور اور کې د ځان غوښتنې مرض سوزېږي او د انسان د روح ستروالی آزادېږي... همدا پر قدرت باندې بریالیتوب دی او وي به.

*جان ډي روکفلر*

**په یاد مو وي:**

هغه څوک چې نه رهبري کولای شي او نه اطاعت یوازې یو خنډ دی.

***یا به رهبري کوې یا به پلوي کوې که یو هم نشې کولای هېڅ هم نه یې.***

***ټیټ ټورنر***

## عملي پلان

۱ـ خپل شته ځواک او قوت تشخيص او وپېژنئ.

۲ـ خپل درې هغه ځانګړتياوې وليکئ چې کولای شي تاسو د رهبری رول لوبولو جوګه کړي.

۳ـ د يوه رهبر اوسېدو په توګه خپلې انګېزې تشخيص کړئ چې آيا ستاسې نفس ته خوښي دربښي که ټولنې ته؟ همدا د غوره او دروغجن رهبر ترمنځ توپير دی.

# د خان ارزونې پاڼه

# اووم څپرکی

# فساد

## فساد په سیستم کې د پرازیت په څېر وي

### *فرانسې د فساد له امله سقوط وکړ*[۱۲]

***رومین رونالډ***

یـوه پخـوانۍ مقولـه ده چـې وایـي: لـه شـیطان سره د مقـابلې لپـاره چـې څومره انتظار کوې هغومره یې ماتول ستونزمنېږي.

یو چا د عمـومي لارې پـه څنگ کـې د اغزیـو یـو بـوټی غـرس کـړ، گاونـډي یـې پـه وار وار سـړي تـه وویـل چـې دغـه بـوټی لـه لارې لېـرې کـړه خـو سړي دغه کار لـه یـوې بلـې ورځـې تـه پرېښـوده، اغـزي بـه هـم ورځ تـر بلـې لوېـدل او لـه لارې لا ډېـر تېرېـدونکي خلـک بـه یـې پـازابول. بـالآخره یـوه ورځ اغزیـو پـه خپلـه همـدا سـړی خـوږ کـړ او لـه پښـو یـې وینـې سر شـوې. اوس سـړي هـوډ وکـړ چـې بایـد لـه شره یـې ځـان خـلاص کـړي او لـه لارې یـې لېـرې کـړي. خـو اوس ډېـره ناوختـه وه ځکـه د اغزیـو بـوټي خـورا لـوی شوي او لېرې کول یې د سړي له وسې پورته وو.

---

[۱۲]: د فرانسوي لیکوال رومین رونالډ اشاره په ۱۹۴۰ کال کې د دویمې نړیوالې جگړې په ترڅ کې د فرانسې ماتې ته ده، چې د المان خواکونو متفقینو ته ماتې ورکړه او په پایله کې د فرانسې په گډون بلجیم، لوگسامبورگ او هالند یې فتح کړل. رونالډ په دې آند دی چې د فرانسې د ماتې لامل هغه وخت په دغه هیواد کې شته مالي فساد و. ژباړن

لکـه څرنګـه چې پـه پورتـه کیسـه کـې واضـح شـوه کـه چېـرې د شرارت مخې له پیله ونه نیول شي د وخت په تېرېدو سره لویېږي او په وړاندې به یې تاسې کمزوري کېږئ.

د اغزیـو د بوټـو یـاده کیسـه پـه ټولنـه کـې د فسـاد د ودې مثـال لـري. هغسـې چـې یـاد سـړی د اغزیـو د بوټـو د کرلـو لامـل او مسـئول و همدغسې پـه ټولنـه کـې یـو څـوک د فسـاد د تخـم د کرلـو مسـئول وي. د ټولنې د غړي پـه توګـه زمونږ پـه منځ کـې ډېـر داسـې کسـان شـته چې د فسـاد لـه وړوکـو پېښـو څخـه پـه ټولنـه کـې سـترګې پټـوي او همدغـه وړې پېښـې د وخـت تېرېـدو سره لـویېږي او یـو وخـت بیـا دې حـد تـه رسـېږي چـې پـه وړانـدې یـې درېـدل سـتونزمن کېـږي او خـبره بـې وسـۍ تـه رسېږي.

***کـه چېـرې مـونږ د شرارت تخـم لـه منځـه یـو نـه سـو، شرارت بـه مونږ له منځه یوسي.***

**فساد څه دی؟**

فسـاد لـه نـاخوالو، کـړکېچ او زیـانمن وضـعیت څخـه د ګټـې پورتـه کولـو شـومه هیلـه ده. معمـولاً د فسـاد شـتون او شـدت د ناسـم پـلان جـوړونې لـه املـه وي. *لـه فسـاده برخمنـه یـوه ټولنـه کـې قـانون د غنـې (عنکبـوت) د تـارونو حیثیـت لـري چـې کمـزوري او ضـعیف پکـې راګیرېږي خـو زورور یـې بیا ویجاړوي.*

نـه کنټرولېـدونکی فسـاد د سرطـان پـه څېـر وي چـې بـالآخره بـه د ټـولنې نظم او انضباط له دننه خوا له منځه وړي.

معمـولاً د سـتونزې حـد او کچـه سـطحي فکـر کـوونکي هڅـوي چـې بـالآخره د فسـاد شـتون لـه نظریـې سره ځـان عیـار او ورسره توافـق وکـړي.

داسې هم شته چې خلک د فساد شتون د یوې نړیوالې پدیدې په توګه توجیه کوي.

په مفسدو حکومتونو کې د افرادو لپاره پوستونه او څوکۍ رامنځته کېږي، په داسې حال کې چې په سمو حکومتونو کې د پوستونو او څوکیو لپاره خلک غوره کېږي.

یو وخت د کوم پرمختللي هېواد یو وزیر د درېیمې نړۍ د یوه هېواد کوم وزیر د خپلو شخصي- اړیکو او ملګرتیا له لارې په یوه غیر رسمي سفر خپل هېواد ته وروباله. کله چې د درېیمې نړۍ هېواد وزیر د نړۍ دغه پرمختللي هېواد ته ورسېد د خپل ملګري له خوا چې د هغه هېواد وزیر و له تود او تشریفاتي هرکلي سره مخامخ شو، داسې هرکلی چې ته به وایې په رسمي سفر ورغلی وي، سرې قالینې یې ورته هوارې کړې وې او همدارنګه ډېر نور تشریفات یې ورته نیولي وو. لږ وروسته سړي له خپل ملګري څخه پوښتنه وکړه چې دغه ټول امکانات او شته دې له کومه کړي، دا خو دولتي امکانات نه دي ځکه زه په غیر رسمي سفر راغلی یم. ملګري یې د خپل کور یوه کړکۍ خلاصه کړه ورته ویې ویل: هغه سیند ګورې، سړي وویل: هو، بیا یې ورته وویل: د سیند په سر هغه پُل ګورې: سړي وویل هو، ګورم یې، بیا یې ورته وویل: "۱۰ فیصده".

په راتلونکي کال کې د درېیمې نړۍ هېواد وزیر خپل همدغه ملګری (د پرمختللې نړۍ هېواد وزیر) ته خپل هېواد ته د یوه غیر رسمي سفر بلنه ورکړه. کله چې وزیر ورسېد ملګري یې تر هغه هم د هرکلي لوی او شانداره مراسم نیولي وو، خورا زیات مصارف یې کړي وو. د پرمختللي هېواد وزیر هک حیران شو چې د یو بېوزلي هېواد وزیر دا ټول امکانات او شته له کومه کړي؟ له خپل ملګري څخه یې پوښتنه

وکړه چې دا ټول دې له کومه ترلاسه کړي دي؟ ملګري د هغه په خبر کړکې خلاصه کړه او ویې ویل: هغه سیند ګورې، سړي وویل: هو ګورم یې. بیایې ورته وویل: د سیند له پاسه هغه پُل ګورې؟ سړي وویل: نه پُل خو نه شته. وزیر ورته وویل: "۱۰۰ فیصده"

[مانا دا چې لومړنی وزیر ۱۰ فیصده په فساد کې ښکېل و او دوهم وزیر ۱۰۰ فیصده]

په فساد ککړه ډیموکراسي داسې ده چې جنایتکاران د ښه او منظم یونیفورم او جامو اغوستلو سره رښتیني خلک له منځه وړي او خپله د هېواد چارې په واک کې اخلي. یو مفسد حکومت له یوه جنایتکاره سازمان څخه کم نه دی. کله چې د یوه مفسد حکومت یو چارواکی وایي چې: "زه د حکومت استازی یم او د مرستې لپاره دلته راغلی یم." تاسې پوهېږئ دغه سړی په خپله یوه ستونزه ده. په دا ډول ټولنو کې انګېرنه دا وي چې چارواکي د خلکو په چوپړ کې دي خو د چارواکو کړنې بیا ثابتوي چې اصلاً خلک د دوی په چوپړ کې دي. له فساد څخه د حکومت ګوښه ساتنه د یوه هېواد په وګړو پورې اړه لري. که چېرې خلک په دې برخه کې له خپل مسئولیت څخه سترګې پټې کړي او ناسمو خلکو ته دندې او مسئولیتونه وسپاري هرومرو حکومت مفسد کېږي.

په فساد ککړو نظامونو کې قوانین د شخصي- ګټو پر بنسټ جوړېږي نه د عامه ګټو، تر دې بدتر دا چې مفسد او بې کفایته کسان په مهمو دندو او منصبونو ګمارل کېږي. ملي عواید بنګ و بوزه(حیف و میل) کېږي، د عامو خلکو حقونه تر پښو لاندې کېږي. کله چې حکومت خپله قانون ماتوي په حقیقت کې د قانون په وړاندې سپک نظري عاموي.

کله چې ارزښتونه تر پښو لاندې شي، له حرامې لارې ترلاسه شوې شتمنې د درناوي او عزت نښه ګڼل کېږي. مونږ دلته د فساد د جزئي پېښو په اړه خبرې نه کوو، بلکې د ټول هغه سیستم په اړه خبرې کوو چې په فساد لړل شوی وي او د عامو وګړو د ژوند ټولې برخې اغېزمنوي. کله چې فساد د ژوند کولو یوه برخه شي آزادي خپله مانا له لاسه ورکوي. کله چې فساد په یوه ټولنه کې د یوې عامې ناروغۍ په توګه پراخ شي ټولنه په ګونډو کوي او ویاړلی ژوند له ګواښ سره مخ کوي.

***په دې پوهېدل مهم دي چې فساد د ویده وجدان له امله وده کوي.***

یو بزګر له ځان سره تصمیم ونیوه چې له نورو درمندونو څخه یوه یوه کوده غنم غلا کړي، په دې سره به دده د غنمو کوټه غټه شي او نورو ته یوه غېږ(کوده) غنم نه معلومېږي. خپله لور یې له ځان سره کړه چې هاخوا دېخوا وګوري چې څوک پرې رانشي. بزګر چې لومړني درمند ته لاړ، لور یې غږ پرې وکړ چې پلاره یو څوک دې ځاري. سړي رامنډه کړه خو ګوري چې هېڅوک هم نشته. بلې کوټې ته لاړ. لور یې بیا پرې غږ وکړ: "پلاره یو څوک دې ځاري!" سړي بیا منډه کړه خو ګوري چې بیا هم هېڅوک نشته. د درېیم ځل بیا همداسې وشول، دا ځل بزګر خپل لور ته په غوسه شو چې ولې دروغ وایې دلته خو هېڅوک هم نشته. لور یې ورته وویل پلار جانه! یو څوک شته چې تل تا ځاري او هغه **خدای ج** دی.

وجدان د ډېرو خلکو لپاره د خدای بل نوم دی. همدغه وجدان د اخلاقي او روحي پرېوتو پر مهال د انسان یوازینی ساتونکی وي. دغه باطني غږ دی چې مونږ سمې لارې ته رابولي. د یوه فاسد او دروغجن

انسان لپاره وجدان د خوښۍ او هوساینې لویه سرچینه ده. هغه کسان چې د نورو په وړاندې غداري او خیانت کوي په حقیقت کې لومړی د ځان په وړاندې خیانت کوي. کله چې یو څوک له خپل وجدان سره خیانت کوي ښایي وجدان یې غلی وي خو هېڅکله ډاډمن نه وي. د اخلاقي پرېوتو تر ټولو بد حالت هغه دی چې یو څوک دې د تقوا تر پردې لاندې ترې ناوړه گټه پورته کړي.

***جورج برنارد شاو وویل: دیموکراسي لامل گرځي چې یو فاسد اقلیت د یو نا لایقه اکثریت په مټ واک ته ورسېږي.***

په یوه فاسده ټولنه کې «کمېشنکار» ځانگړې مانا لري. دا واضح ده چې د اطفائیې کمېشنکار د مصئونیت د هر جواز په صادرولو سره خپل کمېشن اخلي. د کور جوړونې کمېشنکار له هر کور جوړېدو سره کمېشن اخلي. د عوایدو راټولولو کمېشنکار خپل کمېشن اخلي. په فاسده ټولنه کې کمېشنکاران په کمېشنونو سره خپل ژوند مخ ته بیایي. دا د حیرانتیا خبره نه ده چې هر هغه څوک چې کمېشن اخلي، کمېشنکار گڼل کېږي.

**تدریجي تباهي**

*په یو ځا پورې یو نوم تړل کېدل، یعنې څه؟*

کله چې په یوه ټولنه کې فساد د منلو وړ وي او د مفسد په نوم یو څوک د شرم احساس نه کوي په دغه وخت کې د ټولنې ویجاړېدل او تباهي د حیرانتیا وړ نه ده. پخوا به فساد او مفسد ته په ټولنه کې په سپک نظر «کتل» ډېر مؤثر وو، ځکه په فساد ککړ خلک به یې له ټولنې گوښه کول څو خپل اخلاق او کړنې سمې کړي. پخوا به خلکو هېڅکله نه غوښتل چې اولادونه یې د په فساد ککړو کورنیو له فاسدو کسانو سره واده او یا ټولنیزې اړیکې جوړې کړي، ځکه دغه چاره یې

ځان تـه سـپکاوی ګڼلـه. خـو اوس د ارزښـتونو پـه لوېـدلو سره وضـعیت بـل ډول دی. مـونږ لـه فسـاده خپلـې ډکـې کړنـې توجیـه کـوو او وایـو: "بایـد عمـل پالـه واوسـو." فسـاد د هـر څـه پـای نـه دی، بلکـې د هـر څـه د پـای ته رسېدو وسیله ده.

***پـه فسـاد ککـړ هېـواد د یـوه داسـې بـس ګـاډي حیثیـت لـري چـې نیمایـي سـورلۍ یـې د چلولـو هڅـه کـوي او نیمایـي نـور یـې بیـا د کرایې د راټولولو.***

د فســاد او جــرم تــرمنځ خــورا ژوره اړیکــه شــته ده. نــا قانونــه پیســې اخیســتنې، رشــوت، د جنسي- تېـري پېښــې، خیانــت، وژنــې، د رســمي څوکیـو او منصـبونو پېـر او پلـور، اخـتلاس او غـلاوې د ورځنـي ژونـد برخـه ګرځـي. فسـاد د جرمنـو پـه وړانـدې د مبـارزې پـه برخـه کـې یـو لـوی خنـډ دی. فســاد ان لــه ترهګــرۍ سره د پرتلــې وړ دی. د ترهګریــزو کړنــو قربانیــان معلــوم نــه دي یعنــې هــر څــوک یــې قربــاني کېــدلای شي. همدارنګـه فسـاد هـم د سرخـلاصي لیـک پـه څېـر دی چې هـر څـوک متـأثر کوي.

د فساد سرچینه کومه ده؟

د فساد سرچینې په بدو قوانینو او بدو اشخاصو پورې تړلي دي:

- بد قوانین
- بد خلک

د یـوه حکومـت پـه وړانـدې هـېڅ بـل څـه درنـاوی لـه منځـه نـه وړي مګـر هغـه قـوانین چـې شـته دي خـو پـلې کېـږي نـه. بـد اشـخاص او کسـان بیـا تـر بـدو قوانینـو هـم لا د فاسـدو کړنـو مسـئول دي، ځکـه همـدوی د بـدو قوانینـو رامنځتـه کـوونکي دي. پـه یـوه ټولنـه کـې دوه ډولـه خلـک شـته دي:

- د لوړو اخلاقي ارزښتونو خاوندان
- د ټيټو اخلاقي ارزښتونو لرونکي

تجربې ښودلې ده چې کـه يـو لـږ شـمېر خلـک د غـوره او پـلي کېـدونکو قوانينـو د نـه شتون پـه صـورت کـې هـم غـوره اخلاقـي کړنـې تـرسره کـوي. ددغـې موضـوع بـرعکس هـم شونې ده چې يـو لـږ شـمېر خلـک دې د ښو او پــلي کېــدونکو قوانينــو لــه شــتون سره سره نــاوړه کړنــې تــرسره کــړي. اکثريـت خلـک پـر سيسـتم بانـدې تکيـه کـوي څـو هغـوی تـه سـم لـوری وروښـيي. پـه يـو غـوره سيسـتم يـا نظـام کـې يـو مفسـد پـه خـورا سـتونزمن حالـت کـې وي، همداسې پـه يـوه فاسـد سيسـتم يـا نظـام کـې بيـا يـو غـوره او ريښتيني انسان په خورا ستونزمن حالت کې وي.

*کـه څـه هـم چـې فسـاد پـه بشـپړه توګـه لـه منځـه نشي- تللـی خـو تـر ټولـو ټيټې کچې ته رسېدلی شي.*

يوه پاچا خـورا پـه فسـاد ککـړ وزيـر درلـود، چـې ډېـر پـه ماهرانـه ډول بـه يـې اخـتلاس کـاوه. کلـه چـې پاچـا پـرې خـبر شـو داسـې يـوه دنـده يـې وروسـپارله چـې نـه د هـاخوا شي او نـه ددې خـوا، بلکـې هـدف يـې دا و چې لـه فسـاد څخـه د وزيـر لاس لنډ کـړي. دنـده يـې ورکـړه چـې د سمندر تـر څنـګ د اوبـو څپـې وشـمېري. فاسـد وزيـر دلتـه هـم ځـان تـه لار جـوړه کـړه، هغـه داسـې چـې لـه بېـړۍ چلوونکـو او لامبـو وهونکـو څخـه پيسـې اخيسـتلې او خپلـه دغـه کړنـه بـه يـې داسـې توجيـه کولـه چـې دغـه خلـک يې رسمي دنده چې د اوبو د څپو شمېرل دي اخلال کوي.

کلـه چـې فاسـد او اخلاقـي ارزښـتونو تـه نـه ژمـن کسـان دنـدې او منصـبونه ترلاسـه کـوي پـه حقيقـت کـې ټولنـه لـه ګـواښ سره مـخ کـوي. دا هغـه مهال دی چې فساد په ټولنه کې عام کېږي.

**د فساد لامل مجبوریت دی که حرص؟**

کمښت- لومړنیو او یا اساسي توکو ته د تقاضا لوړوالی او د عرضې کموالی د فساد لامل کېږي. ښايي دغه ډول وضعیت رښتینی او یا د کوم مصلحت له مخې رامنځته کړل شوی وي.

بېوزلي- کله ناکله شدیده بېوزلي ددې لامل کېږي چې یو څوک دې فساد ته لاس اوږد کړي.

د زیات ثروت[۱۳] ترلاسه کول- ځینې کسان ددې لپاره چې تر ټولو ښه ژوند ولري او ډېر امکانات ترلاسه کړي په فساد لاس پورې کوي. له نامشروع لارو لکه د اختلاس له لارې د پیسو پیدا کول په فساد ککړه ټولنه کې له سړي سره مرسته کوي چې لوړ منصب ترلاسه کړي او په غټه سترگه ورته کتل کېږي. کله چې په یوه فاسده ټولنه کې جرم او جنایت د گټې په یوه سرچینه بدله شي دغه ډول کړنو ته یو غوره نوم ورکول کېږي.

***فساد د انسان د کړنو یوه برخه ده، چې په انسان کې د انسانیت د نه شتون له امله راټوکېږي.***

**د فساد ډولونه؟**

**ډالۍ:**

د یوه چارواکي له خوا د ډالۍ، سوغات او شیریني په توگه له یو چا نه څه ترلاسه کول، چې دغه چاره په چارواکي باندې د ډالۍ ورکوونکي کنترول او نفوذ زیاتوي څو یوه غیر قانوني چاره د هغه لپاره ترسره کړي.

۱۳ - wealth

**د پیسو اخیستنې:**

یو چارواکی له یو چا څخه په ناقانونه ډول د پیسو ترلاسه کولو غوښتنه کوي. دا ډول چارواکي مراجعه کوونکي ته وايي که دومره پیسې رانه کړې ژوند به دې سور اور کړم.

**اختلاس:**

په نامشروع ډول د خپل منصب له لارې د شتمنۍ راټولول.

**د خپلوۍ اړیکې پالل:**

لیاقت او وړتیا ته نه پام او د خپلوۍ اړیکو په خاطر یوه منصب کې د یو چا ګمارل دي. د یوه فاسد کس لپاره د خپلوۍ پالل یوازې په دې مانا ده چې خپل خپلوان د ناقانونه امتیازاتو په لېست کې شامل کړي.

**د هرې بڼې فساد غورچاڼ:**

- شخصي ګټې پر عامو او ملي ګټو غوره ګڼل.
- د باور او اعتماد له منځه وړل.
- له خپلې دندې او عامه هوساینې څخه سرغړونه.
- چل ول
- عامه هوساینه په پام کې نه نیول.

**د فساد پایلې**

- فساد اداره ځپي.
- فساد د ادارې څخه د پیاوړو کسانو د وتلو لامل کېږي.
- فساد، په ملي کچه د روحیې د اغېزمن کېدو لامل کېږي.
- په ټولنه کې د فساد له خورېدو او ودې سره هم مهاله جرم او جنایت هم خورېږي.
- په یوه ټولنه کې فساد، د هغې ټولنې وګړو ته، نه د عزت ژوند بښي او نه هم مرګ.

- فساد د انسانيت او عاطفې د کمېدو لامل کېږي.

**له فساد سره څرنګه مبارزه کولای شو؟**

زړه سوانده او وړ خلک بايد مهم او تصميم نيونکي منصبونه خپل کړي او:

- د فساد او بې عدالتۍ له منځه وړلو ته بايد ژمن پاتې شي.
- د يوې داسې پياوړې رهبرۍ رامنځته کول چې وکولای شي ملت د فساد په وړاندې بسيج کړي.
- د پياوړو قضائي بنسټونو له لارې په آسانه توګه د پيسو د تر لاسه کولو لارو چارو ته بيا کتنه وکړي.
- له خپل شخصيت او روحيې باندې کار کولو ته اړتيا احساس کړي څو په دې سره د فساد ناوړه اغېزو او نفوذ جرړې وباسي.
- د فشار د ربښتينو ګروپونو په رامنځته کولو سره په سيستم کې د روڼتيا او حساب ورکونې د تقويت او پياوړتيا لپاره دې له هغوی ملاتړ وکړي.
- په ټولنه کې د فساد په وړاندې د مبارزې لپاره د عامه پوهاوي رامنځته کولو له لارې خوځښت رامنځته کړي.
- له فساد سره په مبارزه کې بايد د قربانۍ ورکولو لپاره په داسې حال کې ځان چمتو کړي چې مخالف کسان به يې د خپلو ګټو لپاره په وړاندې درېږي.

*هر کله چې مونږ خپلو ماشومانو ته نظر کوو بايد فکر وکړو چې آيا بل ځل به همدوی د فساد قرباني وي؟*

د فساد په وړاندې درېدل د هېوادپالنې او فساد ترمنځ د بقا مبارزه ده. د دغې ټولنيزې ناروغۍ د جرړو ايستلو لپاره بايد عامه پوهاوی رامنځته

شي. د ټولنې وړ او غوره کسان باید گوښه والی پرېږدي او د فساد شتون په وړاندې ودرېږي.

*هر څومره چې په یوه فاسد سیستم کې د افرادو شمېر زیاتېږي، په حقیقت کې فساد په یوه کلتور بدلېږي او دغه کلتور یو لاشخور کلتور دی.*

داسې یو وضعیت وي لکه یو سپی چې بل خوري. کله چې خلک د ژوند په یوه برخه کې کړول کېږي دوی هم زده کوي چې کله واک او قدرت تر لاسه کړي نور وکړوي. دا ډول کلتور په هره ټولنه کې د ژوروالي په لور درومي. د فساد هره کوچنۍ پېښه د غبرگونونو یوه لړۍ راپاروي. یوه اقتصادي ستونزه راولاړوي او دا بیا لا ډېر فساد ته لار هواروي. په تدریجي ډول سره نه یوازې دا چې فساد د چارو یوه برخه گرځي، بلکې خپله فساد د یوې چارې بڼه خپلوي. خبره هغه مهال *لاستونزمنه کېږي کله چې فساد د حکومت په چارو او د خلکو په زړونو کې نفوذ وکړي.* له فساد څخه د ملت کړېدل او په هغه کې د وگړو لاس لرلو وضعیت بېرته نه راگرځېدونکي پړاو ته رسوي. دغه وضعیت فساد ته لا وده او پراختیا بښي او په دې سره د فساد څرخ یوه نامعلوم لوري ته خوځېږي او په ټوله مانا بل ډول خلک رامنځته کوي. داسې چې په ناقانونه ډول له خلکو د پیسو شکولو او د خلکو قرباني کېدو ته په لوی لاس زمینه برابروي. غوړه مالي او صیب، صیب ویل ددغه کلتور مهمه برخه گرځي.

د جلي فېش په نوم یو حیوان دی چې په اوبو کې ژوند کوي، دغه حیوان د سنایل په نوم یو بل حیوان ژوندی له ستوني تېروي. کله چې سنایل د جلي فېش گېډې ته ورسېږي هلته په فعالیت پیل کوي او له

ننه څخه د هغه په خوراک پیل کوي بالآخره داسې یو وخت رارسېږي چې نور جلي فېش ببخي له منځه ځي.

***فساد هم له یوه ملت سره ورته څه کوي. تر هغه وخته یې له ننه خوري چې ملت څوړتیا ته ورسوي.***

*تاریخ د دې حقیقت شاهد دی، هر هغه څوک چې د خپل هېواد مرئ پرېکوي دغه کړنه یې د هغه خپلې مرئ پرېکېدو باندې تمامېږي.*

# اتم څپرکی

# د ویاړ درس ورکول

***زمونږ ځوانان زمونږ د ټولنې سل فیصده برخه نه جوړوي، بلکې زمونږ د ټولنې سل فیصده راتلونکې جوړوي.***

د یوه هېواد ځوانان د سبا ورځې رهبران دي. د نن ورځې ځوانان د سبا ورځې، قاضیان، څارنوالان، جنرالان، انجنیران، ډاکتران او سیاستوال دي. د ملت راتلونکې د همدغو ځوانو پر پوهې، کرکتر او مهارتونو ولاړه ده.

یو ملت هغه وخت د یوه ویاړلي ملت په توګه راڅرګندېږي کله چې وګړي یې خپل کرکترونه جوړ کړي. داسې ویل کېږي چې د کرکتر جوړولو درس له وړکتون څخه پیلېږي. خو زه وایم نه، تر دې هم لا له وړاندې پیلېږي، ان د یو چا له زېږېدو څخه هم سل کاله وړاندې. ولې؟ ځکه د فکر کولو بنه او ارزښتونه جنیتیکي اړخ لري او له یوه نسل څخه بل ته لېږدي.

یوه سپین ږیري سړي چې لاسونه یې له ځیرتیا رېږدېدل نیالګي کېنول. یو څوک ورغی او ورته ویې ویل: بابا جانه آیا ته ډاډمن یې چې دا به ونه شي او ته به تر هغه وخته پورې ژوندی وې چې مېوه یې وخورې؟ سپین ږیري ځواب ورکړ. آیا ټولې هغه ونې چې ما په خپل عمر کې ترې مېوه او دانه وخوړله ما کېنولې وې؟ له ما وروسته نور ډېر خلک راځي.

آیا مونږ په راتلونکي نسل باندې پام ساتونکي نه یو؟

***یو ملت هغه مهال مسئولانه چلند کوي کله چې د راتلونکو نسلونو لپاره د ملت له شتمنیو سره په سمه او معتبره توګه چلند کوي.***

هغه عادتونه چې د ځواني پر مهال په یو چا کې ځای ونیسي- د هغه په ټول ژوند کې ورسره مله وي او پر ژوند یې اغېز هم کوي. که چېرې د ځواني یا هلکتوب دوره بېځایه تېره شي په حقیقت کې ټول عمر عبث تېر شوی دی. هېڅ شی هم د ځواني عمر نه شي جبران کولای.

هره هغه ټولنه چې نن ورځ د جرایمو شاهده ده په هغې کې په دې بحث نه کېږي چې مجرمانو ته څرنګه سزا ورکړل شي، بلکې په دې خبرې کېږي چې څرنګه کېدلای شي چې د جرایمو زده کولو څخه ځوانان راوګرځوي.

په ډېری ټولنو کې د نن ورځې ځوان د هویت له کړکېچ سره مخ دی. له ناهیلۍ او پر ځان باور نه لرلو سره مخ دی. د هغه د زړه سوړوالی د ټولنې ټولنې اخلاقي اعتبار منعکس کوي. باید په دې پوه شو چې د ځوانانو فکرونه د مشرانو په پرتله خورا جذبوونکي دي.

مونږ نشو کولای چې راتلونکې خپلو ځوانانو لپاره جوړه کړو، خو کولای شو چې خپل ځوانان راتلونکې لپاره جوړ او چمتو کړو.

په میندو او پلرونو، ښوونکو او د ټولنې په مشرانو پورې اړه لري چې د ځوانانو د ښې روزنې لپاره زیار وباسي. اړینه ده چې ماشومان دې لوړ تحصیلات وکړي خو لا ډېره مهمه خبره دا ده چې باید هغه ارزښتونه په سمه توګه زده او درک کړي کوم چې مور او پلار یې ورښيي څو اصلي او حقیقي بریا ترلاسه کړي.

***تر ټولو غوره ډالۍ چې مور او پلار مې ما ته راکړې، د هغوی له قید و شرط پرته مینه او هغه ارزښتونه دي چې یوازې د هغوی لکچر یې ما ته نه دی راکړی، بلکې په خپله یې خپل په ژوند کې***

***عملي کړي دي او هغه ارزښتونه په دې ډول دي: د ښه او بد ترمنځ په آسانه توګه توپير کول، پر خدای باور، د زيار او تعليم ارزښت، پر ځان باور او پر امريکا باور.***

***کولين پاول***

**ځوابوېينه او لوری**

عموماً داسې انګېرل کېږي چې د ماشوم لپاره د مور او پلار مينه له کوم قيد و شرط څخه پرته ده. زه د بې قيد و شرطه مينې په اړه حيران يم؟ آيا په ټولو اړيکو کې دا ډول مينه صدق کوي که يوازې د پلار او مور مينه له اولاد سره يا هېڅ کومه استثنا نه شته. آيا د بې قيد او شرطه مينې مانا دا ده چې په نشه يي توکو د يوې کورنۍ يوه غړي ته اجازه ورکړو چې د ټولې کورنۍ ګټې قرباني کړي. هغه څه چې زه فکر کوم دا دي چې که د ګډ ژوند يو ملګری ناروغ کېږي بل هغه که ښځه وي او که خاوند نه يوازې دا چې د هغه پالنه نه کوي، بلکې د هغه تر رغېدو پورې خپله خوښي نه کوي. ځکه دا به وياړلی کار نه وي. د بې قيد او شرطه ژمنتيا مانا دا ده چې "زه له تا سره درېږم مهمه نه ده چې ته څه کوې." داسې نه وايې چې: "زه يوازې ښه په وخت کې له تاسر يم يا تر هغو له تا سره يم چې لا ډېر پرمختګ مې نه وي کړی." بې قيد او شرطه مينه قرباني غواړي. همدارنګه دا ډول مينه نيمګړتياوې په ګوته کوي هغسې چې له مونږ څخه هېڅ يو له ځانه پوره نه يو. مونږ بايد يو بل له ښېګڼو او بديو سره ومنو. که چېرې زمونږ يو خپلوان بې لارې کېږي بايد بېرته يې لارې ته راولو. که چېرې د هر دليل له مخې چې وي هغه لارې ته نه راځي بايد مونږ له هغه سره د خپلو اړيکو په باب له سره غور وکړو. دا معموله خبره ده چې مينه دې او پلرونه خپلې اړتياوې د خپلو اولادونو د غوښتنو قرباني کوي. يوازې دا

دليل نشي- کېداى چې ډېرى وخت بچيان د مور او پلار خبرې ته غوږ نه نيسي- د مور او پلار مسئوليت هم خلاصېږي. *هغه مينديې او پلرونه چې وبربېږي څو خپله پښه کړه کېښږدي، ماشومان يې هم د هغوى په پله پل ږدي.* ځينې ميندې او پلرونه خپل ماشومان مخ په لوړه بيايي په داسې حال کې چې ځينې نور بيا پرېږدي چې ماشومان يې پرېوځي.

تر ټولو يو ښه ډاډمن څيز چې ميندې او پلرونه يې خپلو ماشومانو ته ډالۍ کولاى شي دا ده چې داسې يوه نمونه او الګو ورته وړاندې کړي چې يو بل ته درناوى ولري. په يوه کورنۍ کې د يوه ارزښت ماتول د يوه ځوان په ژوند کې د ماتې په مانا دي.

کله چې د يوه ارزښت د ماتېدو په اړه فکر کوو تر ټولو لومړى څه چې زموږ ذهن ته راځي ځوانان دي. موږ وايو "ځوان نسل او د هغوى ارزښتونو ته وګورئ." موږ هغوى ته د "مقصرو ځوانانو کلمه کاروو." خو اصلي پوښتنه اوس دا ده چې اصلي مقصر- څوک دى، موږ که هغوى؟ "تر ټولو مهمه دا ده چې چا ته بايد ګوته ونيول شي؟ "نن ورځ کله چې د عجلې او بې صبرۍ خبره کېږي فوراً ځوانان د سړي فکر ته راځي. هغوى لارښوونې ته اړتيا لري او که چېرې همداسې له تګلوري پرته پاتې شي ستړې تېروتنې ترې سر وهي. هغسې چې د ښه او غوره ارزښتونو لوست يو نسل لوړوي، کله چې ته خپلو ماشومانو ته د غوره ارزښتونو درس ورکوې په حقيقت کې ته ان خپلو لمسيانو ته درس ورکوې.

د امريکا د يوه ولسمشر- مېرمن او د بل هغه مور ابې جيل اډامس خپل زوى ته له خورا مهمې محتوا برخمن ليک وليکه، په دغه ليک کې

چې په ۱۷۷۹ ز کال کې یې لیکلی دی، په هغه کې یې دا روښانه کړې چې د هغې باورونه او عقاید د معاملې وړ نه دي.

زما ښاغلی جانه:

ځان ددې جوګه کړه چې تر ټولو ښه او غوره پوهه او تقوا ترلاسه کړې څو په ټولنه کې ښه وځلیږې. داسې یو انسان در څخه جوړ شي چې خپل هېواد ته ویاړ او خپل مور او پلار ته یوه الهي ډالۍ واوسې. که چېرې څومره لوړ او مهم مهارتونه ترلاسه کړې خو کله چې ورسره د تقوا، رښتینولۍ او ویاړ په څېر ارزښتونه ور اضافه نشي- کومه ګټه نه لري. هغو دیني احساساتو او اصولو ته ژمن اوسه کوم چې له پخوا نه ستا ذهن کې تزریق شوي دي او په دې پوه شه چې د خپل خالق په وړاندې د خپلو کړنو او خبرو لپاره مسئول یې. راځه درته ووایم چې د خپل پلار لارښوونې تل په پام کې نیسه، هغسې چې د خپلې مور خوښي او د ځان هوساینه په پام کې نیسې... ددې پر ځای چې ته یو بې سره او بد اخلاقه شخص واوسې زه غوره ګڼم چې په خپل ماشومتوب کې مړ شوی وای او یا د سفر پر مهال تری تم شوای وای او قبر دې په کوم اوقیانوس کې وای.

*[سرچینه: د امریکا په تاریخ کې غوره لیکونه، ریبیکا پرایس جاني له خوا لیکل شوی کتاب، پنسلوانیا. ۲۰۰۰ کال، ۵۴ مخ]*

***اصول او دسپلین د یوه ماشوم روحیه له منځه نه وړي خو نه شتون یې بیا د مور او پلار زړه ماتوي.***

دا د مور او پلار دنده ده چې خپل ماشوم د ټولنې یو ارزښتمن غړی کړي.

پاول هاریس هغه څوک دی چې د چاپ په برخه کې د هغه نظر او نوښت په ټوله نړۍ کې انګازې کوي. خو نوموړی دا هر څه د خپلو

نيکونو لـه برکتـه ګڼـي، ځکـه پـه خـبره يـې هغـوی ورتـه ارزښـتونه پـه ګوتـه کـړي وو. ځرګنـده ده چـې د پلرونـو او نيکونـو اغېـزه پـر انسـان بـې پايـه وي.

## حدود او پولې

دا د هـر مـور او پـلار دنـده ده چـې د حـدودو او پولـو تـرمنځ تـوپير وکـړي. بيـا هغـه قـوانين يـا محدوديتونـه وګڼـي. غـوره هغـه يـې يـوه مقصـد تـه د رسـېدو پـه برخـه کـې مرسـته کـوي. دا د ميندو او پلرونـو دنـده ده چـې پـر خپلـو ماشـومانو بانـدې پـام وکـړي، ځکـه لـه هغـه څـه سره چـې هغـوی مـخ کېـږي د هغـوی د خپلـو کړنـو پايلـه ده. د يـوه ماشـوم لپـاره دا سـتونزمنه ده چـې هغـه دې يـو غـوره او ويـاړلی شخصـيت شي پرتـه لـه دې چـې مـور او پـلار يـې هغـه سـم وروزي. هغـه ميندې او پلرونـه چـې لـه خپـل اولاد څخـه د غـوره چلنـد تمـه نـه لـري او يـا هغـه تـه اصـول نـه ورښـيي پـه حقيقـت کـې هغـه تـه د ويـاړلي ژونـد درس نـه ورکـوي. زمـونږ پـه اصـطلاح پـه اوسـني آزاد يـا لېـبرال کلتـور کـې دغـه نظريـه چـې هـر سـړی د خپـل چلنـد مسـئول دی زړه ښـکاري. کلـه چـې يـو ماشـوم يـوه نـاوړه خـبره کـوي او يـا کـوم چـا ته سـپکاوی کـوي او مـور او پـلار يـې لـه هغـه پـه مستقيم يـا غيـر مستقيم ډول سـترګې پټـوي آيـا مـونږ ويلـی شـو چـې دا يـو ښـه ماشـوم دی؟ د مـور او پـلار چـوپ پـاتې کېـدل پـه دې مانـا دي چـې ماشـوم نـور هـم دغـه ډول چلند ته هڅوي.

ماشـومان لـه خپـل مـور او پـلار څخـه پـيروي کـوي خـو چېرتـه چـې بيـا د پلارتـوب او مورتـوب ارزښـتونه نـه شـته وي پـه دې صـورت کـې بيـا مـور او پلار لـه خپـل ماشـوم څخـه پيروي کـوي. لـه يـوه جنجـالي ماشـوم څخـه پـه راتلـونکې کـې جنجـالي مـور او پـلار جـوړېږي. بـې پـروا ماشـوم ښـايي پـه ماشـومتوب کـې ستاسـو خـوب مختـل کـړي خـو کلـه چـې لـوی شي ستاسـو

ژونـد مختـل کـولای شي. هـو، هغـوی متوجـه کـول او ډيسـيپلينې سـزا ورکول د هغوی په خير ده.

**زده کړه- شخصيت يا اکاډمی**

دوه ډوله زده کړه شته ده، لومړۍ هغه چې له تاسو سره مرسته کوي څو ژوند وکړئ، دوهمه هغه چې ستاسو ژوند در جوړوي. د هرې زده کړې رښتينې پايله دا ده چې کرکتر جوړ کړي او د سبا لپاره ټولنې ته غوره وګړي وړاندې کړي.

*دا چې څرنګه ولولو دا د هغه څه په پرتله مهمه نه ده چې په دې پوه شو چې څه بايد ولولو.*

د پوهې او زده کړې ترلاسه کول د خپلې بې خبرۍ کشفول دي. دا زده کول چې څرنګه بايد زده کړه وکړو، د تعليم بنسټ دی. دا د سم او ناسم ترمنځ زمونږ غوراوی را په ګوته کوي. د تعليم غوره سيستم دا دی چې په هغه کې د انسانيت او انسان پالنې اصول تدريس کېږي.

زده کړه د ټولنې روح دی. مونږ ته دا راښيي چې يو څه بايد په پټو سترګو رد نه کړو او نه يې هم په پټو سترګو ومنو. زده کړه مونږ ته قوانين او استثناوې را په ګوته کوي او د راتلونکو نسلونو په اړه زمونږ فکر باندې اغېزه کوي.

طبيعت او طبيعي ځانګړتياوې د انسان او ځناور ترمنځ توپير په ګوته کوي خو پوهه بيا د دوه انسانانو ترمنځ توپير په ګوته کوي.

ددې لپاره چې خلک خپل مسئوليتونه او حقوق درک کړي بايد تعليم او علم ته په ټولنه کې لومړيتوب ورکړل شي. دا تعليم دی چې خلکو ته د رهبرۍ وړتيا وربښي او نه يې پرېږدي چې په شا شي، دا زده کړه ده چې خلک چمتو کوي څو حکومت ومني خو غلامي نه. تحصيل کړو خلکو ته د أمنيت او کوم بل امتياز په پرتله آزادي لومړيتوب لري.

دا ډول خلک پوهېږي چې ټولنه تر هغه بشپړه آزادي نشي۔ درلودلی تر هغو چې د آزادۍ ټول اصول پکې نه وي منل شوي.

کرکټر جوړونه د پوهې تر ټولو لومړی مقصد دی او دا له خلکو سره مرسته کوي څو نېکمرغه او پتمن ژوند ولري چې دا پروسه بیا دوه برخې لري:

۱ــ ځان د علم په ګانه سمبالول او خپل پرمختګ، چې فردي پرمختګ ګڼل کېږي.

۲ــ ټولنیز پرمختګ، چې په دې کې بیا د ټولنې د ټولو وګړو پرمختګ شاملېږي.

زمونږ ماشومان حق لري څو له ټولنې څخه لاندې تمې ولري:

- عدالت، انصاف او خپلو مهارتونو پر بنسټ په مساوي ډول فرصتونو ته لاسرسی.
- داسې یو ښوونیز نظام چې د ټولنې هر وګړي ته د مسئولیت درس ورکړي.

دغه ټول اهداف ترلاسه کېدای شي، خو هغه څه ته چې اړتیا لري هغه زده کړې ته ژمنتیا ده.

هېوادونه په ښښتو نه جوړېږي بلکې په مغزونو جوړېږي. کله چې تاسې فکر کوئ زده کړه ګرانه پرېوځي اړ یاست چې د ناپوهۍ خوند وڅکئ بیا به درته معلومه شي چې کوم یو ډېر ګران دی.

د یوه پوه او لوستي انسان ځانګړتیاوې څه دي. وېلیام اردور د یوه پوه او لوستي کس نښې او ځانګړتیاوې په لاندې ډول خلاصه کړې دي:

**د پوه انسان لس نښې:**

۱ـ په روښانه او منطقي توګه فکر کوي، ویاړلی او په زړورتیا سره ژوند کوي، د زړه له اخلاصه ورکړه کوي، په خورا مینه او مهربانۍ نورو ته بښنه کوي.

۲ـ پوهېږي چې مسئولیتونه تر امتیازاتو لومړیتوبونه لري او آزادي د أمنیت په پرتله خورا ارزښتمنه ده.

۳ـ پوهېږي چې د دوی زده کړه هېڅکله نه بشپړېږي، هغسې چې ژوند د ودې نه ختمېدونکې پروسه ده.

۴ـ په دې پوهېږي چې ښکلا په سادګۍ کې ده او رښتینولي د شخصیت بنسټ جوړوي.

۵ـ پوهېږي چې ستر نظرونه د سترو شتمنیو په پرتله تلپاتې وي، غوره بېلګې د سولول شویو عبارتونو په پرتله ډېر څه سړي ته ور زده کوي.

٦ـ پوهېږي چې هڅه او پلټنه د زده کړې د ډېوې د اورلګیت مثال لري.

۷ـ هغوی د خپل داخلي تفکر زېرمې پیاوړې کړې دي او د خپل خالق او نورو انسانانو په وړاندې د قدردانۍ او منندویۍ د ښکارکولو غوره لارې یې زده کړې دي.

۸ـ د نویو ننګونو، کلتورنو او غیر معمولو دودونو او د نظر اختلافاتو هرکلی کوي او خوند ترې اخلي.

۹ـ د لا زیاتې پوهې تږي وي، لا ډېر حقیقت او رښتینولۍ ته وږي وي او لا ډېرې هوښیارۍ ته لېوال وي.

۱۰ـ خپل محدودیتونه پېژني خو په خپلو امکاناتو تمرکز کوي. په خپل ځان پورې تړلو ځانګړتیاوو ته په درنه سترګه ګوري خو له انسانیت سره بیا د خپلې ملتیا درناوی کوي.

دا چې ولې ډېرى میندې او پلرونه او ښوونکي نشي- کولای چې ځوان نسل ته الهام ښونکي وي دلیل یې دا دی چې هغوی په ناسمه لار روان دي، له ځان څخه د منندوی اوسېدلو کلتور یې خپل کړی دی او وايي چې: "دا زما ژوند دی".

***یو ښوونکی تلپاتې اغېزه پرېږدي.***

په پخوا وختونو کې به په هند کې یوه زده کوونکي د فیس په بدل کې له ښوونکي سره یو ځای د هغه د کورنۍ د غړي په توګه ژوند کاوه. ښوونکی به ددغه زده کوونکي د هر ډول روزنې مسئول و. زده‌کوونکي ته به ښوونکی تر ټولو مهم او ارزښتناک کس و او د هغه قدر به یې کاوه. هر هغه څوک چې نورو ته تعلیم ورکوي په حقیقت کې ښوونکی دی. که چېرې نبوغ او استعداد د سرو زرو کان وي ښوونکی بیا کان کېندونکی دی چې هغه راباسي.

*ښوونکي تاریخ جوړونکي دي.*

**په واده کې ویاړ- د ژوند لپاره چمتووالی**

تر ډېره پورې واده ته د یوه سپېڅلي تړون په توګه کتل کېږي او داسې ګڼل کېږي چې یوه سپېڅلې اړیکه ده. واده نه یوازې د دوه تنو ترمنځ یو قرارداد دی، بلکې یوه سپېڅلې ژمنه ده.

بایبل کتاب سمې او ناسمې جنسي- اړیکې داسې تشریح کوي. سمې جنسي- اړیکې هغه دي چې د ښځې او مېړه ترمنځ د واده د تړون پر بنسټ ترسره کېږي او له دې ورهاخوا ټولې ناسمې جنسي- اړیکې دي. زنا د ناولتیا په مانا ده او همدارنګه یو ډول غلا هم ګڼل کېږي. زنا د کورنۍ ثبات ویجاړوي، د ښځې او خاوند ترمنځ اعتبار له منځه وړي او د کورنۍ ترمنځ صداقت او رښتینولۍ ته زیان اړوي.

په ۱۹۹۴ ز کال کې د مشیګان پوهنتون ترسره شوې څېړنې په ګوته کړه چې خیانت د طلاق له اصلي لاملونو څخه دی. ډاکټر فرانک پیټمن چې د ټولنیز او ګډ ژوند په برخه کې خورا ډېره پوهه او تجربه لري وايي چې په خپل ۳۰ کلن کاري ژوند کې یوازې د طلاق له دوه داسې پېښو سره مخ شوی چې لامل یې زنا یا نامشروع جنسي- اړیکې نه وې.

ډاکټر لانا ستانیل چې د "واده اړخونه" تر نامه لاندې یو کتاب یې لیکلی وايي. هغه کسان چې د بل واده لپاره خپله لومړنۍ مېرمن طلاق کوي ددغو کسانو ۸۰ فیصده بیا وروسته پښېمانه وي. د عشق او عشقبازۍ لپاره په نامشروع ډول یو څوک لرل غمونو او تراژیدیو ته لار خلاصول دي.

***د نړۍ له سترو رهبرانو څخه یوازې دا چې ارزښتونه له خپلو میندو او پلرونو څخه په میراث وړي، بلکې دا یې هم د ځان مکلفیت ګڼلی چې نورو نسلونو ته یې ورسوي.***

***د امریکا پخواني ولسمشر، ښاغلي رونالډ ریګن د خپل ژوند د واده بلنلیک پر مهال.***

تاسې هېڅکله له ګوانښ سره نه مخ کېږئ که چېرې د ورځې یو ځل خپلې مېرمنې ته ووایئ چې راباندې ګرانه یې. د ارزښتونو منل له هغه څه څخه سرچینه اخلي چې په ټولنه کې د منلو وړ وي. یو وخت را رسېږي چې هغه اړیکې چې یوازې فزیکي اړخ لري د مینې او احساس اړیکې راتیټوي. حیوانات له یو بل سره د تړون پر بنسټ اړیکې نه لري. هغوی په غریزي توګه زېږد او زېږون کوي. د شرم او حیاء احساس د اړیکو له حرمت څخه رامنځته کېږي.

کله چې مونږ د نامشروع جنسي- اړيکې يا زنا په اړه د خندا او تفريح لپاره په ځانګړو ټلويزيوني خپرونو کې خبرې کوو د ناکرارۍ احساسات او همدارنګه ځورېدل يې هغه لومړني عواقب دي، اوس تاسې د هغه پيغام په اړه فکر وکړئ کوم چې ليدونکو ته يې ورکوي.

**شتمنی او پورونه**[۱٤]

مونږ څه ډول ناوړه ارزښتونه په خپلو کورنیو او ادارو کې تدریس کوو؟

کله چې ما ته په دفتر کې زنګ راشي او زه ونشم کولای چې ځواب ورکړم زما کارکوونکي به په دروغو داسې ونشي- ویلی چې زه په دفتر کې نه یم.

که چیرې یو پور والا مو زما دفتر ته زنګ ووهي او ووایي چې ما ستاسو له خوا خپل چک نه دی ترلاسه کړی زما کارکوونکي به په دروغو هغه ته ونه وایي چې هغه چک مو تیار دی زمونږ په ایمیل کې شته خو د ځینو دلایلو له مخې مو ونه شو استولی . که زه چیرې خپل سکرتر ته ووایم چې زما لپاره نورو ته دروغ ووایه یوه ورځ به هغه ما ته هم دروغ وایي. یوه ورځ به داسې وشي چې ما ته به یې زنګ وهلی وي چې زه ناروغ یم خو بازار ته به تللی وي او هلته به سودا اخلي، بس د تقدیر له مخې زه به هم بازار ته ځم او هلته به له هغې سره مخامخ کیږم، ورته وایم به ما فکر کاوه چې ته خو ناروغه یې هغه به ځواب راکړي. هو صیب ناروغ وم خو اسپرین ګولۍ مې وخوړې او اوس ښځې ښه یم. چا د دروغو ویلو درس ورکړ؟ ما خپله. اوس هغه یو مجرب دروغجن دی. ما ډیر ښه کار وکړ، همداسې نه ده؟ دغه ډول مونږ په خپلو ادارو او کمپنیو کې ناوړه ارزښتونه تدریس کوو. له دغسې څه سره تاسې آشنا یاست؟

راځئ چې د هغې پیښې په اړه خبرې وکړو چې په یوې کورنۍ کې واقع کیږي. زه ډاډمن یم چې هیڅ ماشوم نړۍ ته دروغجن نه راځي، بلکې هغوی دروغ زده کوي. یو ماشوم په خورا شوق یو ټلیفون ته

---

[۱٤]- دیون

ځواب ورکوي. ټليفون کوونکی وايي زه پلانی يم او غواړم له پلار سره دې خبرې وکړم، شته؟ ماشوم وايي هو ولې نه، يوه دقيقه صبر وکړه! ماشوم په منډه خپل پلار ته راځي او ورته وايي پلاره پلاني سړي زنګ وهلی او غواړي له تاسره خبرې وکړي. پلار ماشوم ته وايي، زه نه غواړم له هغه سره خبرې وکړم ورته ووايه چې نشته. ماشوم وايي: پلاره ته خو شته يې. پلار يې بيا ورته وايي ورشه ورته ووايه، پلار مې نشته. ماشوم بيا وايي پلاره خو ته شته يې. پلار يې پرې په غوسه کېږي او وايي زه درته وايم ورشه ورته ووايه نشته، که نه بيا داسې سبق درکړم چې هېڅکله يې هېر نه کړې. ماشوم ځي او هغه سړي ته وايي: "پلار مې شته خو وايي چې تاته ووايم چې نشته" د ماشوم شور او شوق کچه راټيټېږي ځکه له دې وړاندې يې دروغ نه دي ويلي. ماشوم نا آرامه دی ځکه د لومړي ځل لپاره په ژوند کې ګېچ شوی دی. نه پوهېږي چې څه وکړي. غواړي له دغه وضعيت څخه ځان وباسي. له همدې امله ګوشي اوچتوي او وايي، پلار مې وايي چې تاسو ته ووايم چې دلته نشته. پلار دا خبره واورېده او ماشوم ته يې ځپېړه ورکړه او ويې ويل چې زه دې سړي ته دروغجن کړم. اوس تاسې فکر وکړئ چې چا څوک دروغجن کړل. بيا ماشوم وويل، چې سمه ده پلاره زه پوه شوم. بل ځل چې زنګ راغی بيا هم ماشوم ګوشي جګه کړه، ټليفون کوونکي وويل؛ غواړم له پلار سره دې خبرې وکړم، شته؟ ماشوم وويل: صبر زه به وګورم. ماشوم پلار ته راغی ويې ويل پلاني سړي زنګ وهلی غواړي خبرې درسره وکړي. بيا زياتوي پلاره که غواړې خبرې ورسره ونه کړې څه ستونزه نشته زه ورته وايم چې پلار مې په کور کې نشته. پلار وايي نه زويه خبرې ورسره کوم. ماشوم وايي نه پلاره ته اړ نه يې چې خبرې ورسره وکړې. وګورئ چې

څه وشول. وړاندې له دې چې پلار يوه کلمه خبره وکړي ماشوم چمتو شو چې د هغه لپاره دروغ ووايي. آيا دا ډول پېښه په هر کور کې نه ده شوې که زه زياتی کوم؟ له ماشومتوبه يو ماشوم لږ لږ دروغ وايي او بالآخره داسې وخت رارسېږي چې يو غټ او مجرب دروغجن ترې جوړېږي.

ښايي دغه لړۍ درغلۍ، غلا او هرې بلې ناوړه کړنې ته ورسېږي. د هر څه تکرار او تمرين هغه څه تلپاتې کوي. يوازې د غوره چارو تمرين هر څه سموي. ځينې خلک خپلې تېروتنې تکراروي څکه تېروتي پاتې کېږي. کله چې يو ماشوم په دروغو، غلا او درغلۍ کې ښکېل کېږي، که څه هم په خپل نظر يې ډېرې کوچنۍ کړنې وي خو په دې سره د هغوی پر ځان باور کمېږي او په وجود کې يې ناوړه خصلتونه زياتېږي. دا يو عام منل شوی حقيقت دی چې کله يو څوک د دروغو، غلا او درغلۍ په څېر ناوړه کړنو کې ښکېل کېږي که څه هم څوک يې ونه ګوري پر ځان باور يې کمېږي. ددغې موضوع برعکس هم شونې ده. کله چې مونږ يوه مثبته کړنه هم کوو که څه هم څوک مو ونه ګوري په خپله د غوره والي احساس کوو. همدا پر ځان باور پيدا کول دي.

ډېری وخت ځينې خلک دروغ په دې توجيه کوي چې ګنې دا کوچني دروغ دي. کله چې کومه غټه خبره وي بيا به يې په اړه رښتيا وايم. کله چې مونږ کوچني دروغ تکراروو کله چې وخت يې راشي غټ دروغ هم وايو. ولې؟ دا څکه چې دروغ ويل زمونږ عادت ګرځي. همدارنګه کله چې مونږ ناوړه او ډارنې کړنې ترسره کوو ځان په دې قانع کوو چې کله له لويو کړنو سره مخ کېږو حتماً به پکې رښتيني يو. خو کله چې وخت يې رارسېږي، څه کېږي؟ بيا هم له ځانه بې غيرتي ښيو. دا څکه چې زمونږ عادت شوی. په ياد مو وي چې د کړنو تکرار هغه کړنه

نه اصلاح کوي، بلکې هغه تلپاتې کوي. یوازې سم تمرین هغه څه سموي.

**د ژوند یو بل واقعیت**

یو کس دوه ماشومان لري یو شپږ کلن او بل لس کلن. د ښار پارک ته ځي. د پارک مسئول کس وایي چې له پنځو کلونو څخه ټیټ عمر لرونکي ماشومان کولای شي په وړیا توګه پارک ته دننه شي. وړاندې له دې چې سړی د پارک مسئول کس ته ورسېږي خپل واړه زوی ته وایي، کله چې د پارک مسئول درڅخه پوښتنه کوي چې څو کلن یې؟ ته به ورته وایې دوه درې میاشتې کم پنځه کلن یم. مونږ خپل ماشوم ته د دوه دروغو درس ورکړ.

په لاندې مثال کې بیا دا روښانه شوې چې څرنګه یو مور او پلار خپل ماشوم ته د غوره ارزښتونو درس ورکوي.

یو بل کس له خپلو دوو ماشومانو سره پارک ته ځي. سړی د پارک د دروازې مسئول ته وایي یو ټیکټ ما ته او دوه مې ماشومانو ته راکړه؟ مسئول کس ترې پوښتنه کوي چې وړوکی زوی دې څو کلن دی هغه ورته وایي ٦ کلن. مسئول وایي که دې ویلي وای چې له ٥ ټیټ دی زه پرې نه پوهېدلم او کېدای شوای چې له ټیکټ پېرلو پرته پارک ته دننه شوی وای. پلار ځواب ورکړ، ته خو نه پوهېدلې خو زما زوی پوهېده. تاسې خپله فکر وکړئ چې د پورته دواړه کسانو د کوم یوه بچیان به غوره مشران شي.

زه بیا تکراروم چې مونږ خپلو ماشومانو ته په خپله دروغ ور زده کوو او کله چې هغوی مشران شي خپل وجدان پلوري.

ډېری میندې او پلرونه خورا مصروف دي او د خپل پلارتوب او مورتوب مسئولیت د ادا کولو په برخه کې پاتې راځي او د خپلو ماشومانو لپاره د

ښوونکو په توګه عمل کولو مسئولیت هېروي. دا ډول میندې او پلرونه ښوونځي ته د ملامتیا ګوته نیسي.؛ خو په دې نه پوهېږي هغه څه چې په ښوونځي کې زده کېدونکو ارزښتونو ته وده او استحکام ښښي، اصلاً په کور کې تدریس کېږي. ډېری تلوېزیوني خپرونې شته دي، چې په هغه کې ماشومان د خپل پلار او مور په پرتله هوښیار وي. کله چې لوېږو مور ته را زده کول کېږي چې باید ښه چلند وکړو. د پلار او مور درناوی د ماشوم مسئولیت دی او ددغه درناوي پر وړاندې غوره چلند د پلار او مور مکلفیت دی.

اوسنی نسل پر نوې ټولنیزې فلسفې باور لري او هغه دا چې: «درناوی باید ترلاسه کړای شي او دغه درناوی نور کوم خیالي او فرضي څه نه، بلکې ورکړل شوی څه دی.» خو د پخواني نسل انګېرنه لږ څه متفاوته وه او هغه داسې چې زمونږ میندې او پلرونه، ښوونکي او مشران تر هغو د درناوي وړ دي چې له ځانه یې کومه بې لیاقتي نه وي ښودلې. ځینې کلتورونه بیا داسې هم دي چې په هغه کې یو څوک د درناوي وړ نه دی مګر دا چې هغه یې ترلاسه کړی نه وي.

درناوی یوازې هغه څه نه دی چې یو پلار او مور ته دې په درنه سترګه وکتل شي، بلکې د هغوی په وړاندې د چلند څرنګوالی هم دی. د هغوی (مور او پلار) ساتنه او پالنه د ویاړ څرګندوی او له هغه څخه ډېره کول دي چې د هغوی د خوابدي کېدو لامل ګرځي. مور او پلار ته په نه درناوي سره مونږ په ټولنه کې د هغوی له ارزښت څخه انکار کوو.

د یوه بابا په اړه یوه کیسه ده چې له خپل زوی او لمسیانو سره یې ژوند کاوه. د وخت په تېرېدو سره د بابا روغتیایي وضعیت نازک کېده او لاسونه یې رېږدېدل. کله به یې چې ډوډۍ خوړله ډېر څه به ترې

توییدل. یوه ورځ د مېلمنو په مخکې ترې یو قاب چپه شو. په دې وخت کې زوی یې ورته وویل نور یې نشي. زغملی او له دې وروسته به په خپله خونه کې کېني او خپله ډوډۍ به خوري. هغه د خپل پلار لپاره له لرگیو نه جوړه یوه کاسه پیدا کړه څو د لوېدو په صورت کې ترې ماته نه شي. سپین ږیري بابا نور ددې اجازه نه درلوده چې د کورنۍ له نورو غړو سره یو ځای په دسترخوان کېني. یوه ورځ چې د سپین ږیري بابا زوی له کار څخه کور ته راستنېږي گوري چې دده زوی په یوه لرگي باندې ترکاڼي کوي، پلار پوښتنه ترې کوي، زویه په لرگي باندې څه کوې؟ زوی ورته وویل: "پلاره یوه لرگینه کاسه جوړوم" پلار ترې پوښتنه وکړه د چا لپاره یې جوړوې؟ زوی ځواب ورکړ: "پلاره ستا لپاره یې جوړوم" پلار تکان وخوړ او ویې ویل "دغې کاسې ته څه اړتیا ده؟" زوی ځواب ورکړ: "ستا د راتلونکې لپاره ده کله چې زوړ شوې د نیکه په څېر ته هم اجازه نه لرې چې له مونږ سره یو ځای کېنې." په دې وخت کې سړی هک پک شو او نېغ د خپل پلار خونې ته لاړ او خپل پلار ته یې وویل: "پلاره ما وبښه، تا په ټول ژوند کې زما پالنه وکړه. هېڅکله دې د ډوډۍ خوړلو پر مهال زه یوازې نه یم پرېښی. زه بښنه غواړم چې هغسې درناوی مې درته ونشوی کولای کوم چې ته یې وړتیا لرې. لطفاً ما وبښه."

سره له دې شېبې سپین ږیری بابا بېرته د کورنۍ له نورو غړو سره یو ځای ډوډۍ ته کېناسته، که څه هم بیا یې په دسترخوان کې ډوډۍ تیت کړه خو هېچا څه ونه ویل. هر هغه کلتور چې په هغه کې د مشرانو درناوی کېږي تر ټولو متمدن کلتور دی.

د پلار او اولاد ترمنځ اړیکه خورا ځانگړې او نه بدلېدونکې ده. پردي د مور او پلار په څېر غوښتنې نه لري. دا غیر معمول نه ده، چې یو ۵۰

کلـن سـړی دې د خپـل مـور او پـلار پـه وړانـدې د ماشـومتوب احسـاس وکړي.

د مـور او پـلار ویـاړل دا دي چـې پـه ټولنـه کـې داسـې احسـاس رامنځتـه شي چـې مشرـانو تـه پکـې پـه درنـه سـترګه وکتـل شي. همـدا مشرـان دي چـې د دوو نسـلونو تـرمنځ اړیکـه رامنځتـه کـوي. هـو کـه داسـې یـو وخـت راځـي چـې بایـد د کـوم پـلار یـا مـور کومـه کړنـه اصـلاح شي بایـد هغـه پـه دې ډول وي چې هغه ته سپکاوی ونه شي.

***ان د ضـعیفو اخلاقـو لرونکـو مینـدو او پلرونـو اولادونـه کـولای شي د نړۍ لپاره د غـوره چارو لـه تـرسره کولـو سره خپـل مـور او پـلار تـه ویاړ وبښي.***

**د "هو" او "نه" نسل**

ددې لپـاره چـې ماشـومانو تـه غـوره ارزښـتونه زده کـړل شي، مینـدې او پلرونه باید د خپلو ماشومانو په وړاندې د "نه" ځواب زده کړي.

مـونږ د "نـه" نسـل یـو. د "نـه" نسـل هغـه کسـان دي چـې عمرونـه یـې تـر ۵۰ کلونو اوښتي. څـه مانـا؟ دا پـه دې مانـا چـې هـر کلـه چـې مـونږ لـه خپـل مـور او پـلار څخـه یـو څـه غـواړو، هغـوی ووایـي: "نـه". داسـې چـې کـه د یـوې غوښـتنې پـه وړانـدې یـو ځـل ووایـي چـې "نـه" بیـا غـوره ګڼـل کېـږي چې هېڅکله له هغه څه غوښتنه ونه شي.

خـو اوسـنی نسـل د "هـو" نسـل دی. هـر کلـه چـې ماشـومان خپلو میندو او پلرونـو تـه ورځـي چـې زه کـولای شـم دا یـا هغـه شـی وپېـرم، کـولای شـم رسـتورانت تـه لاړ شـم، کـولای شـم دا یـا هغـه کـار وکـړم، ځوابونـه یـې "هو ولـې نـه" دي. خـو کـه کـوم وخـت د تصـادف لـه مخـې د نـه ځـواب ورکـړل شي ماشـوم نېـغ د خپـل د مـور او پـلار سـترګو تـه ګـوري او وایـي؛ ولـې؟ پرتــه لــه دې چــې ځــواب تــه پــام وکــړي بــل "ولــې" را پیــداکېږي او

همداسې بل او بل، کله چې خبره اووم "ولې" ته رسېږي. مور او پلار له خپلې خبرې لاس په سر کېږي او وايي "هو، سمه ده." آيا له دا ډول څه سره مخ شوي ياست؟ کله چې دا ډول چلند ګورئ کوم څه چې لومړی ستاسو فکر ته درځي هغه څه دي چې پلار څوک دی؟ بله پوښتنه دا وي چې آيا رښتيا هم ددغه څلور کلن ماشوم عقل هغسې پوخ دی لکه د ۴۰ کلن سړي؟ ځينې وخت مونږ هر "ولې" ته د هو يا نه په ويلو سره سم ځوابونه ورکوو خو ښايي ماشومان هغه درک نه کړي. خو مناسبه خبره دا ده چې د هو يا نه ځواب بايد په دليل سره د ماشوم لپاره تشريح شي. ولې مونږ ماشوم ته نه وايو چې: "دغه کار سم نه دی، ځکه چې..." که څه هم زمونږ مور او پلار مونږ ته "نه" ويل او مونږ خپلو ماشومانو ته "هو" وايو خو په دې پوهېږو، زمونږ په وړاندې زمونږ د ماشومانو په پرتله مونږ خپل مور او پلار ته ډېر درناوی کاوه.

***هغو کسانو چې له نورو څخه اطاعت کول زده نه کړل هېڅکله د نورو رهبري کول هم نه شي زده کولای.***

ډېری وخت مونږ خپلو دوستانو ته خورا قيمتي ځيزونه اخلو او ورته ډالۍ کوو يې، خو ښايي هغه هېڅ ډالۍ نه وي، ښايي دا د هغو ډاليو لپاره عذر وي چې مونږ هېڅکله هغوی ته نه دي ورکړې.

**مور ته مې**

کله چې په درې کلنۍ کې مې له اجازې پرته يو چاکلېټ واخيست تا راته دا را زده کړل چې سم کار کوې. تا را وښودل چې انسانيت له يوه فرد څخه مهم دی. ما ته دې راوښودل چې له مهربانۍ څخه برخمنې کړنې د مينې طبيعي محصول دی. ما ته دې راوښودل چې ارزښتونه له شتمنۍ څخه خورا مهم دي. ما ته دې راوښودل چې د غوره او

ډېرې غوره چارې ترمنځ تفکیک تر ټولو سخت تصمیم دی. ما ته دې راوښودل چې عقیده غرونه خوځولای شي. ما ته دې له نورو سره د مرستې کولو ارزښت راوښود. ما ته دې راوښودله چې د خپلو ژمنو پر وړاندې ژمن پاتې شم. ما ته دې راوښودل چې مطالعه له ټلوېزیون کتلو څخه ډېره مهمه ده. ما ته دې راوښودل چې خندا تر ژړا غوره ده.

ما ته دې هر څه د مثال په رڼا کې بیانول.

*راته ګرانه یې مورې*

زه په خپلو سیمینارونو کې تل له خلکو څخه اورم چې ما ته وایي چې زما بچیان ټول هغه څه کوي کوم چې خپله خوښه یې وي او ورته مهم برېښي. زه له هغوی څخه پوښتنه کوم چې آیا تاسو نه غواړئ چې په هغه څه پوه شئ کوم څه چې هغوی ته خوښي ورکوي؟ که چېرې په لارو او سړکونو کې د خلکو وهل- ډبول او له هغوی څخه غلا کول هغوی خوښوي دغه ډول چلند ته انحرافي چلند ویل کېږي. په دې کې شک نشته چې خوښي مهمه ده خو د خوښۍ سرچینه او اساس هم خورا مهم دی او دغه سرچینه زمونږ په ارزښتونو پورې تړلې ده، ډېری وخت مینده او پلرونه وایي چې "هر څه په خپله اندازه" خو زه دا پوښتنه کوم چې آیا غلا هم په خپله اندازه ښه ده؟ آیا نور په اندازه غولول ښه کار دی؟ آیا په اندازه دروغ ویل ښه دي؟ آیا په اندازه زنا کول ښه دي؟ آیا په اندازه د نشه یي توکو کارول ښه دي؟ په ژوند کې داسې ډېر څیزونه شته چې سم نه دي.

**ته راته ډېر ګران وې**

زما خوښېدله چې ته خپلې پیسې ټولې کړې او ځان ته یو بایسکل واخلې، که څه هم ما خپله ستا لپاره بایسکل اخیستلی شوای.

ته را ته ګران وې، ځکه مې هڅولې څو په دې پوه شې چې ستا تر ټولو غوره ملګرى ډېر خپک دى.

ته راته ډېر ګران وې، ځکه بېرته مې هغې مغازې ته بوتلې او پلورونکي ته مې وويل چې تا ترې غلا کړې وه اوس راغلى يې چې بيه يې ورکړې.

ته راته ډېر ګران وې، ځکه دوه ساعته دې په سر پورې ودرېدم څو خپله خونه په خپله پاکه کړې په داسې حال کې چې دغه چاره ما په ۱۵ دقيقو کې ترسره کولاى شواى.

ته راته ډېر ګران وې، ځکه دا مې غوره وګڼله چې زما په سترګو کې ناهيلي، غوسه او اوښکې وګورې. بچيان بايد پوه شي چې مينه دې او پلرونه يې هم نيمګړتياوې لري.

ته راته ډېر ګران وې، ځکه مې د خپلو مسئوليتونو او د خپلو کړنو پايلو د خوند څکلو ته اړ کړې، که څه هم هغه سزاوې چې ما تا ته ستا د کړنو په خاطر درکولې زما لپاره خورا زړه بوږنوونکې وې.

ته راته تر ټولو ګران وې، ځکه مې ستا د ځينو غوښتنو په وړاندې د "نه" ځواب درکاوه او کله به چې پوهېدم چې زما "نه" ځواب له ما څخه ستا د کرکې لامل کېږي، دا زما لپاره تر ټولو سخت حالت و.

خو بالآخره اوس خوښ يم چې په ټولو يادو برخو کې زه ګټونکى شوم او هغه ځکه چې ته هم ګټونکى شوې.

# نهم څپرکی
# آزادي وړيا نه ترلاسه کېږي

## آزادي په قيمت ارزي

د ډنمارک پاچا کريستين اکس له خپل زنداني کېدو څخه وړاندې د خپل هېواد دانېش ودانۍ له پاسه د نازيانو رپاند بيرغ وليده. له هغوی يې وغوښتل چې ژر تر ژره دې خپل بيرغ لرې کړي. خو نازيانو دا خبره ونه منله. پاچا ووېل يو سرتېری به ځي او بيرغ به ښکته کوي. د نازيانو قوماندان ووېل هغه سرتيری به په ګولۍ وويشتل شي. پاچا ووېل نه داسې به نه کېږي ځکه چې هغه سرتېری زه يم.

بيرغ د هغې مفکورې او ارمانونو استازولي کوي کوم چې د هغوی لپاره رپېږي. او ترې ساتنه کول يې د هر وګړي وياړ دی.

کرېستين اکس (۱۸۷۰ -۱۹۴۷)

د ډنمارک پاچا (۱۹۱۲- ۱۹۴۷)

## د ټولنې د بيلانس پانه

*د يوه کلتور له مخې په عامه توګه د ټولنې د افرادو د ځانګړتياوو ارزونه:*

په يوه کلي کې يوې بېوزلې کورنۍ ژوند کاوه. کليوالو تصميم ونيو چې له دغې کورنۍ سره د مرستې په هدف دې هر کور يو څه شيدې راټولې کړي. يوه کليوال له ځان سره فکر وکړ راځه زه به د شيدو پر ځای اوبه ورکړم، ځکه ټول خلک هرومرو شيدې ورکوي زما اوبه پکې نه معلومېږي. د ورځې په سهار يو لوی ديګ کېښودل شو څو هر

کلیوال شیدې پکې واچوي، بس کلیوال راتلل او د شیدو لوښي به یې په دیګ کې تشول، بالآخره دیګ ډک شو. پوهېږئ له څه شي؟ له اوبو. (ټولو کلیوالو د هماغه یوه تن په څېر فکر کړی و او ټولو اوبه راوړې وې.)

آیا تاسې هم د هماغه کلیوال په څېر یاست؟ آیا غواړئ له یوه ورته کلي او ورته ګاونډیانو سره ژوند وکړئ؟ مسئولیت نه منونکي خلک هغې ګټې ته ډېر خوښ وي کوم چې وړیا یې ترلاسه کوي.

د ټولنې د غړو په توګه مونږ ټول له یو بل سره تړلي یو، که چېرې یو څوک یا د خلکو یوه ډله په حکومتي چارو کې او یا د سوداګرۍ په څېر په نورو عمومي چارو کې چل ول وکړي اغېزې یې محدودې نه پاتې کېږي، بلکې ټول نظام او سیستم لړي او اخلاقي معیارونو ته زیان رسوي.

اوس دلته پوښتنه دا راولاړېږي چې څوک په یوه ټولنه کې اکثریت جوړوي؟ غوره او هوښیار خلک او که نادان او ناوړه خلک؟ که خبره یوازې د شمېر وي باید نادان او جاهل خلک تل په یوه ټولنه او غوره خلکو حکومت وکړي.

یوه ورځ یو بزګر له خپل کوره راووت او په لاره روان شو، ګوري چې د لارې په منځ کې یوه ډبره پرته ده او له دغه ځای څخه تېرېدل یې لږ څه ستونزمن کړي دي. بزګر د ډبرې په لیدو سره په غوسه شو، په لوړ آواز یې پیل وکړ چې دغه ډبره چا دلته اچولې، ولې یې اچولې، لار یې بنده کړې ... او لاړ. یو بل کس چې په دې لار به یې شیدې بازار ته وړلې راغی، ده هم چې ولیدل د لارې په منځ کې ډبره پرته ده، نو ده هم خپل زړه په خبرو تش کړ او لاړ، دغه لړۍ همداسې روانه وه. بالآخره یو ځوان زده کوونکی راغی کله چې یې ولیدل د لارې په منځ

کې ډېره پرته ده او خلکو ته یې ستونزې جوړې کړې دي خپله ملا یې وتړله او ډېره یې له لارې لېرې کړه. له ډېرې لاندې یو لیک پروت و چې کله یې پرانیست پکې لیکل شوي و "ددې ملت اصلي شتمني ته یې!"

په ټولنه کې دوه ډوله خلک شته دي، د خبرو خلک او د عمل خلک. د خبرو واله خلک یوازې خبرې کوي او بس، خو د عمل خلک بیا کار او عمل کوي. ددې کیسې اخلاقي نتیجه دا ده چې که تاسې د عمل خلک نه یاست د نیوکې حق هم نه لرئ.

ټولنې ته خدمت کول د هغه څه بدله ده چې مونږ پر ځمکه یوه فضاء اشغال کړې او ژوند پکې کوو.

د ټولنې هغه وګړي چې ویاړ، هېوادنی مینه او خپل مسئولیت له پامه غورځوي په حقیقت کې کړاو او ستونزو ته بلنه ورکوي. مونږ په خپل چاپېریال کې ډېرې ستونزې وینو خو د حل لپاره یې یوازې خدای ته دعا کوو. خو خبره دا ده چې ولې به خدای له هغه چا سره مرسته کوي کوم چې خپله یې له ځان سره مرسته نه کوي. له خپل ځان سره حساب کتاب کول د یوې ټولنې د سلامتیا لپاره خورا مهم دی. لټي او بې غرضي هېڅ څوک نه شي ځواکمنولی. هیلو، تمو، کرار کېناستلو او په خپل سر د یو څه ترسره کېدو ته انتظار، له بدمرغۍ پرته بل څه نه شي رامنځته کولای. د یوه ملت شتمني مادیات نه، بلکې د هغه ملت ربستینولي، جرئت او پر خپلو خلکو باور دی. ښایي نورو انسانانو ته خدمت او له هغوی سره مرسته تر ډېره یوه تصوري او خیالي موضوع ښکاره شي خو همدا یوازینۍ لار ده چې ثابتوي له نورو سره مرسته او ښېګڼه شته وي. *ټول ملتونه د خپل ژوند تاریخ د خپلو خلکو د عمل او*

کار او یا سستی او لنی پر بنسټ لیکي. څکه مونږ باید یقیني کړو چې آیا د حللارې یوه برخه یو او که د ستونزې.

***دېر ملتونـه لاړل ختم شول او هېڅ ننبې او آثار تـرې پاتې شوي نه دي. خـو تـاريخ يې اصـلي لامـل پـه ګوتـه کـړی دی او هغـه دا چې د ملتونو د پرېوتلو اصلي لامل د وګړو نه وړتیا وه.***

***روډیارډ کیپلینګ (۱۸۳٦ - ۱۸٦۵)***

**د مسئولیت احساس که بې پروايي**

د هیلو رالنډول، د قناعت پـه لـور یـو ګـام ګڼـل کېږي چې نېکمرغـی تـه د رسېدو لامـل کېږي. خلـک څنګلونـو او غرونـو تـه ځـي څـو دغـه ذهنـي حالـت تـر لاسـه کـړي. پـه معـاصر تـاريخ کـې د مسـئوليت احساسـلو غـوره بېلګـه تيرزامـې- مـور ده، هغـه څـوک چـې د تـر ټولـو بېوزلـو خلکـو لپـاره ودرېـده. د هغــې کړنــې د نومــوړې لــه بــاور او عقيــدې څخــه سرچينــه اخيسـتله. هغـې خپلـو مقاصـدو تـه د رسـېدلو لپـاره پـه صـداقت او رښـتينولی کـار کـاوه. تيريزامـې-مـور لـه خپـل ټولـو مخـالفينو سره د هغـوی څـوکۍ او مقـام تـه لـه کتـو پرتـه مبـارزه وکـړه. نومـوړې د هغـو کسـانو پـه خـاطر چې نشـوای کـولای لـه خپـل ځـان څخـه دفـاع وکـړي، پـه فسـاد ککـړ واک او صـلاحيت تـه پـام ونـه کـړ او خپلـه مبـارزه يـې وکـړه. هغـې خپـل هېـواد پرېښـود او تـرې جـلا شـوه، د [هنـد] د کلکتـې ښـار د سـړکونو پـه سر يـې د هغـو کسـانو لپـاره کـار کـاوه کـوم چـې د ژونـد نـاخوالو سـخت ځـپلي وو. يوازې د هغـې جرئت دغـه کـوچنۍ ښـځه د ټـولې نـړۍ پـه سـترګو کـې خـورا سـتره وبرېښـوله. د هغـې د بشر- پـالنې او سرښـندنې لـه برکتـه نـړۍ د ژونـد لپاره يو غوره ځای شو.

***هغـه لاسـونه چـې د انسـانيت لپـاره خـدمت کـوي تـر هغـې ژبـې دېـر غوره دي کوم چې وعظ او نصيحتونه کوي.***

سقراط وايي: "زه په دې باور يم چې يو څوک بل څه ونه لري خبرې او نصيحتونه کوي." يو ځل بيا ټينګار کوم چې د تيريزامې کړنې جلاوالی و، نه سستي. هغه کسان چې په ژوند کې سست او لټ دي په حقيقت کې هغه کسان دي چې په ژوند کولو کې ناکام شوي دي. ډېری وخت له نورو جلاوالی د سستۍ په مانا تعبير کېږي.

***که چېرې ستا د يوه ګاونډي په وړاندې بې عدالتي کېږي او ته آرامه خوب کوې، په تمه اوسه ستا وار هم رسېږي.***

په ټولنيزو چارو کې برخه اخيستل د يوه وګړي لوی مسئوليت دی، په داسې حال کې چې سرغړونه يې بيا د ټولنيزې ماتې لامل کېږي.

**بې پروايي مصيبت دی**

هغه څوک چې په ټولنه کې يو مصيبت او کړاو ګوري خو زړه يې هېڅ نه دردېږي له اخلاقي او روحي پلوه مړ دی. د داسې ټولنې وګړي چې له واقعيت سره مخامخ کېدل ځنډوي يا په بله وينا د داسې يوې ټولنې خلک چې بلا په مخ نه وي او څټ ته يې په تمه وي په حقيقت کې د داسې يوې ټولنې وګړي دي چې په لوی لاس د خپلې جنازې د مراسمو بندوبست په خپله نيسي.

***د خپلې ټولنې پر وړاندې بې پروايي تر ټولو ناوړه مصيبت دی چې يوه ټولنه ورسره مخامخ کېږي.***

**بې تفاوتي**

ښايي په نړۍ کې ځينې داسې وياړلي رهبران شته وي چې د خپل شاوخوا ته د بې عدالتيو پر وړاندې چوپه خوله وي، خو له دې سره سره يې بيا هم ځانونه داسې ښودلي وي چې ګنې د مسئوليت احساس کوي، خو بالآخره داسې يو څه پېښېږي چې هغوی راپاروي او په غوسه کوي، ځکه ځان اړ بولي چې بايد ښکېل شي. هو، ډېری وخت

تاسې اورئ چې غوسه د کمزورۍ نښه ده، خو که تاریخ ته وګورئ هېڅ شی تر هغو نه دي پېښ شوي چې یو څوک دې غوسه شوی نه وي.

آیا غیر انساني نه ده چې یو څوک په کړاو کې وګورې او په وړاندې یې بې تفاوته واوسې او ځان یو مسئول انسان هم ګڼې.

آیا دا د یوه ویاړلي انسان دنده نه ده چې د یوه بې وسه انسان غږ اوچت کړي؟

د بې عدالتۍ په وړاندې چوپ پاتې کېدل تر بې تفاوتۍ بدتر دي. ددې لپاره چې له یو چا سره مرسته او خواخوږي وشي، داسې یو څه باید وي چې بل راوپارول شي او په غوسه کړای شي څو د یو چا درد او کړاو راکم کړل شي.

*په جرمنۍ کې یې لومړی کمونیستان پسې واخیستل، ما خپل غږ پورته نه کړ ځکه کمونیست نه وم. بیا یې یهودیان پسې واخیستل بیا هم ما خپل غږ پورته نه کړ ځکه یهودی نه وم. بیا یې سوداګریزې ټولنې پسې واخیستلې بیا هم ما خپل غږ پورته نه کړ، ځکه د هغوی له ډلې نه وم. بیا په کاتولیکانو پسې شول بیا هم ما غږ پورته نه کړ، ځکه زه پروټستانټ وم. بیا زما خپل وار راورسېد او په ما پسې راغلل هغه وخت هېڅوک پاتې نه وو چې خپل غږ پورته کړي.*

*مارټین نیمولر*

**مخ پر ځوړ ټولنه**

په هره ټولنه کې یو شمېر داسې کسان شته چې نه غواړي کار وکړي. ځینې له ګوانښونو سره له مخامخ کېدو څخه وېرېږي او ځینې نور بیا له خپلې ټولنې سره مینه نه لري. د غوره او رښتینو رهبرانو له نه شتون سره همدا ډول کسان په ټولنه کې برلاسي وي.

په داسې وضعیت کې یوې بیې ته اړتیا وي چې یو څوک یې باید پرې کړي. د ټولنې غوره او ریښتیني وګړي هغومره پر ټولنې تکیه نه کوي څومره چې ټولنه پر دوی تکیه کوي.

***ددې لپاره چې په یوه ټولنه کې شرارت او شیطان نبه وده وکړي، کافي ده چې د هغې ټولنې خلک له څه کولو ډډه وکړي.***

***ایډمونډ بورک***

د ټولنې د وګړو ریښتینولي په خپله د هغې ټولنې یو امتیاز دی.

زموږ په خبر په یوه خپلواک هېواد کې هر نارینه چې نری ته سترګې پرانیزي باید له ماشومتوبه د عسکرۍ خدمت ورته د یوه ارزښت او ویاړ په توګه وښودل شي او د ژوند په هر پړاو کې باید ورته وښودل شي چې حتی د خپل هېواد لپاره مړه کېدل هم خپله یو امتیاز دی.

**پیاوړتیا په یووالي کې ده**

یوه ډله کبانو په ګډه سره ژوند کاوه. تل به یو کس د دوی نیولو ته په کمین کې و، خو دوی ټولو تړون کړی و چې هر کله دا سړی پر دوی خپل جال اچوي دوی باید یو ځای زور وکړي او له جال څخه خپل ځانونه راوباسي، له همدې امله جال اچوونکی هېڅکله پر دوی نه بریالی کېده. خو یوه ورځ یوه ماهي بل هغه ژوبل کړ. که څه هم له ژوبل هغه یې بښنه هم وغوښته خو هغه ونه منله او په خپلو منځو کې سره ونښتل. جال اچوونکي فرصت غنیمت وګاڼه او دوی یې ونیول.

**د کیسې اخلاقي نتیجه**

یو بهرنی هغه مهال برلاسی کېدای شي چې دننه یوه ستونزه وي. دا هغه وخت دی چې مرسته نشي- کېدای. همدارنګه په ډېرو ټولنو کې هم ستونزه داخلي وي. غوره روزل شوی او هڅاند کس کولای شي مؤثرې چارې ترسره کړي. دغه ډول هڅې نور کسان هڅوي څو

داسې یو خوځښت رامنځته کړي چې د بدلون لپاره خورا اړین وي. د
څو تنو یا ډېرو کسانو ټولیزې هڅې او سربښندنې د ټولنې د پرمختګ
لپاره خورا مؤثرې وي. یو لوی سیند په حقیقت کې د یو شمېر وړو
ویالو له یو ځای کېدو څخه جوړېږي. همدارنګه کله چې ۱۰۰۰ زر
غوره او سربښندونکي کسان په ټولنه کې سره لاسونه یو کړي هغه
ټولنه خورا پرمختګ کوي. دغه چاره کولای شي په ټولنه کې د ویاړ او
همکارۍ روحیه پیاوړې کړي.

***د انسان ژغورل کېدل یوازې په دې پورې تړلي دي چې د ټولنې هر وګړی د هر څه په اړه د مسئولیت احساس وکړي.***

***الکساندر سولژنیستین***

دوه حقیقتونه باید تل په پام کې ونیسو، لومړی دا چې ستروالی له ښه
والي راټوکېږي او دوهم دا چې ډیموکراسي هېڅکله ناڅاپي نه مري،
بلکې په تدریجي توګه د ټولنې د وګړو د سستۍ او لټۍ له امله مري.

***په دې فکر مه کوئ چې هېواد مو تاسو ته څه کولای شي، بلکې په دې فکر وکړئ چې تاسې خپل هېواد ته څه کولای شئ.***

***جان اف کنیډي***

د ټولنې د غوره وګړو لپاره له هېواد سره مینه د هغوی د ژوند بنه ده.
مسئولیت منونکي وګړي په خپل ژوند کې یو مهم ماموریت لري. د
تاریخ په اوږدو کې هر ستر شخصیت د ملت لپاره په یوې برنامې پورې
تړلې شخصي برنامه لري.
خپلواک ملتونه باید له خپلو سترو رهبرانو څخه منندوی وي چې دغه
خپلواکي یې هغوی ته ډالۍ کړې ده. هغه ملتونه چې د خپلوکۍ
اتلان هېروي په حقیقت کې خپله خپلواکي له لاسه ورکوي.

***د وېرې او خطر پر مهال که هر څومره د خدای تعالی حمد او ثناء وایي خو کله چې وېره لېرې شي هر څه هېروي.***

**آیا له هېواد سره مینه اړینه ده؟**

له هېواد سره د مینې موضوع د تاریخ په اوږدو کې له ځینو نیوکو سره مخ شوې ده. سمیول جانسن وایي چې: "له هېواد سره مینه د یوه بدمرغه انسان لپاره تر ټولو وروستی پناه ځای دی."

هو په هغه صورت کې چې خیانت له هېواد سره د مینې لرلو په څادر باندې پوښل کېږي په دې صورت کې بیا د جانسن خبره سمه ده. خو هېوادپالنه له هېواد سره مینه نه ده. که چېرې دا له هېواد سره مینه وای واشنګټن، لیکوان یوس او لېنکن به بدمرغه او ناسم انسانان ګڼل کېدای.

**دلته درې پوښتنې راولاړېږي:**

- آیا لـه هېـواد سره مینـه یـو مـلي ویـاړ او یـا د نـورو پـه وړانـدې تعصب دی؟
- آیـا لـه هېـواد څخـه د دفـاع پـه خـاطر لګښـتونه، د منـابعو ضـایع کـول دي؟
- آیـا اوس مهـال چـې نـړۍ د یـوه کـلي پـه څېـر شـوې، د هېـواد پـالنې تاریخ نه دی تېر شوی؟

خلـک بایـد پـوه شي چـې د هـر هېـواد تولیـد چـې پـرې لیکـل شـوي" د پـلاني هېـواد تولیـد" د هماغـه هېـواد د هـر وګـړي ویـاړ او درنـاوی ښکاره کـوي. تـر ټولـو ښـه او غـوره تولیـد د هغـه هېـواد ویـاړ دی. پـه هېـواد بانـدې ویـاړ د یـو چـا د فکـر د بنـې د څرنګـوالي پـه مانـا نـه ده چـې ووایـي "زما هېـواد سـتا تـر هېـواده ښـه دی." دا لـه هېـواد سره د مینـې تـر ټولـو انحـرافي بڼـه ده چـې یـو څـوک دې نـور هېوادونـه تـر خپـل هغـه ټیـټ او خوار وګڼي. له هېواد سره په مینه کې افراط د جرم تر بریده رسېږي.
ځینـې خلـک بیـا دا وایـي چـې لـه هېـواد سره د مینـې تـر نامـه پـه میلیـاردونو ډالـر پـر پـوځ او وسـلو لګـول کېـږي، چـې د یـادې ډلـې خلکـو پـه بـاور دغـه پیسـې کېـدای شي د ژونـد پـه نـورو برخـو کـې ولګـول شي. خـو تـر هغـه مهالـه چـې د هېټلـر پـه څېـر ترهګـر چـې د انسـان او انسـانیت پـت پـه پـام کـې نـه نیسـي- او نـور ملتونـه تـر پښـو لانـدې کـوي پـه نـړۍ کـې شـته وي، لـه شـک پرتـه چـې سـوله خوښـوونکي ملتونـه بـه پـوځ تـه اړتیـا لـري څـو د هغـوی لـه پـت څخـه دفـاع وکـړي. دغـه پـوځ بـه دفـاعي پـوځ وي، نـه بریدګر. آیا یـو پـتمن ملت کـولای شي چـې د هېټلـر پـه تېریګـرو کسانو تـه د ګلو د ګېډیو په ورکولو سره هرکلی ووایي؟

بله دا چې ویل کېږي چې اوس نړۍ د یوه کلي په څېر شوې ده، پولو او سرحدونو خپل مفهوم له لاسه ورکړی دی. آیا مونږ دا نه هېروو چې یو ملت تر اغزن تار او فولادي دروازو لوړ دی. هغسې چې د یوه سند له مخې ستاسو کور د دېوال او پولې خاوند دی همدا ډول د یوه هېواد پولې له خپلې خاصې سپېڅلتیا څخه برخمنې دي.

**غداران**

هغه خاینان او غداران چې له خپل هېواد سره د یو څه پیسو لپاره خیانت کوي هېڅکله به د خوښۍ مخ ونه ګوري. هر څه به له لاسه ورکړي.

یوه نجلۍ به هره ورځ له خپلې کلا څخه په اوبو پسې وتله. داسې وخت راورسېد چې دښمن د کلا شاوخوا محاصره کړه او له نجلۍ څخه یې وغوښتل چې د زیاتو سرو زرو په بدل کې هغوی ته د کلا ور پرانیزي او پرېږدي چې دوی دننه شي. نجلۍ د دوی خبره ومنله. کله چې لومړنی سرتېری کلا ته دننه شو، نجلۍ ورته ووېل اوس زما ډالۍ راکړئ، سرتېري د نجلۍ لاسونه شا ته ور زولانه کړل او ورته ویې ویل؛ همدا ستا ډالۍ ده. هر بل سرتېری چې به رادننه کېده پر هغې به یې یو ګوزار کاوه چې بالآخره مړه شوه. هغه مهال چې دغه نجلۍ مړه شوه په حقیقت کې هغه ملت هم ومړ کوم چې هغې ورسره خیانت وکړ.

***یوه فرانسوي لیکوال یو وخت ویلي و: "ډېرو کسانو د یوه پلان شوي خیانت په پرتله د کمزورۍ او وېرې له لاسه په خیانت لاس پورې کړی دی."***

بینډیکټ ارنولډ له همدې ډول خاینانو څخه و. نوموړي د امریکا د خپلواکۍ د جګړې پر مهال ځینې نظامي اسرار پر بریتانیې وپلورل.

امریکایي چارواکي پرې پوه شول او د نوموړي پلان یې کشف کړ. خو ارنولډ وتوانېده چې بریتانیې ته وتښتي. حتی په بریتانیا کې هم خلکو ورسره خبرې نه کولې او نه یې غوښتل چې له نوموړي سره ناسته پاځه وکړي. په عامه ځاینونو کې به د خلکو له خوا سخت رټل کېده ان داسې هم ویل کېږي چې ځینو خلکو د هغه مخ ته نارې تو کولې. کله چې له امریکا څخه بریتانیې ته یې تېښته هم وکړه د خاین لقب هم ورسره مل شو او تل به د "خاین بینډیکټ ارنولډ" په نوم یادېده.

*«آزادي په بیه ترلاسه کېږي»*

# لسم څپرکی

# عدالت

**په چارو کې رښتینولي**

***تر هغه ظلم بل غټ ظلم نشته چې د قانون او عدالت په جامه کې په یوه ټولنه کې ترسره کېږي.***

***چارلس لیس دې سیکانډاټ***

عدالت او ویاړلی ژوند لاس په لاس په یوه ټولنه کې مخ ته ځي. په هر ځای کې چې قانون او عدالت نه شته وي، ظلم او استبداد به هغه ځای په سر اخلي.

یوه ورځ د نیویارک ښاروال لا گوارډیا ددغه ښار د محکمې د بهیر ځارنه کوله. د ژمي موسم و او هوا خورا سړه وه. ناڅاپه د سړو له امله یو رېږدېدونکی کس محکمې ته راوستل شو. په یاد سړي باندې د یوې ډوډۍ د غلا تور و. کله چې خبرې تېرې وشوې هغه وویل چې کورنۍ یې له قحطۍ سره مخ ده ځکه دی اړ و څو هغوی ته یوه مړۍ ډوډۍ یوسي. لا گوارډیا وویل: "زه باید تا ته سزا درکړم، ځکه په قانون کې د هېڅ لپاره استثناء نه شته، تا د ۱۰ ډالرو د ناغې په ورکړې محکوموم." له خپل حکم صادرولو څخه وروسته یې سم له لاسه له خپل جېب څخه ۱۰ ډالر راوایستل او ناغه یې پرې کړه. بیا یې وویل زه په تالار کې هر یو حاضر کس ۵۰ سنټ جریمه(ناغه) کوم، هغه ځکه چې دوی په داسې یوه ښار کې ژوند کوي چې په هغه

کــې یــو کــس اړ کېـږي څــو د خــوراک لپــاره ډوډۍ غــلا کــړي. پیســې راټولې او تورن کس ته ورکړل شوې.

په یوه قضائي سیسـتم کـې بایـد خلـک د خپلـو کړنـو پـه وړانـدې حساب ورکـونکي وي، خـو پــه ورتــه وخــت کــې قضــائیه قــوه بایــد د حــالاتو او وضـعیت غوښـتنې پـه پـام کـې ونیسي-. عـدالت بایـد نـه یـوازې دا چې لـه پېښــې وروسـته اجـراء شي، بلکــې لـه وړانـدې بایـد پـه ټولنـه کـې عـدالت پلـی وي. دا پـه دې مانـا نـه ده چې یـو څـوک دې راولاړېږي او پـه جرم او جنایــت دې لاس پــورې کــوي او پــه دې فکـــر دې وي چـــې حــالات اســتثنائي دي او بښــل کېــږم. ډېــرى جنایتکــاران ځکــه پــه جنایــت لاس پورې کـوي چې فکـر کـوي د دروغـو ویلـو او یـا د رشـوت پـه ورکولـو سره لـه قـانون څخـه د خلاصـون فرصـت شـته دی. د جنایـت تـرسره کولـو لپـاره تـر ټولـو سـتره هڅېدنـه او مشـوق لـه قـانون یـا سـزا څخـه د تېښـتې ډاډ او اطمینـان دی. کـه چېرې پـه ټولنـه کـې لـه جرمونـو څخـه سـترګې پټې شي داسې انګېرنـې رامنځتـه کـوي چـې ګـواکې د نـاوړه چـارو تـرسره کـول کومـه سـتونزه نـه ده. دا ډول فکـر او انګېرنـه بـه بیـا لـه هغـه زړه سـوي څخـه نـاوړه ګټـې پورتـه کولـو تـه لار هـواره کـړي کـوم چـې پـه عـدالت کـې نغښـتې ده. عدالت باید د ناوړه نیت او مجبوریت ترمنځ تفکیک شي.

***یـوه ټولنـه ډېـره غـوره ده کـه لـږ قـوانین هـم ولـري خـو پـه دې شرط چې یاد قوانین پکې پلي شي.***

***رین ډیسکارټ***

یوه پخوانۍ کیسـه ده چې وایـي؛ یـو وخـت چـل او رښـتیا یـو ځـای پـه سفر روان وو. رښـتیا پـه تـن او جامـه خـوار ښـکارېده. چـل ورتـه وویـل چې ډېر بدرنګـه ښـکارې. رښـتیا ورتـه وویـل: خـبره دې سـمه ده هېڅـوک مـې قـدر نـه کـوي او نـه څـوک دنـده راکـوي سربېـره پـر دې خلـک مسـخرې هـم

رابانـدې کـوي. چـل لـه رښـتیا وغوښـتل چـې د خپـل وضـعیت ښـه کېـدو لپاره دې د هغـه خـبره ومنـي او د خپـل ژونـد ښـه دې د هغـه پـه خبـر کـړي. رښـتیا هـم ورسره ومنلـه او تصـمیم یـې ونیـو چـې د چـل پـه وړانـدې بـه هېڅکلـه څـه نـه وایـي. البتـه د چـل خـبره یـې لـه دې املـه ونـه منلـه چـې هغـه پـه سمه دی، بلکـې یـوازې د خپلـې بېـوزلۍ لـه املـه یـې چـل تـه غـاړه کېښـوده. دواړه یـو ښـه لـوکس هوټـل تـه لاړل. ښـه قیمتـي او غـوره ډوډۍ یـې وخوړلـه. لـه هوټـل څخـه د راوتلـو پـر مهـال چـل یـو تخنیـک وواهـه، هغـه دا چـې د هوټـل مـدیر تـه یـې غـږ کـړ چـې مـونږ خپـل پـاتې (میـده) پیسو تـه منتظر یـو او ستا د هوټـل خدمتگار یـې نـه راکـوي. مـدیر د هوټـل خـدمتگار راوغوښـت او پـټکـې یـې پـرې وکـړې چـې ولـې د خلکـو پیسـې نـه ورکـوي، خـو د هوټـل خـدمتگار چـل ملامـت کـړ چـې تـر اوسـه یـې هـېڅ پیسـې نـه دي ورکـړي، پـه دې وخـت کـې چـل خپـل غـږ لا پورتـه کـړ او ویـې ویـل: تاسـې غلـه یاسـتئ او لـه خلکـو پیسـې پټـوئ. د هوټـل مـدیر د مشتریانو تـرمنځ پـه خپـل نـوم او شـهرت بانـدې وویرېـده، لـه چـل څخـه یـې نـه یـوازې دا چـې پیسـې وانخیسـتلې، بلکـې لـه خپـل جېبـه یـې لا نـورې پیسـې هـم ورکـړې. لـه دې وروسـته د هوټـل مـدیر خپـل خـدمتگار تـه گوتځنډنـه وکـړه چـې لـه دنـدې بـه یـې گوښـه کـړي. د هوټـل خدمتگار لـه خپـل ځـان سره هـک حیـران پـاتې و چـې ولـې رښـتیا ځـان ثابـت نـه کـړ. رښتیا خپل ځـان تـه خجالـت شـو او ویـې ویـل: زمـا قضـاوت زمـا لـوړې رانـه واخیسـت، چـل خـورا خـوښ لـه هوټلـه بهـر شـو. رښـتیا نـور چـل زغملـی ونـه شو او خپله لار یې جلا کړه.

***"ډېری خلک کله چې وږي وي اصول نه مني."***

***مهاتما گاندي***

کله چې پيسې خبرې کوي، رښتيا چوپ وي. چوپتيا او رښتينی امانتدار اوسېدل دوه جلا څيزونه دي. د يو چا چوپتيا ددې مانا نه ورکوي چې هغه دې حتمي رښتينی وي. د تاريخ په اوږدو کې ډېرى دروغ د چوپ پاتې کېدو له امله ويل شوي، يعنې هغه وخت چوپ پاتې يو کله چې مو بايد خبرې کړې واى.

يو غوره او با ايمانه قاضي بايد هڅه وکړي څو ددې پر ځاى چې څوک په سمه دي هغه دا مشخص کړي چې کوم څه په سمه دي. قضائي تصميم ښايي زړونه بدل نه کړي، بلکې کولاى شي خلک له سخت زړي اوسېدو څخه راوګرځوي.

ننني نړۍ د خير او خيرات په پرتله عدالت ته ډېره اړتيا لري. ډېری وخت د بې عدالتۍ له امله صدقې او خيرات ته اړتيا پيدا کېږي.

د هرې سترې چارې تر شا د خوځښت روحيه، په حقيقت کې د عدالت لپاره غبر پورته کول دي. داسې وختونه ښايي راشي چې په هغه کې له بې عدالتۍ څخه مخنيوى ونشي- کېداى خو داسې وخت بايد هېڅکله نه وي چې د عدالت د نه شتون په وړاندې دې څوک غبر پورته ونشي- کولاى ناسم قوانين د تر ټولو ناوړه ډول بې عدالتۍ لامل کېږي. يو قانون چې ونشي- کولاى مجرم ته سزا ورکړي دا هم نشي- کولاى چې خلک دې وهڅوي څو درناوى ورته ولري او مراعت دې کړي.

هماغسې چې يوه ټولنه ښو او غوره قوانينو ته اړتيا لري څو د ناوړه خلکو مخه ډپ کړي، همداسې يوه ټولنه غوره او ښو خلکو ته اړتيا لري څو د ناوړه او ناسمو قوانينو مخه ډپ کړي.

په ځينو خلکو کې د اخلاقي قوت او ځواک ټيټوالى ددې لامل کېږي چې په ناوړه کارونو کې ښکېل شي خو ځينې نور بيا په لوى لاس د

ناوړه کړنو لپاره فرصتونه لټوي. جرم د هغه وضعیت یا حالت زېږنده ده چې له ناقانونه ودې څخه پکې سترگې پټېږي.

**د یوې ډوډۍ د غلا په بدل کې څه ډول سزا؟**

یو بېوزله سړی و، چې کار او دنده یې نه درلوده. کورنۍ او ماشومان یې د لوږې له لاسه مرگ ته نږدې وو. یوه شپه د ژمي په خورا سړه هوا کې له کوره ووت څو په خپل گاونډ کې له یوې نانوایۍ څخه خپلو ماشومانو ته یوه ډوډۍ غلا کړي. ځکه د ماشومانو حالت یې نور ورته د زغملو وړ نه و. د ډوډۍ د غلا پر مهال سړی گیر شو او بیا د یوې ډوډۍ د غلا په جرم په دوه کاله بند محکوم شو. سړي به په زندان کې تل د خپلو وړو ماشومانو په اړه فکر کاوه. ځکه یې له زندان څخه د تېښتې هڅه وکړه خو ونه توانېده. له زندان څخه د تېښتې د هڅې له امله یې د زندان موده څو کلونه نوره هم وغځېده. د دوهم او درېیم ځل لپاره یې هم له زندان څخه د تېښتې هڅه وکړه خو بیا هم ونه توانېده او د زندان موده لا پسې غځېده. بالآخره د یوې ډوډۍ غلاکولو له امله سړی ۱۵ کاله په زندان کې پاتې شو. خو کله چې له زندان څخه خلاص شو په وجود کې یې د احساس، عاطفي او ترحم په نوم څه نه وو پاتې او د ټولنې په وړاندې یې نیت او اراده د هغه له چلند څخه معلوم و.[۱۵]

*په یو چا باندې د قضاوت په پای کې مونږ ډېری وخت حیرانېږو چې آیا اوس دغه سړی تر ټولو صالح انسان دی که تر ټولو دروغجن؟*

غلاوې او بیا په انکار باندې یې قسمونه کول د یو چا د راتلونکې د ویجاړولو په مانا ده. په محاکمو کې ډېری قضیې مدعي او مدعي

---

۱۵- د اضافي توضیح لپاره د ویکتور هوگو مشهور أثر، «بېوزلان» لومړی ټوک کتلی شئ. د حساس ژباړه.

علیه لري چې دواړه د يو بل پر ضد ادعاوې لري. ځينې وختونه دغه مخالفې ادعاوې ښايي د برداشت موضوع وي. خو ځينې وخت بيا ښايي يو څوک ددې لپاره دروغ ووايي چې د قضيې دواړه خواوې د يو څه تر لاسه کولو په هڅه کې وي.

ددغه ډول دروغو ويلو بل دليل ښايي له رښتينولۍ څخه ناسم تعبير او ګټه اخيستنه وي. کله چې رښتيني کسان د رښتيا ويلو لپاره نه راوړاندې کېږي دا په حقيقت کي د عدالت تحريفول دي.

د عدالت پلي کېدو په لار کې د خنډونو رامنځته کول د ملت په وړاندې د خيانت مرتکب کېدل دي. کله چې په يوه ټولنه يا هېواد کې عدالت ومري حکومت په هغې ټولنه کې د يوه دسيسه جوړوونکي سازمان بڼه خپلوي چې په خپلو خلکو باندې به ظلم کوي او سوله نه شي ټينګېدلی.

***په ټولنه کې په هر ځای او د هر چا په وړاندې بې عدالتي په هر ځای کې عدالت ګواښي.***

په لاندې حالاتو کې هېڅ هېواد او ملت ژوندی نه شي پاتې کېدلای:

- کله چې ناقانوني پکې د قانون بڼه خپله کړي.
- کله چې مجرم ته پکې سزا نه ورکول کېږي.
- کله چې دروغجن او چليګر پکې ستايل کېږي.
- کله چې وګړي يې سست او لټ وي.
- کله چې قانون ساتونکي پکې له تر ټولو لويو قانون ماتونکو باندې بدل شي.

قانون او عدالت لازم او ملزوم دي؛ يو له بل پرته شتون نه لري. هر کله چې يوه قضيه حل کېږي قانون او قضاء دواړه شته وي.

د عدالت په نه شتون کې آزادي خپل مفهوم او مانا له لاسه ورکوي او خلک سختو قوانینو ته پام نه کوي خو یوازې فرمایشي- عدالت تر لاسه کولو ته پام کوي.

که چېرې یوه قضائیه قوه د قضیو په اړه لا ډېر معلومات نه غواړي، بده ده. که چېرې وجدان ته زیان اړوي مجرمه ده او که چېرې شخصیت یا د انسان د فکر بڼه بدلوي دا بیا شریره او فاسده ده.

په یوه فاسده ټولنه کې د هر څه لپاره دوه ګوني سیستمونه شته دي. د هر څه لپاره رسمي او غیر رسمي پروسیجرونه شته دي چې په هغه کې ناقانونه او په زور سره د پیسو اخیستل شامل دي او بالآخره د ټولنې د ویجاړی لامل کېږي.

*په یوه فاسده ټولنه کې د جرم شریکانو او د جرم د قرباني ترمنځ توپیر، که زه د یوه جواز ترلاسه کولو غوښتنه وکړم او چارواکو ته په رشوت ورکولو سره یو بل کس چې خورا مستحق دی محروم کړم په حقیقت کې زه د جرم شریک یم په داسې حال کې چې د قضیې دریم شریک، یعنی محروم شوی کس قرباني دی.*

راځئ چې د مرګ او ژوند حالت ته یو نظر وکړو. که تاسې یو ټپي سړی چې وینې ترې بهېږي له سړک څخه پورته کړئ او روغتون ته یې ولېږدوئ په یوه فاسده ټولنه کې هېڅوک په روغتون کې دغه ټپي ته پاملرنه نه کوي، خو که چېرې رشوت ورکړئ بیا کېدای شي د ټپي غم وخوړل شي. اوس پوښتنه راولاړېږي چې آیا تاسې پرېږدئ چې دغه سړی دې د وینې ضایع کولو له امله ساه ورکړي او یا ددې لپاره چې دغه سړی ژوندی پاتې شي رشوت ورکوئ؟ راځئ چې دغه وضعیت داسې تشریح کړو: زه به رشوت ورکړم. د قانون له مخې زه مجرم شوم خو له اخلاقي پلوه بیا ما یو ژوند وژغوره.

کلونـه وروسـته زه بـه بـې ګنـاه وپېژنـدل شـم. څـوک زمـا پـه غـم کـې دي؟ ښـايي زه مـړ شـم. مـا قـانون مـات کـړ خـو يـو ژونـد مـې وژغـوره. پوښـتنه دا ده چـې آيـا زه د جـرم شريـک يـم کـه د جـرم قربـاني؟ ډېـرى بـه موافـق وي چـې هـو زه د جـرم قربـاني يـم. زه پـوهېږم چـې ډېـرى خلـک رښـتيني او صـادق دي، پـه جرمونـو کـې لاس نـه لـري خـو پـه فاسـده ټولنـو کـې بيـا د جرمونو قرباني دي.

لـه حکومـت سره همکـاري تـر هغـه مهالـه سـتا دنـده ده چـې حکومـت سـتا لـه پـت او عـزت څخـه دفـاع کـوي. خـو کلـه چـې حکومـت سـتا لـه عـزت څخـه د دفـاع پـر ځـای سـتا پـت او عـزت لـوټي نـه همکـاري ورسره سـتا دنده ده.

۵۰۰۰۰ کسانو غونډې ته د مهاتما ګاندي وينا

۱۹۲۰ز کال د اګست ۱۲

***هغـه مهـال چـې پـه يـوه ملـک کـې ناقـانوني د قـانون بڼـه خپلـوي، د ټـولنې رښـتيني کسـان چليګـر، غلـه او ډاکوګـان کېـږي. ځکـه د قانوني کړنو ترسره کولو لپاره بايد ناقانونه کړنې وکړي.***

**د انسان پالنې قانون او د ملک قانون**

ډېـرو سـترو رهبرانـو قضـائيه قـوه د انسـان پـالنې پـه هـدف ننګـولې ده. مهاتمـا ګانـدي او مـارټين لـوټر کېنـګ د ملـک قـوانين مـات کـړي دي. ګانـدي د استعمار ډېـر شمېر قـوانين تـر پښـو لانـدې کـړل. هـر څوک چې قـانون مـات کـړي، مجـرم دی. پـه دې حسـاب ګانـدي لـه قـانون څخـه تـر ټولـو غـټ سرغړونکـی دی. خـو د ګانـدي لپـاره د ملـک قـانون پـه پرتلـه د انسان پالنې قانون مهم او ارزښتمن و.

***که لـه يـوه حکومـت څخـه عـدالت لېـرې کـړای شـي هغـه څـه چـې پاتـې کېږي د غلو يوه ډله ده.***

## *اسټ اوګوسټین*

هـر کلـه چـې قـانوني حقـوق لـه انسـاني حقوقـو سره پـه ټکـر کـې شي د عـدالت او انصـاف پوښـتنې تـه دې لـه سره کتنـه وشي. ګانـدي د سـالټ[۱۶] مـالیې قـانون څخـه سرغړونـه وکـړه ځکـه چـې دغـه قـانون تـر ټولـو بېوزلـه خلـک کـړول. د سـالټ تـر نامــه لانــدې اعــتراض خــورا عاجزانــه او احساسي غوښـتنه درلـوده. کلـه چـې ګانـدي پـه ډنـډي سيمه کـې د سـالټ اعـتراض پـه لاره واچـوه د سالټ د مـاليې قـانون يـې مـات کـړ، پـه سلګونه هغـو کسـانو چـې د ګانـدي پـه پلـه پـل کېښـود ونيـول شـول. دغـه اعـتراض پـه حقيقـت کـې د اسـتعماري واکمنـۍ د غيـر انسـاني چلنـد پـه وړانـدې يـو اقــدام و. دا د قضــائيه قــوې ننګــول و چــې بايــد انســانيت تــه تــرجيح ورکـړي. د يـوه غيـر عادلانـه قـانون مـاتول او بيـا ددغـې کړنـې لـه پـايلې او عواقبـو څخـه نـه تښـتېدل او پـه نـره ورتـه درېـدل پـه حقيقـت کـې د قـانون لپـاره تـر ټولـو ښـه درنـاوی وښـود. دغـه اقـدام د اسـتعماري واکمنـۍ د غيـر عادلانه کړنو په وړاندې د ټولنې عمومي غوښتنه او نيت رابرسېره کړ.

هـر حکومـت چـې پـه غـير عادلانـه توګـه خلـک زنـدانونو تـه اچـوي د خلکـو غوسـه راپـاروي. پـه غـير عادلانـه او خپـل سرې توګـه زنـدان تـه د خلکـو

---

۱۶- Salt March

د ګاندي له مدني نافرمانيو څخه يو هم د سالټ مارچ خوځښت و، چې د۱۹۳۰ز کال مارچ مياشت څخه پيل او د همدې کال تر اپرېل مياشتې پورې يې دوام وکړ. په دغې مدني نافرمانۍ کې دغه موضوع هم شامله وه چې هنديان به مالګې ته ورته هغه منرالي ماده چې خوړو کې ترې ګټه اخيستل کېږي نور نه کاروي، البته د هند خلک ددغې مادې پېرودلو او کارولو ته د انګليسانو له خوا اړ کړ شوي وه او دغه مهال هند د انګليس مستعمره و او ددغې مادې توليد د انګليسانو په لاس کې و. انګليسانو به دغه ماده په خلکو باندې په ځګه بيه پلورله. له همدې امله ګاندي وپتيله چې دا هم له تاوتريخوالي پرته د انګليسانو د يو قانون ماتول دي او خلک يې وهڅول څو يې عملي کړي. **ژباړن**

اچول باید د ولس لپاره د منلو وړ نه وي ځکه دغه چاره انساني عزت او درناوی له منځه وړي.

ځینې وخت زمونږ په ژوند کې داسې یو پړاو مخې ته راځي چې له مونږ څخه د دربدو غوښتنه کوي. له قانون څخه په سوله ییز او مدني ډول عمومي سرغړونې حرکت رامنځته کول، له اخلاقي پلوه ګاندي سم او عادلانه تصمیم وګانه. پرته له دې چې هغه کوم موقف ولري په میلیونو خلک یې بسیج کړل، ځکه هغه خپل ټول ژوند د خپلو خلکو او عدالت ټینګښت ته ځانګړی کړی و.

***[له حکومت سره] نه همکاري له افرادو سره مخالفت نه دی، بلکې له هغو تدابیرو سره مخالفت دی چې حکومت یې تر لاس لاندې نیسي. مخالفت د چارواکو په وړاندې د افرادو په توګه نه دی، بلکې د هغه سیستم په وړاندې دی کوم چې هغوی یې اداره کوي. د نه همکاری او نافرمانی اصلي ریښه کرکه نه، بلکې په عدالت کې نغښتې ده.***

***ام کا ګاندي***

هر هغه قضائي سیستم چې د ټولنې رښتیني وګړي زیانمن کوي باید کار ترې وانخیستل شي او له سره دې کتنه ورته وشي. د وخت له غوښتنې سره سم کله نا کله د عدالت لپاره ولاړېدل د سولې تر ټینګښت ډېر غوره دي.

کله نا کله د ټولنې په رښتینو وګړو پورې له دې امله د ګواښ رامنځته کوونکو تور لګول کېږي چې د خپلو حقوقو لپاره غږ اوچتوي. که چېرې د خپلو حقوقو لپاره غږ اوچتول جرم وي د ټولنې هر وګړی باید هڅه وکړي څو مجرم وي. کله چې د ټولنې یو بې ګناه وګړی زنداني کېږي باید د ټولنې نور خلک اعتراض وکړي او زندان ته د تللو لپاره چمتو

واوسي. کله چې د ټولنې وګړي د قانون له پلي کېدو سره مرسته ونه کړي د قانون هېڅ پلي کوونکی بنسټ به له هغوی سره هم مرسته ونه کړي. په ياد مو وي هر هغه څوک چې د خپلو خلکو د آزادۍ لپاره ولاړ شوي دي هغوی ته د قانون ماتونکو لقب ورکړل شوی دی. د بېلګې په توګه (Boston Tea Party)[۱۷] خوځښت ته وګورئ کله چې د امريکا آزادي غوښتونکو جنګياليو د چای پاکټونه د بوسټون بندر ته وغورځول، انګليسي- استعمارګرو هغوی قانون ماتونکي وګڼل، په داسې حال کې چې هغوی د خپل ملت په ګټه کار کاوه. د هغه غير عادلانه قانون په وړاندې ودرېدل چې پر هغوی تپل شوی و.

***له آزادۍ څخه په دفاع کې سخت دريځې ګناه نه ده او د عدالت غوښتلو په لار کې منځلاريتوب تقوا نه ده.***

***باري ګولډ واټر***

***هر هغه حکومت چې قانون ماتونکی شي په حقيقت کې د قانون د سپکاوي زمينه برابروي او هر وګړی دې ته هڅوي څو د قانون په وړاندې يو خنډ شي.***

***جستيس لويس ډې برنډيس***

هغسې چې نه پلي کېدونکي قوانين په نشت حساب دي هماغسې نه ورکول کېدونکي حقوق هم په نشت حساب دي. کله چې بې عدالتي د خاينانو لپاره د ګټې وټې سرچينه شي همدوی د عدالت او غوره نظام

[۱۷]- بوسټون د امريکا په مسچوسيټ ايالت کې د برېټانيا ښکېلاک په وړاندې يو سياسي- مدني اعتراض و چې په د ۱۷۷۳ ز کال د ډسمبر مياشتې په ۱٦ نېټه ترسره شو. اعتراض کونکو هغه کښتۍ ويجاړه کړه چې د هند د چای د توليد کمپنۍ توليد (د وچ چای) کڅوړې پکې بار وې. معترضينو يادې کڅوړې بوسټن بندر کې اوبو ته وغورځولې. برېټانيې حکومت د معترضينو ددغې کړنې په وړاندې سخت غبرګون وښود، چې دغه پېښه د امريکا په تاريخ کې په يو داستان باندې بدله شوه، چې آن وروسته هم د برېټانوي ښکېلاک په وړاندې ډېرو نورو خوځښتونو خپل برياليتوب د بوسټون پېښې پورې تاړه. **ژباړن**

لپاره د هر ګام اخیستل کېدو مخالفت کوي. د عدالت نه شتون د هرې ټولنې د ویجاړۍ ضمانت کوي.

***یو کمزوری حکومت د ظلم او بې عدالتۍ لویه وسیله ده.***

ویلیم ایوارټ ګالډسټون وایي: "ملي بې عدالتي د ملي تباهۍ او ماتې په لور تر ټولو ډاډمنه لار ده. خو اوس پوښتنه دا ده چې آیا مونږ اړ یو څو له هغو کسانو سره موافق واوسو کوم چې بې عدالتۍ ته لمن وهي. نه، د هر وګړي تر ټولو مهمه او لومړنۍ دنده دا ده چې په ټولنه کې عدالت رامنځته کړي.

هر کله چې یو څوک د عدالت لپاره درېږي په حقیقت کې د انسانیت او انسان پالنې لپاره درېدلی دی.

***بې عدالتي هغه مهال له منځه تللی شي کله چې د عدالت ټینګېدو په وړاندې خنډونه له منځه لاړ شي.***

په دې اړه چې مونږ باید چېرې د جلا والي دېوالونه رامنځته کړو او چېرې د پیوستون لپاره پلونه رامنځته کړو، باید له دغه قضاوت څخه څرګند او واضح درک ولرو. عدالت د هرې مدني او پرمختللې ټولنې وروستۍ موخه ده. دغه هدف ته د رسېدو لپاره باید کوښښ وشي.

عدالت حکم کوي چې ټول انسانان یو شان پیدا شوي دي او ټول د ژوند کولو، آزادۍ او خوښ اوسېدلو حق لري. که چېرې عدالت ته لاسرسی لرل اړین او ارزښتمن وي نو مبارزه او جنګېدل هم ورته اړین او ارزښتمنه چاره ده.

قوانین ددې لپاره وضع شوي څو د هغو کسانو د ترحم او عاطفي مخه ونیسي- چې دلیل او عدالت ته درناوی نه کوي. کله چې د ټولنې اکثریت وګړي غوره قوانینو ته غاړه نه ږدي دا د حکومت ضعف په

ګوته کوي. یوه هوښیاره اداره او حکومت پوهېږي چې څرنګه قانون پلی او د ټولنې د وګړو پت خوندي کړي.

یوه سړي چې ډېر مال او شتمني درلوده مړ شو. دوه زامن یې درلودل، زامنو د خپل پلار له مرګه وروسته د میراث د وېش پر سر په شخړو پیل وکړ. خو د دوی په ګاونډ کې یوه هوښیار سړي ژوند کاوه. دواړو تصمیم ونیو چې دغه سړی به راولي او هره پرېکړه چې یې وکړه دواړه به یې مني او هېڅ یو به تړې سرغړونه نه کوي. هوښیار سړي د شتمنۍ د وېش لپاره یو فورمول په کار واچاوه او هغه داسې چې یوه ورور ته یې وویل چې ته به ټوله شتمني په دوه برخو وېشې او ده بل ورور ته یې وویل چې ته د لومړي انتخاب حق لرې. په دې مانا چې له دغو دوه برخو څخه چې هره یوه دې خوښه وي لومړی وار ستا دی چې خپله یې کړې. په دې سره ستونزه حل شوه. ددغه هوښیار سړي هدف د دواړو ورونو ترمنځ یووالي او قناعت ته رسېدل و او ستونزه یې هم په عادلانه توګه حل کړه.

***ویاړلی ژوند هغه مهال شونی دی چې عدالت پکې حاکم وي څکه عدالت په عمل کې پلی کېږي.***

***بینجامین ډیسرایل***

# یوولسم څپرکی

# د ویاړ له پاسه ویاړ

***یو غوره او له ویاړه برخمن ژوند په ټوله نړۍ کې د درناوي وړ دی. نه یوازې دا چې انسانیت پرې ویاړي، بلکې د بشریت ښکلا ګرځي.***

**د لید او زړورتیا سړی**

سم لي کوان یوو[۱۸] په کولالمپور کې د رښتیا نړیوال مډال ترلاسه کړ، کله چې دغه مډال ورکول کېده داسې اعلان وشو چې د رښتیا مډال ښاغلي کوان یوو ته د سینګاپور د لومړي وزیر په توګه د هغه د خدماتو په ویاړ ورکول کېږي. نوموړي په خپل هېواد کې له فساد سره کلکه مبارزه وکړه او د فساد ریښې یې وچې کړې.

نوموړي په خورا لنډه موده کې سینګاپور د رښتیا او امانتدارۍ په یوې جزیرې بدل کړ. ځکه دغه مډال باید د نوموړي په څېر شخصیتونو ته چې له فساد سره یې مبارزه کړې ورکړل شي.

د سینګاپور کیسه د لید، زړورتیا او ارادې کیسه ده. په هغه کیسه کې چې یوې استثنائي څېرې پکې یوه باثباته ټولنه او د غوره او هوسا ژوند آسانتیاوې رامنځته کړې.

٦- لی کوان یو، له ۱۹۵۹-۱۹۹۰ ز کال پورې د سینګاپور لومړی وزیر و، لي ته ددغه هېواد د بنسټګر پلار په سترګه کتل کېږي. نوموړي د فساد په وړاندې کلکه مبارزه وکړه او د فساد جرړې یې د خپلې واکمنۍ پر مهال له هېواده وایستلې. لي د یو نسل عمر په اوږدو کې خپل هېواد د درېیمې نړۍ هېوادونو له کتاره لومړۍ درجې هېوادونو ته ولېږدوه. **ژباړن**

دا چې سینګاپور په دوامداره توګه د هېوادونو ترمنځ د یوه روڼ او ویاړلي هېواد په توګه پاتې شوی، د روڼتیا نړیوال شاخص له مخې دغه ویاړ هغه اخلاقي بنسټ ته ورګرځي چې سم لي کوان یوو کلونه وړاندې ایښی دی.

د یاد مډال د ورکړې پر مهال د روڼتیا نړیوال سازمان مشر- ډاکټر پیټر ایګن وویل: "په سینګاپور کې له فساد سره د لي کوان یوو مبارزه د نورو لپاره یوه نمونه او بېلګه ګرځېدلی شي.

نن مونږ دلته راټول شویو یو څو د آسیا وچې یو تر ټولو غوره او پیاوړي بچي ته خپل درناوی وړاندې کړو، هغه څوک چې هم یې شخصي- ژوند او هم یې کاري ژوند د ښه او ویاړلي ژوند یوه بېلګه او نمونه و.

کله چې مونږ هغه ته درناوی کوو په حقیقت کې مونږ روڼتیا، حساب ورکوونې او امانتدارۍ ته درناوی کوو، دا ټول هغه څه دي چې له امله یې سینګاپور په ټوله نړۍ کې ستایل شوی دی. هغه مونږ ټولو ته څرګنده کړه چې: "نور نو رښتینولي او صداقت یوازې تقوا نه ده، بلکې د معاملاتو له الزاماتو څخه ده."

ښاغلیه خوښ یم چې ددې ویاړ لرم څو تاسو ته د مالیزیا د روڼتیا نړیوال مډال چې تاسو لپاره ځانګړی شوی دی، درته ډالۍ کوم. دا ستاسو د هغو هڅو او مرستو له امله تاسو ته ډالۍ کېږي کوم چې د نړۍ والې روڼتیا په برخه کې مو کړې دي."

(سرچینه: سنډې ټایمز، ۲۰۰۰ ام کال، سپټمبر ۱۷)

عبدالعزیز د هغه په اړه ویلي، د سترو چارو په ترسره کولو کې یې شک نشته. اوسمهال د خپل عمر په ٦٦ کلنۍ کې چې متقاعد هم دی خو په داوطلبانه توګه لا ډېر له فساد سره مبارزه کې مصروف دی. د نوموړی په مالیزیا پورې اړوند د روڼتیا نړیوال سازمان مرستیال دی. د

سم لي په خبره سینګاپور یو خلاص او روڼ حکومتي سیستم رامنځته کړ څو خلک ربښتیني واوسي. دغه سیستم او ویښ ولس لوړو پوړیو او معیارونو ته د رسېدو په برخه کې مرسته کوي... په داسې حال کې چې په ځینو آسیایي هېوادونو کې مالي فساد، پر ضوابطو باندې د روابطو حاکمیت شتون دود و، سینګاپور هم له یادو پدیدو څخه په امان کې نه و. سم لي وایي؛ دا مهمه وه څو وزیران او نور چارواکي د هغوی د کړنو او اجراآتو پر بنسټ ستایل شوي وای، که داسې نه وای شوي ښایي هغوی به له حکومتي سکتور څخه بهر په خصوصي سکتور کې ځانونه مصروف کړي وای.

(سنډې ټایمز، ۲۰۰۲ کال د سپتمبر ۱۷)

**د ژوند لپاره چمتووالی**

جان نیبر د ۱۹۷۳ ز کال د لامبو وهنې نړیوالې اتلولۍ په سیالۍ کې د امریکا په استازیتوب د ګډون لپاره زړه ښه کړی و. لومړی باید هغه په امریکا کې دننه ګټونکی شوی وای، څکه ګټونکي کس د امریکا په استازیتوب نړیوالو لوبو ته لاره پیدا کولای شوای. په امریکا کې مقدماتي سیالي پیل شوه، نوموړی وتوانېد تر نورو ژر ځان د کرښې پای ته ورسوي. له هرې خوا د هغه لپاره لاسونه و پړکېدل او ستاینې وشوې. لږ وروسته لوبغاړ راغی او ورته ویې ویل: ښایي ته ونشې کولای چې په نړیوالو سیالیو کې د هېواد په استازیتوب ګډون وکړې، څکه دوهمه لوبغاړه وایي چې هغې ته ونه لیدې چې د سیالۍ پر مهال لاس دې د کرښې په دېوال لګېدلی وي. هلته شته خلک ټول هک حیران شول. داسې ښکارېده چې تېروتنه په خپله د لوبغاړې وه. د جان نیبر روزونکی هغه ته راغی او ورته ویې ویل: "آیا غواړې چې ددغې خبرې په وړاندې اعتراض وکړې؟ څکه لوبه مهمه وه باید د

لوبغـار پرېکـړه ونـګـول شي.“ خـبره لـه امريکـا څخـه د اسـتازيتوب وه، آيـا تـر ټولـو چټـک لامبـو وهـونکی دې تـرې اسـتازيتوب ونـه کـړي. خـو ددغـه ځـوان سـرې پرېکـړې هغـه دې تـه وهڅـاوه څـو پـه خپـل پـاتې ژونـد کـې هـم ورتـه غـاړه کېـږدي او پـه هغـه ډول يـې وربانـدې اغېـزه وکـړه کـوم چـې غوښـتل يـې. د سـترګو پـه رپ کـې يـې خپلـه پرېکـړه وکـړه. لـه خپـل ځـان سره يـې وويـل چـې ”زه خـو خپـل مـور او پـلار دروغجـن نـه يـم روزلـی.“ خپلـه پرېکـړه يـې وکـړه. پـه اوښـکو ډکـو سـترګو يـې خپـل روزونکـي تـه وويـل: ”هـو پـر دېـوال مـې لاس ونـه لګېـده.“ ملګـري يـې حيـران وو چـې څه ووايي. داسې يو چا تـه بـه څـه ووايـي چـې سيالي يـې وګټلـه خـو مډال يـې نـه اخـلي. خـو ملګـرو او نـورو کسـانو ورتـه ويـل چـې بايـد د ناسـم تصـميم پـه وړانـدې ودرېـږي او خپـل غـږ پورتـه کـړي چـې ولـې حـق يـې خـوړل کېـږي. خـو حقيقـت دا و چـې هغـه د سـيالۍ لـه قـانون څخـه سرغړونه کړې وه او بايد د خپلې کړنې په وړاندې ځواب ويونکی وای.

کلـه چـې تـه يـوې سـيالۍ تـه چمتـو کېـږې دا پـه دې مانـا ده چـې تـه د لوبې د ټولـو قواعـدو منونکی يـې. د بېلګـې پـه توګـه پـه فوټبال کـې ميدان خپلـې ځنډې لـري، کلـه چـې تـه لـه ميدان څخـه ځنډې تـه ووتلـې خـبره خلاصـه ده. مهمـه خـبره دا ده چـې څـومره لوبغـاړی غـوره او پيـاوړی وي هغومره پرې د لوبې قاعدې او قوانين پلي شي.

*کله چې قانون د تـر ټولـو پيـاوړو کسـانو پـه وړانـدې سر ټيـټ کـړي نـورو تـه به څه زده کړه ورکړی شي؟*

زمـونږ ټولـو لپـاره لـوی درس دا دی چـې ولـې بايـد د جـلا جـلا معيـارونو لـه مخـې پـر مـونږ قضـاوت وشي؟ مـونږ د نـه منلـو وړ کړنـو بېلګـې لـرو چـې د ځينـو لـه خـوا توجيـه کېـږي. دا خـبره چـې ”ګټـل تـر هـر څـه ارزښـمن او

مهم دي" نه یوازې د سپورټ په ډګر کې، بلکې په سوداګرۍ او د ژوند په ټولو برخو کې د یوه شعار په توګه تر سترګو کېږي.
شخصیت یا د انسان طبیعت او فکر دا نه دی چې په هغه څه پسې شي کوم چې د ترسره کولو حق یې لري، بلکې مهمه دا ده چې څه کول سم او ګټور دي. قوانین د انصاف جذبه وړاندې کوي او د مدنیت رامنځته کول شوني کوي. ښايي له قانون څخه پیروي مونږ ډېر ښه سړی نه کړي، خو له قانون څخه سرغړونه مو بیا له خطر او ګواښ سره مخ کوي. کله چې مونږ له یوه قانون څخه سرغړونه کوو په اصل کې خپل ویاړ په خطر کې اچوو.
ارزښتونه مونږ ته د یوه آمر یا مادون او یا هم د یوه پلار او یا د یوه هېوادوال اوسېدو په توګه ګټورې او له مانا برخمنې لارښوونې لري. د یادو اساساتو له مخې مونږ یوه غوره ټولنه رامنځته کولای شو. په خپل ژوند کې هغه پوښتنه چې باید له خپل ځان څخه یې وکړو دا ده چې کوم څه سم دي چې ترسره یې کړو؟ نه دا چې څه وکړو څو د نورو پام راوګرځي. نیبر ۲۵ کاله وروسته هغه صحنه یادوله چې دی له استدیوم څخه د وتلو په حال کې و او هلته د ګټونکو نومونه اخیستل کېدل، په داسې حال کې چې دی هلته د بریالي کېدو لپاره ورغلی و. نوموړي د یادې سیالۍ په اړه بد احساس درلود، د خپل ځان او خپلې پرېکړې په اړه بیا خوښ و. د یوې لوبې بایلل هېڅکله پر ځان باندې د هغه د باور له لاسه ورکولو سره پرتله کېدای نشوای. آیا سیالي ددې لپاره وه څو معلومه شي چې هغه تر نورو چټک دی؟ آیا د ټول ژوند لپاره یو درس نه و؟ [هو همداسې ده.] که نیبر غوښتي وای کولای یې شوای چې ادعا وکړي او ځان پر حقه ثابت کړي، ځکه دا د دوهم لوبغاړ تېروتنه وه چې په وخت یې پرېکړه ونه کړه، خو د نیبر پرېکړه د ویاړ وړ وه او یو

لوی درس پکې پروت دی چې باید زده شي. ۲۵ کلونه وروسته کله چې هغه پلار شو هغه د خپلې پرېکړې اغېزه لا ډېره درک کړه، ځکه که چېرې خپله یې په یاده پېښه کې ټګي برګي او ناسمه پرېکړه کړې وای اوس به یې څرنګه کولای شول چې خپلې لور ته د رښتیني اوسېدلو درس ورکړي. څرنګه به هغه خپلې لور ته دا درس ورکاوه چې ویاړمن اوسېدل له ویاړلو ښخه غوره دي.

**ځواکمن اوسېدل**

په ښوونځي کې ډېر تکړه نه وم. د ټولګي په وروستیو څوکیو کې به کېناستلم او لومړیو څوکیو والو کسانو ته به مې مزاحمت کاوه. زه یوازینی کس وم چې کله به ښوونکی ټولګي ته دننه کېده ما ته به یې ویل چې د ټولګي کونج ته لاړ شه او هلته په یوه پښه ودرېږه. ما به تږې پوښتنه کوله، صېب! آخر زما ګناه څه ده؟ ښوونکي به ویل تر اوسه دې کومه ګناه نشته خو پوهېږم چې اوس یوه ګناه کوې.

په لسم ټولګي کې مې په آزموینه کې نقل وکړ. ناکام شوم، کله چې مور مې زما د آزموینې پایله ولیده ما تږې ښښنه وغوښته. ورته ومې ویل: "مورې ښښنه غواړم، زه په خپله تېروتنه باندې پوه شوم. خو لطفاً ما له ښوونځي څخه وباسه، نور بس دی، نه یې وایم." مور مې وویل:"نه زویه تا تېروتنه کړې او اوس یې باید وګالې." بیا مې وویل: مورې دا ډېر شرم دی چې ټول بل ټولګي ته ځي او زه به بېرته په لسم ټولګي کې کېنم. مور مې بیا وویل: "نه زویه تا تېروتنه کړې او اوس یې باید وګالې." بیا مې وویل: چې مورې زه ښښنه غواړم. ما خپل درس واخیست، چې په دې سره به زه یو کال خپل پرمختګ او ژوند له لاسه ورکړم. مور بیا وویل: "نه زویه تا تېروتنه کړې او اوس یې باید وګالې. "بیا یې زیاته کړه: "زه غوره ګڼم چې خپل یو کال وخت او

ژوند له لاسه ورکړې خو داسې نه چې په ټول ژوند کې خپل اخلاق له لاسه ورکړي." اړ شوم چې لسم ټولګی له سره ووایم. مور مې خورا اصولي او ډسیپلین منونکې ښځه وه. نن له هغه څه چې هغې وکړل خوښ او راضي یم. هغه څه چې هغې وکړل هغه مهال ما ته یو سرخوږی و خو زه نه پوهېدم چې په حقیقت کې له مینې برخمنه یوه چاره وه. ځکه هغې زه له نړۍ سره د مخ کېدو لپاره چمتو کولم. هغه پوهېده چې نړۍ به ما ته تر دې ډېر کلک او سخت ځواب راکړي. د هغې دغه خبره چې " زویه تا تېروتنه کړې او اوس یې باید بیه پرې کړې." اوس هم زما په غوږ کې خورا خوږې انګازې کوي. هغې زما ژوند ته نوی لوری وټاکه. هغه مهال یې زما زړه مات کړ خو زما ژوند یې بدل کړ. د هغه څه درس یې راکړ چې یوه ورځ به نړۍ له ما څخه د هغه آزموینه واخلي.

ما خپل ښوونځی په سمه توګه پای ته ورساوه.

**ویاړمن اوسېدل تر ویاړل کېدو غوره دي.**

**په یاد مو وي چې:**

**ګټونکي**

**متفاوت کارونه نه کوي، بلکې کارونه په متفاوته بڼه ترسره کوي**

**شیوکهرا**

# LIVING WITH HONOUR

IT IS BETTER TO BE HONOURABLE THAN TO HONOURED

*Shiv Khera*

Aksos

www.aksosbookstore.af